# ښتو لیک دود

# ورځنۍ مرکه

۲۲م ، ۲۹م دسمبر ۲۰۱۲ء

د پښتو نوې املا

(د پښتو اکېډیمۍ ، پېښور پوهنتون د باړه ګلی د

سیمینار متفقه فیصلې)

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



(د ورکشاپ کېدونوالو ته د ډائرېکټر پښتو اکېډيمي پېښور پوهنتون له اړخه هرکلے او د اکېډيمۍ د اغراض و مقاصدو په حقله لنډه وينا)

پروفېسرډاکټر محمد رسول جان صاحب **وائس چانسلر** پېښور پوهنتون ، خېبر پښتونخوا

پروفېسر ډاکټر معراج الاسلام ضيا صاحب **ډين** فېکلټي اف اسلامک اينډاورينټل سټډيز

محترمه پروفېسرډاکټرسلمٰی شاهين
د پښتو اکېډيمۍ پخوانۍ ډائرېکټر

دخېبرپښتونخوااودفاټاڅخه راغليو عالمانو، پوهانو،اديبانو او شاعرانو او د ملاکنډ پوهنتون،دباچاخان پوهنتون،د ولي خان پوهنتون، د اسلاميه کالج پوهنتون، د خېبر پښتونخوا د کالجونو څخه نمائنده استاذانو او شاګردانو،

او د مېلمه په توګه په ځانګړي ډول ډاکټر يوسف جذاب صاحب ته ، چې يو څو ورځې د مخه له جرمني څخه رافارغ شوے او په لېنګوسټېک کښې ئې د پي ايچ ډي ډګري اخيستې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښتو اکېډيمۍ په نمائندګي زۀ درته هرکلے وايم او منته موکوم چې تاسو له خپلو مصروفياتو څخه وخت اووايست او داکېډيمۍ په بلنه مو دې ګټوره مباحثه ته په خپل راتګ ښکلا او بخښله. ستاسو په راتګ سره دا خبره په ثبوت رسي چې تاسو د تل په څېر دا اداره د خپلو لوړو هيلو او سترو ارمانونو مسکن و مرکز ګڼلے دے. د پښتو ژبې او ادب هر شاعر و اديب ددې ادارې په وده او پرمختيا بې شانه خوښي محسوس کړې ده ، په هر زيان ئې دلګير او خوګير پاتې شوي. ادارې دپاره هم دا د وياړ خبره ده چې خپل تر شا ستاسو غوندې دقدر وړ مشرانو ، عالمانو او پوهانو د شفقت نظر ورته حاصل دے. دا ستاسو د مينه ناک نظر او د خلوص و شفقت اثر دے چې ددې ادارې ائنده او د روښانه سباؤن ورځ تر بله په څلا دے.

د تېر کله په شان دغه دوه ورځنۍ مرکه هم په هغه هيله رابلل شوې ده. لکه څۀ ډول چې به پخوانيو مشرانو د هم هاغه مهال د پښتو ژبې او ادب له مشرانو څخه کېدله. بايد دا خبره په ذهن کښې اوساتو چې ستاسو د مباحثې نتائج يواځې د اکېډيمۍ د دوه ورځني ورکشاپ سر ته رسېدل نۀ دي بلکې دا ستاسو په زيار د پښتو ژبې و ادب د تاريخ يو اهم پړاو او ستر باب سرته رسېدل دي. څکه مونږ تاسو ته ډاډ درکوو چې پښتو اکېډيمي ستاسو پرېکړو ته د نور کله په شان ډېر په درَنه سترګه ګوري او هم دا د يو ملي وحدت په لور د يو ګټور ګام په توګه يادګار موقع ګڼي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورسره ورسره ستاسو د غه ناسته دلته په دې خپل ادبي کور کښې د ادبي مشرانو د ناستې په معنا اخلو.

چونکې د املا او ليک دود موضوع يوه ډېره حساسه او کړکېچنه موضوع ده ،هر څوک پرې نۀ پوهېږي ځکه مونږ له ستاسو څخه هيله من يو چې تاسو به د خپل علميت ، پوهې،استعداد ، د خپلو لوړو او سپېڅليو جذباتو په اساس هر هغه څۀ چې د پښتو په ليک دود کښې ليکونکيو او لوستونکيو د پاره کَتِور وي ، راته اسان او د حل لارې به ئې په نخښه کړئ - په دې لړ کښې هر هغه څۀ چې ستاسو له پرېکړو راتېر شي ، به پښتون ملت ته دا پېغام هم ورکړي چې پښتانۀ د وحدت په فلسفه پوهېدلي او نور نۀ شي کېدلے چې څوک ئې د ځان خوښې ،اطرافو،خپل خپليو او يا د علاقائيت د برترۍ په اساس يو تر بله ځله تېرباسي -

مونږ دا نۀ وايو چې دا د پښتو اکېډيمۍ اولنۍ يا ځانګړې هڅه ده بلکې په دې لړ کښې د ۱۹۴۲ ء څخه تر کال ۱۹۹۰ ء د پښتو اکېډيمۍ د باره ګلۍ تر پرېکړو پورې هغه ټولې هڅې چې په انفرادي ،اجتماعي يا ادارتي سطح ترسره شوې دي ،د ستائنې وړ او راته د لارې مشعلونه دي.خو چونکې د وخت او حالاتو د بدلون په تلَه کښې د نن زماني د ټېکنالوجي د اړتياوو د پاره دا هم ضروري ده چې ولې دې مونږ د دې خپلو مشرانو ، عالمانو او ژبپوهانو د نويو تجربو څخه بې برخې پاتې شو -

ستاسو راغوښتلو او مشاورت څخه زمونږ غرض دا نۀ دے چې مونږ د تېرو پرېکړو په باب يو څۀ ابهام خوروو يا يو چا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته دا موقع ورکوو چې هغه دې د پښتو اکېډېمۍ له پلېټ فارم څخه خپل ناوللي عزائم د پښتو او يا د خپلو مخالفينو په خلاف استعمال کړي ، بلکې زمونږ واضح مؤقف دے چې د پښتو ژبې هر ليکوال د پښتو ژبې او ادب د رواياتو په څېر د پښتونوالۍ د رواېتو څخه هغومره خبر دے څومره چې هغه د ادب د کليمې په معنا او مفهوم پوهه دےځکه مونږ دا نۀ محسوسوو چې ستاسو په شان لوے او د قدر وړ عالمانو ته په دې ضمن کښې د مباحثې دود دستور په معنا د ادابو يوه ايستلې کرښه په نخښه کړو ـ البته په دې پوهېږو چې زمونږ او ستاسو له يو بل سره وړومبے تعلق د يوې ژبې دے . پس له دې د رنګ و نسل ، تاريخ و ثقافت او د يوې شريکې جغرافيې ـ که چېرې مونږ او تاسې دغه د پښتني اقدارو تعلق يو بل سره ټينګ نۀ ساتو، نو هسې اولسونه او قومونه خو خورا نور هم ډېر دي ـ

دغه مرکه ،چې يوائې د خبېر پښتونخوا او فاټا په پوهانو او عالمانو مشتمله ده،ځکه مو په دې ډول محدوده کړې ده چې اول دلته په دې صوبه کښې سره کښېنو او د ليک دود او املا په ځينو مسائلو يو بل قانع او قائل کړو، بيا په دويم پړاو کښې د ټول پښتون ملت په سطح يوه لويه جرګه يا مرکه د رابللو هڅه اوکړو- هلته به هغه پرېکړې چې تاسو وربانديې يوه مثبته فېصله ورکړې وي ، ټولو ته عام کړے شي ـ هغه مسائل چې لا زيات بحث ته اړتيا لري، د هغو په اختيارولو به تر هغه ټينګار نۀ کوو څو چې په لويه مرکه کښې نۀ وي حل کړي شوي - دې سره به يوه خوا افهام و تفهيم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته لاره پیدا شي ، بل راتلونکي وخت کښې به اختلافي اهداف راته واضح شي ځکه په دې موقع د کابل او یا د کوئټې او قندهار د اختلافي لیک دود خبره زیاته په تکرار سره نهٔ کوو ځکه چې د دغو سیمو مشران ، پوهان او عالمان له مونږ سره په دې مجلس کښې نهٔ دي شریک - په دې اساس هر څهٔ چې دلته بحث کېږي د هغې دائره کار به د پښتونخوا د صوبې د ننه او ورسره تش په نامه قبائیلي علاقو کښې استعمال او اطلاق پورې محدود وي خو د دې دا معنا هم نهٔ ده چې مونږ له کابل ،کوئټې یا قندهار څخه په لیک دود کښې ځانته بېله لار باسو ، نا داسې نهٔ ده - زمونږ د دې مرکې اهم هدف هم دا دے چې اول په هغو نیمګړتیاوځان پوهه کړو چې رفع کول ئې انتهائي ضروري دي - پس له هغې به وړاندې تګ وي - د دې مرکې اهم مقصد دا هم دے چې د وحدت یعني د یو واحد ملت د یوې واحدې ژبې منل شوي لیک دود اختیارولو د پاره د اجتماعي شعور څخه کار اخیستل دي ،ځکه چې بې د اجتماعي سوچ و فکر دا ناشونې ده.

د پښتونخوا د سیمې جغرافیائي او اقتصادي اهمیت په اړه ډېر څهٔ نهٔ وایم ځکه چې تاسو ټول تر مونږ زیات وربانددې خبر یئ چې دغه منطقه نهٔ یواځې په اوسنیو وختونو کښې بلکې له پېړیو راهیسې یو تاریخي حیثیت لري،ولې نن چې څهٔ ډول حالات مخې ته دي د هغو په تل کښې یو څهٔ داسې اشارې لیدلې شي، بویاچې راتلونکے سهار به د تېر کله په شان نهٔ وي بلکې لاروښانه اودرخشانه به وي - خوحالات اوبدلون ادراکول دهر چا د فهم او پوهې کار نهٔ دے بلکې دې د پاره د

(c) ketabton.com: The Digital Library



عالمانو او پوهانو د نظر ضرورت وي . ځکه له تاسو څخه هیله کېږي چې د یو منلي او کره لیک دود په خاطر له خپلو شخصي ، ګوندي ، مسلکي او علاقائي ګوټ پېرونو رابهر شئ او د یو واحد لیک دود اختیارولو په لړکښې د خپل قوم د روښانه ائنده په خاطر تاریخي فیصلې صادرې کړئ .

په اخر کښې یو څو خبرې چې مونږ ئې نه یوائې د اکېډیمۍ په چارو کښې بلکې د اکېډیمۍ نه پرته د پښتو ژبې و ادب د فعالیتونو په حواله محسوسوو او یا مو محسوس کړي دي ، درسره شریکوو . هغه دا چې دا هر څۀ چې تاسو ئې په دې اکېډیمۍ کښې وینئ ، ګورئ ، باید د دې محرک درته معلوم وي . چونکې نن تاسو لوے مشران ، لیکوالان ، عالمان او پوهان یو ځاے شوي یئ ، ځکه درته مخامخ وایم او بې د څۀ ډار ، غرض او لالچ وایم چې زمونږ لوړ رتبه چارواکي دي د خپل قوم د تعلیم و صحت او د خپلې ژبې د روښانه سباؤن غمخوار شي . که دوي په زړۀ او قومي جذبه داسې اوکړي نو په هم هغه ورځ اوپوهېږئ چې پښتو ملت د پخوا په څېر یو ځل بیا د جهان د سیالو سیال او ژبه ئې هم هغه د وېدا ، اوستا او سنسکریت په شان مثالي شي . په دې لړ کښې زۀ د محترم پروفیسر ډاکټر محمد رسول جان صاحب انتهائي مننداوي یم ، چې د لا مخکښې تلو د پاره ئې مونږ ته لاربنود نه کړې ده . الله دې د دۀ قدر او عزت تر دې هم لا زیات سوا کړي . امین

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېرو قدرمنو ، د توجو راکولو مو یو جهان مننه . ستاسو د تېرلو برخه والو یو ځل بیا بې کچه مننه کوم چې په دې تاریخي مرکه کښې مو راسره برخه واخیسته او د پښتو اکېډیمۍ تاریخي حېثیت ، مقام او نښان مو لوړ اوساتلو . الله دې ستاسو قدر او درجات یو په څو چنده در زیات او بلند کړي . امین او مننه

پرفیسر ډاکټر نصرالله جان وزیر
ډائریکټر ، پښتو اکېډیمي پېښور پوهنتون
۲۹ دسمبر ۲۰۱۲ء

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بلنلیک

قدرمن/ قدرمنې

..............................................

پښتو اکېډیمي، پېښور پوهنتون د خپل علمي او ادبي دودسره سم د پښتو ژبې و ادب د ودې او پرمختیا د هلو ځلو په بهیر کښې دا اراده لري چې د پښتو لیک دود د یو والي (وحدت) په لور بره تګ دپاره ژبپوهان او عالمان سره جرګه کړي۔ په دې خاطر پښتو اکېډیمي د پښتو ژبپوهانو او عالمانو یوه دوه ورځنۍ مرکه د رابللو تابیا کړې ده چې په دې مرکه کښې به د پښتو ژور فکره ژبپوهان، عالمان او څېړونکي د پښتو ژبې په الفبا، لیک دود او هم د املا په مسائلو بحثونه کوي ۔ددې ورکشاپ (مرکې) مشر مېلمه به د پېښور پوهنتون وائس چانسلر پروفېسر ډاکټر محمدرسول جان صاحب وي۔

ستاسو ګډون به زمونږ دپاره د ډاډ او ویاړ سبب وي.

نېټه: ............ ۲۸-۲۹ دسمبر۲۰۱۶ءورځ:شورو او زیارت

وخت: ............ له ګهیځ (سحار)(۹.۳۰) نه تر وروستي وخته پورې

ځای: ............ د پښتو اکېډیمۍ لائبریري

رابطه : ............ پروفېسر ډاکټر نصرالله جان وزیر، ډائرېکټر پښتو اکېډیمي:

۰۳۳۳۹۷۲۹۷۱۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



# هدف و غایت

پښتواکېډیمي یو ځل بیا د پښتو لیک دود په لړ کښې خپلو دانشورانو او ژبپوهانو ته موقع ورکوي چې د لیک دود په حقله دې د نوې ژبپوهنې په رڼا کښې د لیک دود د ستونځو په حقله خپلې مشورې راشریکې کړي -

نن سبا چې د پښتو د لیک دود په لړ کښې یو څۀ ستونځې مخې ته راځي باید چې زمونږ ژبپوهان او د ژبې دانشوران په دغه یوه صلاح شي او مستحکم صورت ورکړي-

په دغه مرکه کښې به د خیبر پښتونخوا او د قبائیلي سیمې ( فاټا ) نه راغلي پوهان ګډون کوي ، دغه فیصلې به ټولو پښتنو، دانشورانو ، پوهانو او ژبپوهانو ، پوهنتونونو ، کالجونو ، سکولونو ، پرنټ او الیکټرانک میډیا ته رسولې شي-

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ګډون

په مرکه کښې برخه اخیستونکي به هغه پوهان ، نقادان ، عالمان او فاضلان وي چې په ژبپوهنه کښې مهارت لري ، د ژبې او ادب په مېدان کښې ښهٔ پوهه لري او یا په رسم الخط او املا کښې ئې پوهه منلې شوې وي ـ ورسره به هغه محققین هم وي چې په ژبپوهنه یا نورو ادبي چارو کښې ئې نوم په ملي سطح منلے شوے او استعداد پېدا کړے وي ـ دې نه علاوه د پوهنتونونو هغه نمائنده استاذان چېرته چې پښتو ته د لامخکښې تلو لارې پېدا کېدو امکانات زیات وي هم برخه اخیستو ته رابللې شي ـ

ددې مرکې ټوله کاروائي به ریکارډ کولے شي او یوې مثبتې نتیجې ته د رسېدو وروستو به اولس ته د هغو د مشتهر کولو بندوبست کولے شي ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پروګرام

## ۲۸م دسمبر ۲۰۱۲ء سحر ۹ بجې

۱. د غونډې باقاعده پرانسته
۲. د ډائرېکټر پښتو اکېډيمي ، هر کلي نامه
۳. د وائس چانسلر خطاب

ورومبۍ ناسته : يوولس بجې = ۲۸ م دسمبر ۲۰۱۲ء

۱. د ډائرېکټر پښتو اکېډيمي له خوا پرېزنټېشن

۲. مباحثه (د غړو نظر)

### دوېمه ورځ

**ورومبۍ ناسته : سحر نهه بجې = ۲۹ م دسمبر ۲۰۱۶ء**

۱. په مباحثه کښې پاتې نقطې څېړل : دولسو بجو پورې
۲. متفقه فېصلې مخې ته راوړل : يوې بجې پورې

**دوېمه ناسته : ۲ بجې ۲۹م دسمبر ۲۰۱۶ء**

قرار دادونه

اختتامي دعا

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د الفبا په ترتیب د راغلیو مېلمنو او کوربنو نومونه

| نمبر | نوم | رابطه نمبر | دستخط | ممبر اعزازي |
|---|---|---|---|---|
| ۱. | پروفیسر ډاکټر نصرالله جان وزیر | 03339728715 | | کنوینر |
| ۲. | اسماعیل ګوهر | 03459624256 | | ممبر |
| ۳. | امجد ناصر | 03335599959 | | // |
| ٤. | پروفیسر داور خان داؤد | 03338232648 | | // |
| ٥. | پروفیسر ډاکټر روح الله | 03018913961 | | اعزازي |
| ٦. | پروفیسر ډاکټر سلمی شاهین | 03339124378 | | ممبر |
| ۷. | پروفیسر فضل نصیر اسیر | 03339117626 | | // |
| ۸. | پروفیسر قاسم محمود | 03339095309 | | // |
| ۹. | پروفیسر هدایت الله | 03339199349 | | // |
| ۱۰. | ډاکټر اباسین یوسفزے | 03005957899 | | // |
| ۱۱. | ډاکټر احمد علي عاجز | 03015963864 | | اعزازي |
| ۱۲. | ډاکټر اسرار | 0937863991 | | ممبر |
| ۱۳. | ډاکټر اسلم تاثیر | 03000927234 | | // |
| ۱٤. | ډاکټر بشرئ خاتون | 03329409634 | | اعزازي |
| ۱٥. | ډاکټر پرویز مهجور | 03349169582 | | ممبر |
| ۱٦. | ډاکټر جاوید خلیل | 03005938122 | | // |
| ۱۷. | ډاکټر جاوید اقبال | 03323095327 | | اعزازي |
| ۱۸. | ډاکټر حنیف خلیل | 03315462178 | | ممبر |
| ۱۹. | ډاکټر خالد خان خټک | 03329779537 | | // |
| ۲۰. | ډاکټر محمد زبیر حسرت | 03459309207 | | // |
| ۲۱. | ډاکټر سلیم جاوید | | | // |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ٢٢. | ډاکټر سهیل انشا | 03339125641 | | // |
| ٢٣. | ډاکټر سهیل خان | 03339133832 | | // |
| ٢٤. | ډاکټر شکیل احمد | 03429120800 | | اعزازي |
| ٢٥. | ډاکټرشېرزمان سیماب | 03438982289 | | // |
| ٢٦. | ډاکټر ظفرالله بخشالي | 03028333625 | | ممبر |
| ٢٧. | ډاکټر علي خېل درياب | 03349321761 | | ممبر |
| ٢٨. | ډاکټر فخرالاسلام | 03329080645 | | اعزازي |
| ٢٩. | ډاکټر فرخنده لياقت | 03331919306 | | // |
| ٣٠. | ډاکټر محب وزير | 03332198450 | | ممبر |
| ٣١. | ډاکټرمحمداقبال نسیم ختټک | 0915850749 | | // |
| ٣٢. | ډاکټر معراج الاسلام | | | اعزازي |
| ٣٣. | ډاکټر مظهر | 03455148417 | | // |
| ٣٤. | ډاکټر نګینه خانم | 03469222113 | | // |
| ٣٥. | ډاکټر نور محمد دانش | 03459857458 | | // |
| ٣٦. | ډاکټرنیاز محمدعاجز | 03339347814 | | ممبر |
| ٣٧. | ډاکټر همایون هما | 03009840334 | | // |
| ٣٨. | ډاکټريارمحمدمغموم ختټک | 0915813457 | | // |
| ٣٩. | ډاکټريوسف خان جذاب | 03459794170 | | // |
| ٤٠. | رحمت شاه سائل | 03458196346 | | // |
| ٤١. | سلیم بنګش | 03329002802 | | // |
| ٤٢. | ډاکټر عمر عثمانمروت | 03349087752 | | // |
| ٤٣. | م.ر.شفق | 03085170749 | | // |
| ٤٤. | محترم همېش خلیل | 03219338323 | | // |
| ٤٥. | مشتاق مجروح | 03339302475 | | // |
| ٤٦. | نادر خان علیل | 03459773475 | | // |
| ٤٧. | ارشاد خان (کمپوزر) | 03105926636 | | |
| ٤٨. | محمدعارف جاوېد خلیل | 03169802080 | | معاون |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# وړومبی ورځ

## ۲۸م دسمبر ۲۰۱۶ء

پښتو اکېډېمي چې د کال **۱۹۵۵**ء څخه را په دې خوا د پېښور یونیورسټۍ تر سیوري لاندې د پښتو ژبې، ادب، تاریخ، ثقافت، ژباړې، ګرائمر، پښتو ژبه (پښتو ډکشنري)، د ماشومانو ادب، د نړۍ د نورو ژبو سره ارتباط او یو لړ داسې نورو کارونو په حقله چې کوم څېړنیز کار پیل کړے وۀ، هغه د دغو ټاکل شویو اهدافو د لاس ته راوړلو په تکل تاند روان دے۔ پښتو اکېډېمۍ د تحقیق، تنقید، ژباړې او تخلیق په لړ کښې ډېر ګټور او مثبت خدمات مخې ته راوړي دي۔

د پښتو اکېډېمۍ له ګټورو زیارونو څخه یو لړ هغه خدمات چې د پښتو ژبې او ادب له مینه والو سره ئې په شریکه کړي دي، هغو کښې د سیمینارونو، کانفرنسونو، د علمي او ادبي غونډو اهتمام او د کابل د علومو اکېډېمي او د سندهـ د سندهیالوجي سره په رابطه کښې اوسېدل او د ژبو او ادبیاتو په ډګر کښې د هغوي د فعالیتونو او څېړنو څخه ئې استفاده تر لاسه کړې ده۔ خو د پښتو اکېډېمۍ په لوړو خدماتو کښې چې څۀ په ځانګړي ډول یاد ېدلے شي، هغه د پښتو اکېډېمۍ پښتو لغات راغونډول، د پښتنو فولکلور راټولول او د یو منلي لیک دود دپاره نۀ یواځې په کوزه پښتونخوا کښې بلکې د کابل د عالمانو سره علمي جرګې کول شامل دي۔ که څۀ هم د پښتو اکېډېمۍ هر یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



فعالیت په خپل ځای یو ستر مقام لري مګر دغه درې برخې ئې بیا زرین او زر زري باب ګڼلی شي.

د پښتوژبې د ودې او پرمختیا په چارو کښې یا په پښتو لیک دود کښې وحدت راوستلو او په دې لړ کښې د راپورته شویو او یا وخت په وخت راپورته کېدونکیو مسائلو حل ، د پښتو ژبې و ادب د پوهانو په صلاح او مشوره را وړاندې کړے شي .تر دا دمه د پښتو د لیک دود او د پښتو اِملائي مسائلو په حقله د پښتنو عالمانو او پوهانو څۀ اووۀ مرکې جوړې شوې دي چې د هغو څخه ځینې ناستې کابل کښې او ځینې په کوزه پښتونخوا کښې د پښتو اکېډیمۍ په مېلمستیا او اهتمام شوې دي «د لازیاتو معلوماتو له پاره اوګورئ د ګل باچا الفت : «لیکوالي املا او انشا» .په دې لړ کښې چې هر څومره ناستې شوې دي ، په هغو کښې د پښتو ژبې د لیک دود او یا د اِملا د ځینو تېروتنو د له منځه وړلو او د سم دود د رواجولو په خاطر ډېرې ګټورې او مثبتې پرېکړې ثبت شوې دي. چې اوس هر دوه اړخ ته په لیک کښې په کار راوستے شي .د پښتو لیک دود په حقله وړومبۍ غونډه کال ۱۹۴۲ء کښې په کابل کښې او اووۀ مه غونډه ئې کال ۱۹۹۰ء کښې د پښتو اکېډیمي پېښور پوهنتون په اهتمام د پوهنتون د مني کېمپ یعني باړه ګلۍ کښې شوې ده .دې یاد غونډې ته د خېبر پښتونخوا ، د پاکستان د قبائیلي علاقو یعني فاټا ، د جنوبي پښتونخوا یعني د کوئټې څخه د پښتو ژبې او ادب مشران او د افغانستان څخه د قدر وړ مشران ، عالمان ، ادیبان او شاعران راغوښتلي شوي وو .دا یاده غونډه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي لحاظ يوه ډېره تاريخي او مهمه غونډه وه ، چې په دې کښې تول ګډون وال ، پوهان او عالمان په يو معياري ليک دود متفق شول . د دغه مشرانو او عالمانو پرېکړو يا فيصلو ته د پښتو ژبې او ادب په تاريخ کښې او په ځانګړي ډول د ليک دود د پرېکړو په لړکښې د پښتو اکېډيمۍ د باره ګللې پرېکړې وئيلې شي . په رښتيا چې دا د پښتو ژبې و ادب سره د هغو مشرانو د مينې ، خواخوږۍ ، خواريو او هلو ځلو برکت وه چې په پښتو ليک دود کښې ئې وحدت راوستو او د پښتو ائنده ئې له انتشار څخه اوژغورلو . په دې لحاظ دا يوه تاريخي او مهمه فيصله بلله شي . په دې اساس د پښتو د وحدت په ډګر کښې دا ډېره مهمه او د وياړ خبره ده چې نن سبا په پښتو کښې څومره هم کتابونه چاپ کېږي هغه ددې يادې جرګې د پرېکړو سره سم چاپېږي . يعنې اوس مهال د درس و تدريس تر کتابونو سره عام کتابونه ، مجلې او هم ورځپاڼې د دې ليک دود تحت ليکلې شي . خو هغه عوامل چې ددې غونډې يا مرکې د رابللو سبب شوي ، له هغو څخه د ځينو ليکوالو شخصي او د ځينو ادارو خپل سري تېروتنو په مقابل کښې اړتيا پيدا شوه ، چې هغو ته د دغه معياري ليک دود پرېکړې وراورسولې شي ، يا ورته واضح کړې شي ، په دې خاطر دا غونډه رابلل شوې ده . دويمه مهمه خبره دا وه چې د وخت په تېرېدو ځينې نوي مسائل هم پيدا شوي وو ، چې هغو ته د پښتو مشرانو او پوهانو خپل تر مېنځه صلاح کېدل اړين شوي وو . ځکه دلته دا وئيل به بې ځايه نه وي چې د پښتو د وحدت په حقله څومره چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



باړه ګلۍ د سیمینار پربکړې تولو پښتنو د پاره د ویاړ او ارزښت وړ او ګرځېدې ، په هم هغه دود دلته یو وار بیا دا هڅه کېږي چې د پښتو لیک دود د فېصله کړې شویو پرېکړو د بیا تامینولو تائید او نویو مسائلو ته د یو ممکن حل را ایستلو د پاره د مشرانو جرګې ته متوجه کړي۔

لکه د وړاندې اووئیل شول چې د پښتو اکېډیمۍ د باړه ګلۍ سیمینار په کال ۱۹۹۰ء کښې د پېښور پوهنتون تحت شوے وۀ، د هغه وخت نه را په دېخوا اوس هر یو کتاب په هم دې لیک دود کښې چاپ کېږي ۔پرته د دې اوس لیکوالان ، کاتبان ، کمپوززان او هم شاګردان ورسره تر ډېره حده بلد شوي دي ۔چې له کبله ئې اوس پښتو لیک په اسانه د کمپیوټر ژبه ګرځېدلې ده ۔تر دې چې پښتو اوس د ګوګل ټرانسلېټر د ژبو په قطار کښې هم ورګډه شوې ده ۔دا نۀ یواځې د پښتو د معیاري لیک دود د پراختیا یو ښۀ مَرغ دے بلکې په خپله د پښتو ژبې د روښانه سباؤن په لار کښې یو ښۀ ګام دے۔

کال ۲۰۱۲ء د دسمبر په اتویشتمه او نهه ویشتمه نېټه پښتو اکېډیمۍ یو ځل بیا د پښتو لیک دود او املا د ځینو مسائلو له مېنځه وړلو په لړ کښې د دوه ورځني سیمینار تابیا اوکړه ، چې تر پنځوس پورې لیکوالو ، ادیبانو ، پوهانو ، ژبپوهانو ، د پوهنتونونو استادانو او یو لړ محصلینو ته په کښې د برخه اخیستو بلنه ورکړې شوه ۔ددې غونډې مقصد دا وۀ چې د پښتو اکېډیمۍ د باړه ګلۍ د املا په حقله یو ځل بیا د ژبپوهانو ، شاعرانو او ادیبانو تائید واخیستۀ

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي - بل يو څه ستونځې داسې محسوسېدې چې هغه د ځينو ليکوالو له خوا په شعوري يا په لاشعوري توګه تکرارول کېدې ځکه اکېډيمۍ دا اړينه اوګڼله چې د خپلو عالمانو ، ژبپوهانو او مشرانو يوه داسې مرکه جوړه کړي چې په هغې کښې دې خپلو مشرانو او عالمانو ته دغه مسائل مخې ته کښېږدي او د هغوي څخه رايې او نظر پرې واخلي -

غونډه د پښتواکېډيمۍ په کتابتون کښې راجوړه شوې وه - د خيبر پښتونخوا او د فاټا يعني خيبر پښتونخوا ته جوختې قبائيلي علاقو څخه راغونډ شويو ليکوالانو او پوهانو ته د ناستې دپاره معقول انتظام شوے وۀ - ساؤنډ سسټم او ويډيو ريکارډنګ سره د فوټو ګرافۍ بندوبست هم شوے وۀ - ټولو قدرمنو مېلمنو ته ډېر په قدر او عزت او په پښتنه مينه د پښتو اکېډيمۍ اهلکارو او غړيو هر کلے او د مېلمه پالنې د اقدارو سره سم پېرزوئنه او ښه راغلے اووې -

اتويشتم دسمبر کال ۲۰۱۲ء سحر لس بجې څو منټه د پاسه دغونډې يا ورکشاپ رسمي پرېکړه تامين شوه - د وړومبۍ ناستې مشري د پېښور پوهنتون د شرقي علومو ډين محترم پوهاند ډاکټر معراج الاسلام ضياء صاحب تر مشرۍ لاندې پيل شوه ډاکټر نياز محمد عاجز د قرآن عظيم الشان د يو څو آيتونو د تلاوت کولو نه وروسته ، د پښتو اکېډيمي ډائريکټر پروفېسر ډاکټر نصرالله جان وزير ټولو مېلمنو ته هر کلے اووئيلو او د روان ورکشاپ حاضرينو ته ئې د پښتو اکېډيمۍ اغراض او مقاصد او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې د بېلا بېلو څانګو په حواله لنډه شان پېژندګلي څه دا شان وړاندې کړه.

پښتو اکېډيمي يوه علمي ، تحقيقي او اشاعتي اداره ده ، چې په کال ۱۹۵۵ء کښې جوړه شوې او د پېښور يونيورستۍ يوه مهمه برخه ده.

**د اکېډيمۍ څانګې :**

۱. تحقيق، تاليف و طباعت.
۲. ژباړه
۳. لغت سازي
۴. فولکلور
۵. تاريخ و ثقافت

**تدريسي امور:-**

۱. ايم فل
۲. ايم فل ليډنګ ټو پي ايچ ډي
۳. پي ايچ ډي

**شاګردان :-**

۱. پښتو اکېډيمي د ايم فل او پي ايچ ډي په ضمن کښې تر اوسه ۱۰ شاګردان فارغ کړي او تر ۷۲ پورې شاګردان رجسټرډ دي -

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مقاصد :-**

ددې ادارې له اهدافو څخه یو څو مهم اهداف په دې لاندې ډول د

۱. پښتو ژبه او په پښتون اولس کښې چې کوم ادبي ، علم
فني صلاحیتونه موجود دي هغه په کار راوستل-
۲. د پښتو ژبې یوه ارزښتناکه ډکشنري ترتیبول-
۳. د یوې داسې معیاري کتابتون (لائبرېري) قیام ، چې په
کښې پښتو ژبه و ادب ، تاریخ و ثقافت ، تهذیب و تمد
نړۍ د نورو قومونو د ژبو او ادبیاتو په حقله څېړنکارا
اسانتیاوې موجودې وي-
۴. د مختلفو قلمي نسخو او د تحقیقي مواد و اشاعت بندو
کول - او داسې نور

**کتابتون ( لائبرېري ) :-**

۱. موجوده لائبرېري : یو مېن هال ، یو افس او دوه بغل
( سائیډ روم) چې د مخطوطاتو دپاره مخصوصې دي-
۲. په دې لائبرېرۍ کښې د شاګردانو او څېړنکارانو دپاره
ځلور ځلوېښت زره کتابونه موجود دي-
۳. دې نه علاوه څوارلس سوه ځلور پنځوس قیمتي او نایابې
نسخې هم موجودې دي- چې ځینې چاپ او ځینې ناچاپ د
۴. دېلائبرېرۍ نه روزانه تقریباً د دېرشو نه پنځوسو پورې
او غیر ملکي طالبعلمان ، محققین ، شاعران او ادیبان د
بېلو علمي او ادبي کتابونو نه استفاده کوي-

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د لائبرېرۍ ستونځې :-**

۱. د ځـاے د کمتیـا د وجـې شـاګردانو او محققینـو تـه مشکلات

۲. د جدیدو سهولتونو فقدان۔

۳. ملکي او غېر ملکي محققینو ته د تحقیق په دوران کښې د استوګنې مشکلات۔

۴. مخطوطات ډېر په ناسمه طریقه سره دلته کښېښودل شوي دي۔ چې له کبله ئې د زیان او یا د خرابېدو خطر دے۔

**اشاعت :-**

۱. پښـتو اکېډیمي لـه شـروع نـه تـر دا دمـه تقریباً اووۀ سـوه شپږ پنځوس (۷۵۶) کتابونه په مختلفو موضوعاتو چاپ کړي دي۔

۲. پښتو ژبه (پښتو ډکشنري) چې په پنځلس جلدونو مشـتمله ده۔ دیارلس جلدونه ئې چاپ او دوه ئې چاپ ته تیار پراتۀ دي ۔ خو د دې پـه ځـاے اداره اوس پـه دې کـار بوختـه ده چـې دغـه ټول پینځلس واړه جلدونه دې په هم یو جلد کښې په سافټ او هارډ شکل کښې خپور کړے شي ۔پـه دې کـار روان دے ، انشـاءالله چې ډېر زر به دا پروژه عملي شي۔

۳. پښـتو اکېډیمي یـوه "شـپږ میاشـتینۍ" پښـتو / انګریـزي تحقیقـي مجلـه خـوروي ۔چـې د هائرا یجوکېشـن کمیشـن اسـلام اباد له خوا باقاعده منظوره ده۔

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ستونځې :-**

۱. د مالي ستونځو له کبله د اداري اشاعتي امور د ځنډ ښکار دي
۲. په اداره کښې د ټېکنيکل سټاف د کمښت ، د کمپيوټري چارو د ماهر نيشتوالے او د فېکلټيي د کمي د وجې ، په ډېرو امورو کښې مشکلات لرو -
۳. تقريباً ۲۰۰ قلمي نسخې چاپ ته اړتيا لري ، تر لسو پورې مختلف ريسرچ پراجېکټونه اشاعت ته تيار دي -
۴. لږ تر لږه د پرشو پورې نوي ، ري پرنټ ، ډکشنرۍ ، ريسرچ پراجېکټ او يو لړ د ژباړې کتابونه چاپ ته اماده دي -

**قلمي نسخې :-**

۱. پښتو اکېډيمي څوارلس سوه درې پنځوس انتهائي نايابې او قيمتي قلمي نسخې لري -
۲. په دې کښې ۳۶۲ نسخې ډيجټلائز شوې دي -او د ۱۰۷۷ نسخو ډيجټلائزېشن کول دي - په دې پراجېکټ به ډېر زر کار روان شي - منظوري ئې شوې ده -
۳. د قلمي نسخو د خوندي کولو بندوبست - د ټولو قلمي نسخو د ډيجيټلائزېشن پروژه هم منظوره ده -ډېر زر به دغه ټولې نسخې ډيجيټلائز شي -

**د وړومبۍ ناستې پېل** : د پښتو اکېډيمۍ ډائريکټر پروفېسر ډاکټر نصرالله جان وزير د وېنا نه وروسته ، د وړومبۍ ناستې مشر مېلمه محترم پروفېسر ډاکټر معراج الاسلام ضياء صاحب ته د دې غونډې په اړه د وېنا کولو بلنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکړې شوه ، دوي اووئيل چېدا ډېره د خوشحالۍ خبره ده چې پښتو اکېډيمي يو ځل بيا د پښتو ليک دود او د املا د ځينو تېروتنو مخ نيوي په لړ کښې د پښتو ژبې عالمانو ، پوهانو ، اديبانو ، شاعرانو او عام زده کونکيو ته داسې مواقع پېدا کوي ، دوي زياته کړه چې داسې غونډې د ژبې په وده او پر مختيا کښې ډېر ستر کردار ادا کوي - د لويو قومونو مطالعه چې اوکړے شي هلته د هرې قبيلې ځان له لهجه يا لهجوي دودونه وي - په دې لړ کښې ډين صاحب د عالم اسلام ، يورپ او ځينو نورو ملکونو د ژبو او لهجو مثالونه هم ورکړل - دوي زياته کړه چې د دې هر څۀ باوجود دهغوي يوه معياري لهجه او يو مشترک ليک دود وي ، چې د هغې په اساس د هغوي د ژبې مرکزيت او وحدت قائم وي -

د ډين صاحب د خبرو نه وروسته ، د بحث مباحثې تر مخه د پښتو اکېډيمي ډائريکټر د خېرالبيان د دريم چاپ نسخه ډين صاحب ته ډالۍ کړه - او له ډين صاحب نه ئې اوغوښتل چې د پښتو اکېډيمۍ د دفتري چارو په ضمن کښې ستر خدمات ترسره کونکي سپرنټنډنټ ښاغلي فضل ګل ثاني ته د "وي سي" صاحب د پاره نومول شوے شيلډ په خپلو لاسو ورکړي - دې سره ورومبنۍ ناسته سر ته اورسېده او د چائيو مهال شولو -

د چائيو د دمې نه وروسته دوېمه ناسته شروع شوه - په سر کښې د الف با په چارټ خبرې شروع شوې -

دملتي ميډيا په ذريعه د الف با چارټ اوښودلے شو - د چارټ ترتيب په دې ډول دے -

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پښتو الفبا

(د پښتو منلي شوي حروف غونډ ۴۴ دي)

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ا | ب | پ | ت | ټ | ث | ج | ځ |
| چ | څ | ح | خ | د | ډ | ذ | ر |
| ړ | ز | ژ | ږ | س | ش | ښ | ص |
| ض | ط | ظ | ع | غ | ف | ق | ک |
| ګ | ل | م | ن | ڼ | و | ه/هـ | ي |
| ې | ۍ | ئ | ے | | | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پښتو الفبا

(په ترتيب د نومونو)

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ا<br>الف | ب<br>بې | پ<br>پې | ت<br>تې | ټ<br>ټې | ث<br>ثې | ج<br>جيم | څ<br>څيم |
| چ<br>چې | ځ<br>ځې | ح<br>حې | خ<br>خې | د<br>دال | ډ<br>ډال | ذ<br>ذال | ر<br>رې |
| ړ<br>ړې | ز<br>زې | ژ<br>ژې | ږ<br>ږې | س<br>سين | ش<br>شين | ښ<br>ښين | ص<br>صاد |
| ض<br>ضاد | ط<br>طې | ظ<br>ظې | ع<br>عين | غ<br>غين | ف<br>فې | ق<br>قاف | ک<br>کاف |
| ګ<br>ګاف | ل<br>لام | م<br>ميم | ن<br>نون | ڼ<br>نوڼ | و<br>واو | ه/هـ<br>هې | ي<br>معروفه<br>يې |
| ې<br>مخصوصه<br>يې | ۍ<br>تانيث<br>يې | ئ<br>امر<br>يې | ے<br>مجهوله<br>ے | | | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



د چارټ ښودلو وروسته ، د دې د الفبا په ترتیب ډاکټر اباسین یوسفزي د بحث اغاز اوکړو ، دوي اووې چې د حروف تهجي په دې ترتیب کښې د ج ، ځ او چ په ځاے ترتیب داسې په کار دے چې ج ، ځ او څ او داسې بیا چ ، ح او خ . خو د دې په رد کښې محترم همېش خلیل صاحب اووئیل چې نا دا پخوانے ترتیب په خپل ځاے سم دے . ښاغلي پروفېسر ډاکټر یار محمد مغموم خټک صاحب هم د همېش خلیل صاحب خبره تائید کړه او وې وئیل چې څنګه دا چارټ ترتیب شوے هم دغسې ټیک دے .

د پښتو اکېډیمۍ پخوانۍ ډائرېکټر محترمه ډاکټر سلمیٰ شاهین ډېر په وضاحت سره په دې خبرې اوکړې او په اخر کښې ئې ډېر په جامع انداز سره اووې چې دا فېصله شوې خبرې دي . څۀ چې یو ځل منل شوي او اتفاق ورباندې شوے ځکه د هغو بیا راسپړدل نۀ دي په کار . دې سره به دا شوې فېصلې بیا متنازعه شي . هغې اووې چې په پښتو کښې هسې هم خلقو ته مشکلات دي او نۀ د سرکار له خوا ورته دومره توجه شته . خو مونږ له په کار دي چې د چا انفرادي فېصلو پسې لاړ نۀ شو . هغې زیاته کړه چې په انټرنېټ او هم په ادبي دنیا کښې دا ترتیب موجود دے .

ډاکټر نصرالله جان وزیر د (ځ) په حقله د ډاکټر اباسین د خبرې په ځواب کښې اووئیل چې د (ځ) د توري غږ په اصل کښې "ځې" دے چې د پښتونخوا په جنوبي علاقو کښې ئې تلفظ ډېر واضح دے او ښخې په سمه توګه ئې ادائیګي کېږي ، لکه ځۀ ، ځوک ، څنګه ، ځۀ او ځېنې نور . د حرف (ځ) "ځې" په دې صوت ادائیګي کښې د دې علاقې خلق یعنې د جنوبي علاقو خلق کوم مشکل نۀ لري . چونکې دا مسئله د پښتونخوا په شمالي سیمو کښې ده ، چېرته چې د ث ، س او څ غږونو په ادائیګي کښې دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلقو ته مشکلات دي ـ ځکه د ځينو اشاعتي ادارو له خوا يا د ځينو ليکوالو له خوا دا په خپلواکه توګه (ځيم) ياد شوے ـ خو په حقيقت کښې د دې جوړې او غږ (چ) سره ده ، نۀ چې د ج او ځ سره ـ

په چارټ کښې موجود د بېلا بېلو توريو په اړه د پوهانو او استاذانو سوالونه راپورته کېدل شروع شول ، په دې لړ کښې ډاکټر نياز محمد عاجزاووئيل چې د '' ئې '' مسئله هم په کار ده چې يوه '' ئې '' وي- '' ئې '' يوه ده او داسې د '' نون غنه '' دپاره هم يو علامت په کار دے ـ

وريسې ډاکټر پرويز مهجور خوېشکي اووئيل چې ''ح'' يو مخرج دے د کومې نه را اوځي ـ

د دغو دواړو پوهانو په نکتو لابحث ځاے نۀ وۀ نيولے چې ډاکټر جاوېد خليل يو ځل بيااووئيل چې دا وخت د ''څې/ځيم'' فېصله کول په کار دي ـ دا ترتيب ټيک دے چې کوم توري فېصله شي بيا مخکښې تلل په کار دي ـ هغۀ اووې چې د محترمه ډاکټر سلمٰی شاهين خبره په ځاے ده ، خو که څۀ نوې علمي خبره مخې ته راځي ، نو منل ئې په کار دي ـ

ډاکټر حنيف خليل اووئيل چې مونږ په دې وړمبی ناسته کښې تر خپل حده مخکښې لاړو ـ که څۀ هم دا د پښتو اکېډيمی يو مثبت او ښۀ اقدام دے ـ خو د پښتنو د علمي مرکزونو تعين په کار دے او هغه څوک چې د ليک دود په اړه شخصي فېصلې کوي او خپله مطرح کړل شوې املا ته دوام ورکوي هغوي هم دلته راوستل په کار وو ـ بله دا چې کومې فېصلې اوشي د هغو اطلاق به څوک کوي ، او په هغو مرکزونو چې هلته ، له دغو فېصلو سره اختلاف ښودل کېږي ، او يا هغه محترم پوهان ،عالمان يا عام ليکوالان چې په شخصي توګه توپيري ليک دود کاروي يا خپل مخيزه املا ته دوام ورکوي ، په هغو به ئې څنګه منو ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکټر نصرالله جان وزیر د ښاغلي ډاکټر حنیف خلیل د خبرې په ځواب کښې اووئیل ، چې : زمونږ ورومبی وظیفه دا ده چې په املا کښې ستونځې په نخښه کړو ، عالمان، پوهان ، مونږ او تاسو ټول دلته وړاندې بحث اوکړو ، رائې پرې واخلو ، پس له هغې یوه منلې پرېکړې ته اورسېږو ـ ډائرېکټر صاحب ښاغلي ډاکټر حنیف خلیل صاحب ته په اشاره سره اووئیل چې که څهٔ هم په هغوي ئې منل ګران کار دے خو کله چې ستاسو غونډې مشران دلته په دې غونډه کښې یوې نتیجې ته اورسېږي ، نو دا به بیا د هغو سره د دې غونډې په اساس په دویمه لړۍ کښې یعني په انټرنېشنل کانفرنس کښې له هغو سره د لا زیاتو شننو دپاره وړاندې کړو ـ

د پښتو ژبې نوموړي شاعر او ادیب م ـ ر شفق د هم دې بحث په تسلسل کښې ور زیاته کړه: کومې فېصلې چې شوې دي ، وخت په وخت د هغو یوه جائزه اخیستل په کار دي ـ البته دغه د الفبا کوم ترتیب چې له پخوا څخه دود دے ، هم په دغه ډول سم دے ـ په دې اړه کابل کښې هم اداره موجوده ده او دلته هم ، نو که کوم څهٔ د لیک دود یا د پښتو په حواله کول وي په کار ده ، چې د دواړو ادارو په ګډه همکاري فېصلې صادرې شي ـ

ډاکټر زبېر حسرت د مشرانو توجه یوې بلې مسئلې خواته رااوګرځوله ـ هغهٔ اووئیل چې ''نون غنه'' شاملول په کار دي ـ او د همزه واله ''ۀ'' هم په کار ده ـ بل په غونډه ''ی'' پسې ''ے'' هم په کار ده ـ اوس چې کومې دي دا د کابل فېصلې وې ـ د نورو ډېروئي ګانو ضرورت نهٔ شته ـ

ښاغلي ډاکټر اسرار صاحب د ډاکټر زبېر حسرت د دې سوالونو په ځواب کښې په یو طنزیه انداز کښې اووئیل چې په ''ء'' خبره کول داسې ده لکه چې مونږ په دې ورومبی ناسته کښې اخري حرف ته

(c) ketabton.com: The Digital Library


اورسېدو او چې ''ء'' اوشوه نو معنا دا چې نشست ختمېدو ته را اورسېدو ـ ډاکټر اسرار صاحب د غونډې برخه وال ځان ته متوجه کړل او وې وئيل: چې حقيقت دا دے چې د پښتو اکېډيمۍ له اړخه د باړه ګلۍ سيمينار يو ډېر ښۀ کوښښ وۀ او ډېرې ښې فېصلې په کښې شوې دي ـ او س په هغو کښې ګوتې وهل نۀ دي په کار ـ هغۀ په تاکيد سره اووې چې: که نقص دے نو په مونږ کښې دے نۀ په املا کښې ـ

ډاکټر خالد خان خټک اووئيل چې زۀ په دې خبره ويارم چې د پښتو اکېډيمۍ د باړه ګلۍ په سيمينار کښې موجود وم ـ هغۀ زياته کړه چې پښتو کښې د زبر، زېر او پېش واؤل دي ـ پښتو کښې دا شاملول په کار دي ـ

ډاکټر يوسف خان جذاب اووئيل چې اباسين چې څنګه د پښتو الفبا د ترتيب په حقله نکته پورته کړه، نو اول په ترتيب بحث په کار دے ـ هغۀ اووې چې: د ژبې ابتداء د اواز نه کېږي خو مونږ د حرف نه ابتدا کوو ـ دلته دا حروف داوازونو نمائندګي کوي ـ نو دا حروف د اوازونو په اساس ترتيبول پکار دي ـ اول په شونډو بيا په غاښونو او بيا په حلق کښې اوازونه پېدا کېږي ـ

د ډاکټر يوسف خان جذاب بحث لاجاري وو ، چې ښاغلي ډاکټراقبال نسيم خټک صاحب د (چ) او (خ) په حقله خپله رائې داسې وړاندې کړله: تر کومه چې د چ (چې) او خ (خې) خبره ده ـ زمونږ الفبائي ترتيب د ډېر مخکښې نه راروان دے ـ دا ترتيب بدلول ډېر ګران دي ، نۀ خو ئې څۀ ضرورت شته او نۀ څۀ ګټه ـ داسې د (چ) او (خ) هغه پخوانے ترتيب په خپل ځاے سم دے ـ البته که د باړه ګلۍ په پرېکړو کښې نور څۀ ښۀ والے کېدلے شي نو په کار ده چې په هغو بحث اوشي ـ پرته د دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغهٔ د ډاکټر خالد خان خټک صاحب د زبر ، زیر او پیش وراندیز هم تائید کړو.

ډاکټر اسماعیل ګوهر د ډاکټر یوسف جذاب د مطرح کړل شوې مسئلې په ځواب کښې اووئیل: یوسف خان جذاب چې د فونیټک کومه خبره کوي ، داسې په اردو کښې هم شوي دي. خو دې سره بیا نورې مسئلې پیدا شوې دي. غرض د صوتیاتو په بنیاد به ډېرې مسئلې راپورته شي ، زما په فکر املا ته د صوتیاتو په بنیاد د ترتیب ضرورت نهٔ شته. هغهٔ مخکښې زیاته کړه چې د "نون غنه" ضرورت په واقعیت کښې محسوسېږي ، ځکه چې دا د لفظونو په مېنځ کښې هم راځي او په اخر کښې هم. په کار ده چې په دې اړه ځهٔ غور اوشي. خو پورې چې د همزه (ء) تعلق دے ، نو په فعلي "ئ" کښې ئې ولې شاملوو. دغه همزه په منین کښې هم وئیلے کېږي ، ځکه زما رایې دا ده چې همزه پکار ده چې وي.

د ډاکټر اسمعیل ګوهر ، د خینو نکتو وضاحت په لړ کښې ډاکټر یوسف خان جذاب اووئیل چې: ما صرف د ساؤنډ (اواز) په بنیاد د ترتیب خبره اوکړه ، ما دا اوسني ترتیب د بدلولو خبره نهٔ ده کړې. زهٔ ترتیب بدلول نهٔ غواړم بلکې ما صرف دا وئیل چې که تاسو ترتیب بدلول غواړئ نو بیا به د اوازونو (غږونو) په د نورو حرفونو حساب به د نورو حرفونو ترتیب هم بدلول وي.

پروفیسر فضل نصیر اسیر اووئیل چې یو وخت به راځي چې دا ضرورت به پیښېږي چې دا ترتیب چې ځنګه په انګرېزئ کښې دے - یعني د ABC په ځاے اوس Aa.Ba وائي نو امکان شته چې دغه دود به دلته هم یو وخت داسې شي. بل د زورکي اواز په پښتو کښې نهٔ شته او شکل ئې هم نهٔ شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکټر عمر عثمان خان مروت اوویل چې په کمپیوټر کښې چې کوم فونیم دي دا ټول موجود پراته دي. په کیبورډ کښې چې کوم ټکي دي اوس که په دې کښې مونږ کومې تبدیلي کوو نو بیا به "Uni Code" ته ځنګه رسو.

پروفیسر قاسم محمود اوویل چې: د پښتو اکېډیمۍ د باړه ګلۍ په فېصلو مکمل عمل پکار دے چې څوک ئې مخالفت کوي غند نه ئې کول په کار دي.

ډاکټر جاوېد اقبال خټک صاحب د ډاکټر حنیف خلیل صاحب هغه ورومبۍ مسئلې ته په اشاره سره اوویل چې: هغه شخصیتونه یا مرکزونه چې په خپل مخیزه توګه لیک دود خوروي یا د پښتو اکېډیمۍ د باړه ګلۍ د لیک دود پرېکړو څخه سر غړونه کوي، که دغه شخصیتونه یا مرکزونه د وحدت خوا ته راوستل شي نو لویه ګټه به ئې وي.

ډاکټر اسرار صاحب یوې ډېرې مهمې نکتې ته په اشاره اوویل چې په حروف تهجي کښې همزه شاملول په کار دي دا د پښتو د لیک دود یو قسم ته مشکل کشا دے. بل "نون غنه" هم ډېر ضروري دے. او هم دغسې پر ته "ے" په خپل ځائے ساتل ډېر ضروري دي. دوي زیاته کړه چې پرته (ے) د افغانستان په زړو کتابونو کښې شته. او په خپله اروابناد حبیبي هم استعمال کړې ده. هغهٔ زیاته کړه چې عربي په یوه "ی" چلېږي. اردو کښې هم دغسې ده. غرض دا چې پرته "ے" پرېښودل نهٔ دي په کار.

ډاکټر یوسف خان جذاب اوویل چې د ترتیب خبره ډېره ضروري ده. د "نون غنه" او "همزه" بحث وروستو خبره ده، هغهٔ اووې چې ډاکټر زبېر حسرت صاحب دا ځنګه وائي چې غونډه "ی" دې په پرته "ے" اولیکلے شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکټر زبیر حسرت د ډاکټر یوسف جذاب د سوال په ځواب کښې اووې چې: د وړاندې قاعدې مطابق "ی" او "ے" لیکل پکار دي. مخصوصه فعلي او تانیثي یې ګانې دې په خپل ځائے وي اونون غنه هم پکار ده.

د دوي دواړو د بحث په مېنځ کښې ډاکټر نیاز محمد عاجز صاحب زیاته کړه چې: ټولې یې ګانې پکار دي. ډاکټر یوسف جذاب صاحب اووې چې زۀ دا وایم چې د حرفونو ترتیب په خپل ځائے سم دے.

ډاکټر حنیف خلیل د ډاکټر یوسف جذاب د خبرو په تسلسل کښې اوونیل چې: که مونږ دا منو چې ترتیب هم دغسې سم دے او مونږ ئې تائیدوو، نو بیا خو سمه ده. خو چېرته چې تبدیلۍ ښخې اړینې دي. لکه "ی" ته لاندې دوه ټکي ښه ټکي کول به زمونږ د پاره ګټه وي؟

ډاکټر زبیر حسرت اوونیل چې هر یو حرف درې ځلور شکلونه لري. د معروفې یې "ي" مېنځنې شکل کښې "ي" په کار وه او د "یا" په سر کښې اخر ته فقط په "ی" اکتفا په کار ده.

ډاکټر یار محمد مغموم صاحب اوونیل چې: د حروف تهجي ترتیب په خپل ځائے سم دے خو د "نون غنه" او همزه شاملول هم په کار دي. هغۀ اووې: پیر روښان د موجوده املا باني دے باید د هغۀ وضع کړل شوے لیک دود مونږ په نظر کښې اوساتو.

پروفېسر قاسم محمود ډېر په تاکید سره یو ځل بیا هغه خبره تکرار کړه چې: د باړه ګلۍ دا شوې فېصلې منل پکار دي. که په لهجو پسې لاړو نو ټوله املا به خرابه شي او هر څۀ به ګډ وډ شي او د پښتنو وحدت به له مېنځه لاړ شي.

د ټل له خوا په دې غونډه کښې برخه اخیستونکي سلیم بنګش اوونیل چې اعرابونه په عربۍ کښې هم په حروفو نۀ شته ځکه دا به په

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتو یو اضافي بوج وي چونکې اعراب د غیر اهل ژبان دپاره په نورو ژبو د پوهېدلو د پاره کارول کېږي، نو په پښتو کښې هم دا نۀ دي په کار.

ډاکټر پرویز مهجور صاحب اووئیل باید مونږ هغه مسائل رامخې ته کړو چې څوک ورسره مخ دي او بیا وربانديې دلته بحث اوکړو.

ډاکټر احمد علي عاجز اووئیل چې: د پښتو اکېډیمۍ د بارړه ګلۍ فیصلې په هم هغه حالت کښې سمې دي څنګه چې شوې دي.

پروفیسر ډاکټر سلمٰی شاهین د ټولو برخه والو توجه دې اړخ ته را اوګرځوله چې د دې بحث نتیجه دا شوه چې د حروف تهجي ترتیب دې هم داسې وي لکه څنګه چې د مخکښې نه راغلے دے.

ښاغلي م.ر شفق د ډاکټر سلمٰی شاهین خبره تائید کړه او وې وئیل چې د الف ب ترتیب (چارټ) صحیح دے، خو مونږ ته په کار دي چې د پښتو اکېډیمۍ د باړه ګلۍ فیصلې په ځان اومنو او هم ئې په قانوني توګه د عملي کولو دپاره اقدامات اوکړو.

په دې دوېمه ناسته کښې دا لاندینۍ پرېکړې په اتفاق سره مخې ته راغلې.

۱. د الفبا موجوده ترتیب هم دغسې په خپل ځاے ساتل پکار دي.

۲. د لیک دود په حقله د پښتو اکېډیمۍ د باړه ګلۍ پرېکړې په متفقه توګه منل او د هغو د عملي کولو دپاره لازیات نور ګامونه اخیستلو ته زمینه برابرول.

۳. د 'ه' د پاسه اچېرته چې ضرورت وي ا 'ء' اهمزه! اچول په کار دي.

۴. ''نون غنه'' په بشپړ ډول د حروف تهجي برخه ګرځولو مسئله دې د مشرانو جرګې ته وړاندې شي د پراخ علمي بحث نه پس ددې د اختیارولو یا د نۀ اختیارولو پرېکړه دې بیا اوشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲۸م دسمبر ۲۰۱٦ء دویم نشست

## د دوېمې ناستې مشر پروفېسر داور خان داؤد

د دوېمې ناستې د پېل کېدو په مهال ښاغلي داور خان داؤد اووې چې دغه د الف با ترتیب تائیدول ډېر ښهٔ اوشو ، ځکه چې زمونږ په لغتونو او کتابونو کښې دغه ترتیب شامل دے او د پښتو اکېډیمۍ د بارہ کلی په سیمینار کښې هم دغه فېصله شوے ترتیب دے - نن په دې متفق کېدل او دا په یوه خولهٔ منل ، ډېره د خېر و برکت خبره ده چې دغه د لوے بحث نه پس منظور شولو - شکر دے چې ټول پرې متفق دي -

اوس د صوتیاتو په حواله بحث دے ځکه چې پښتو یوه صوتي ژبه ده او دا د پښتو اکېډیمي ډېر د قدر وړ قدم دے چې دا هلې ځلې کوي او یو ځل ئې بیا دا پوهان او عالمان سره راغونډ کړي دي - چې د لیک دود د مسائلو په اړه یو ځل بیا سره کښېني -زهٔ ستاسو ډېر مننداوي یم ، چې ما ته مو دمشرانو وظیفه راپه برخه کړه - تاسو ټولو ته اجازت دے چې په دې اړه پاتې بحث او نکتو ته په ښکلي او مهذب ډول سره دوام ورکړئ -

سید محمود ظفر اووئیل چې په ''چ'' پسې ''ځ'' (څې) لیکل په چارټ کښې صحیح نهٔ ده خو دې ته څیم وئیلے شي -

د سید محمود ظفر د وېنا په ځواب کښې پروفېسر ډاکټر اقبال نسیم خټک اووئیل چې کوم اوازونه دي هغسې دا هم صحیح ده او دا ''څې'' په کار ده -

ډاکټر اباسین یوسفزي اووئیل چې د ''څې'' او ''ث'' تر مېنځه فرق په کار دے -

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ځ (ځې) برنې بحث په حقله ډاکټر نصرالله جان وزير يوځل بيا دا خبره تکرار کړه چې د "ځې" ځان لره خپل غږ دے او دا ځيم نۀ ادا کېږي ، اصل کښې ځيم ورته په شمالي لهجو کښې د (ځ) سم نۀ ادائيګي له کبله نومول شوے او د دې غږ د چ (چې) سره سم(ځې) دے۔

ډاکټر نياز محمد عاجز د څ (څې) د ترتيب په حقله اووئيل چې دا په هم هغه زاړۀ ترتيب سم دے۔

نادر خان عليل اووئيل چې دا مونږ د لهجې نه نۀ شو جدا کولے لکه کوچه او کوڅه۔

ډاکټر اسرار اووئيل چې دا شکلونه مونږ ته منظور دي۔

ډاکټر اباسين يوسفزي اووئيل چې د "ه" او "هـ" دوه شکلونه د يوې "ه" دي ۔ نو بيا د هر حرف شکلونه په کار دي چې په مېنځ او اخر کښې څنګه ليکلے شي۔

سيد محمود ظفر اووئيل چې ددې سره وضاحت کېږي دواړه ټيک دي۔

ډاکټر نياز محمد عاجز ددې وضاحت اوکړو او د "ه" او د "هـ" ئې تائيد اوکړو۔

سليم بنګش اووئيل چې دا يو وړومبے او بل د مېنځ شکل دے۔

پروفېسر داور خان داؤد اووئيل چې دا چارټ ( د حروف تهجي ترتيب ) پوره دے او نوره په کښې اضافه نۀ ده په کار۔

ډاکټر حنيف خليل اووئيل چې چارټ منظور شوے دے اوس په تلفظ بحث پکار دے۔

ډاکټر نورالبصر امن اووئيل چې ط او ظ ( طې او ظې ) ليکلي شوي دي۔ نو په دې کښې واؤ يا پېش ( طوې ، ظوې) شته که نه۔

ډاکټر نيازمحمد عاجز اووئيل چې نشته۔

(c) ketabton.com: The Digital Library



سید محمود ظفر اوونیل چې دا د عربۍ دي نو هلته په کښې هم نه شته.

ډاکټر سهیل (د عبدالولي خان پوهنتون د پښتو څانګې مشر او نمائنده) اوونیل چې چارټ کښې دا نومونه دي که صوت دي. (په ډېرو اوازونو سره ملګرو اوونیل چې دا نومونه دي)۔

ډاکټر سهیل اوونیل چې بیا چېرته نومونه دي او چېرته اوازونه دي لکه د یېګانو سره.

ډاکټر نیاز محمد عاجز اوونیل چې دا د پېژندګلو دپاره دي چې د یېګانو سره لیکلې شوي دي. لکه معروفه او مجهوله یا مخصوصه.

ډاکټر یوسف جذاب اوونیل چې دا نومونه په دوه طریقې دي کله د غږ دي او کله د حروفو د شکلونو دي.

ډاکټر اسرار اوونیل چې ما چېرته لوستلي دي چې مثالي املا هغه وي چې د کینې طرف نه لیکلے شي ولې چې د ښي طرف نه تاته خپل لیکل نهٔ ښکاري او ښهٔ املا هغه وي چې قلم ترې نهٔ اوچتېږي. په دې اساس املا اسانول پکار دي. ځکه چې سنسکرت هم کله چې په ګرائمر پوهانوواوړېدهٔ نو ګډ وډ شو. نو مونږ ته هغه د سنسکرت لوبه نهٔ دي جوړول په کار، بس دغه چارټ هم دغسې ټیک دے.

ډائرېکټر پښتو اکېډیمۍ پروفېسر ډاکټر نصرالله جان وزیر اوونیل چې مونږ ته د پښتو اکېډیمۍ د باره ګلۍ په املا کښې کوم مشکل نهٔ شته. خو لکه څنګه چې مونږ په شروع کښې سپیناوے اوکړو چې ځینې قدرمن لیکوالان او یا ځینې اداري په خپل مخیزه توګه د پښتو په املا او لیک دود کښې له ځانه اختراعات کوي. ځکه مونږ غواړو چې د دغسې تېروتنو مخ نیوے اوشي او یا د هغوي خبره واورېدل شي او مشران ئې شننه اوکړي. او هر کوم صورت چې ترې رااوځي مونږ به ئې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتو مینه والو ته مخې ته کښېږدو ـ مونږ په زور په چا هم د لیک دود پرېکړې نهٔ ورتپو ـ البته د وحدت قائل یُو او غواړو چې زمونږ قوم په یوه ژبه او په یوهٔ لیک دود له یو بل سره د خپلو احساساتو اظهار په داسې ډول اوکړے شي ، چې هغوي که په شرق کښې دي ،که په غرب ، په جنوب کښې دي او یا که شمال ته ، په اسانه د یو بل په خبرو او تحریر اوپوهېږي ـ او له ژبني انتشار څخه اوژغورل شي ـ

ډاکټر سهېل اووئیل چې یوه څېړنه ده چې پښتو په ۹۱ فیصده ویونکیو او ۹ فیصده لیکونکیو ژوندۍ ده ـ بله څېړنه ده چې دوه پنځوس فیصده پښتانهٔ غواړي چې زمونږ بچي دې په پښتو کښې تعلیم اوکړي او بیا چې د ولې پوښتنه اوشوه نو ۷۸ فیصده خلقو اووئیل چې پښتو ګرانه ده ـ او پښتو په پرائیوېټ سېکټر کښې نشته ـ

ډاکټر اسرار اووئیل چې انګرېزي د پښتو نه هم ګرانه ده خو مسئله دا ده چې په پښتو کښې ډوډۍ نشته او په انګرېزي کښې پراخه ده ـ

ډاکټر یوسف خان جذاب اووئیل چې زهٔ نهٔ یم متفق چې ژبې ګرانې دي ـ په دې وجه نهٔ وئیلې شي او نهٔ لوستلې کېږي ـ د دې عوامل نور دي او د اردو او انګرېزي ژبو دستونځو ذکر هم ضروري نهٔ دے ـ بل زهٔ دا ګنم چې موجوده چارټ د پښتو اوازونو دپاره نیمګړے دے ـ

دې نه پس د ورکشاپ د اېجنډې مطابق د پښتو اکېډېمۍ د بارهٔ ګلۍ د سیمینار ټولې پرېکړې وار په وار ورکشاپ کښې شریک برخه اخیستونکیو ته د ملټي مېډیا په ذریعه اوښودلې شوې ـ ډېر په غور او کره نظر سره د دې ټولو پرېکړو ناقدانه جائزه واخیستلې شوه ـ چېرته چې د اصلاح ضرورت محسوسېدهٔ ، د هغو په حقله وړاندیزونه پېش شوچې تفصیل ئې په دې لاندې ډول دے ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## وړومبی فیصله :

''هغه کلمې چې د عربۍ او فارسۍ نه پښتو ته
راغلي دي او معنی ئې هم هغه ساتلې ده . هغه به
په خپل اصل شکل کښې لیکلے شي . لکه قمیص،
قیصه ، ضعیف وغیره .''

لکه قرآن ، قمیص ، قیصه چې خلق ئې په ''ک'' لیکي . ( ټولو په یو اواز ددې فیصلې تائید اوکړو . خو ډاکټر حنیف خلیل اووې چې که دا یو ځل بیا لویې جرګې ته وړاندې شي ، نو ښهٔ به وي .

## دویمه فیصله :-

'' هغه کلمې چې پښتو خپلې کړې دي معنی یا
شکل ئې بدل شوے دے هغه به په اوښتي شکل
لیکلے کېږي . لکه تپوس ، پام او د عربۍ
مخصوص توري به د پښتو په کلماتو کښې نهٔ
لیکو . مثلاً تورخم به په ' ت ' لیکو په ' ط ' به ئې
نهٔ لیکو .''

ډاکټر یوسف خان جذاب اووئیل چې دا لفظونه په شکل نه په صوتي لحاظ مونږ ته راغلي دي . یعني پښتنو لیک لوست کم کړے دے چې ځهٔ ئې هم د دې ژبو نه اخیستي دي د هغې نوعیت سماعي دے ځکه د تصرف امکان په کښې زیات دے .

ډاکټر زبېر حسرت اووئیل چې مفغن شوي دي .

پروفېسر قاسم محمود بنوي اووئیل چې نه داسې نهٔ ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلیم بنګش اووئیل چې دا شکلونه ئې مونږ بدل کړي دي۔ لکه 'تفحص' چې 'تپوس' شوے دے۔

ډاکټر نیاز محمد عاجز اووئیل په شکل پسې صوت شاملول په کار دي۔ لکه معنی ، شکل او صوت لیکل په کار دي۔

ډاکټر زبیر حسرت اووئیل چې تفحص په زړو نسخو کښې شته۔

ډاکټر یوسف خان جذاب اووئیل چې دا 'کېږي' دا د لهجو مسئله ده۔ دا بېلول په کار دي۔ لکه دلته کېږي او مونږ کېږي وایو۔ کېږي د کېدل نه وتے دے ۔ څنګه چې زبیر حسرت اووئیل۔

**دریمه فیصله : ـ**

''هغه کلمې چې په اخر کښې زوَر لري هغه به په 'ه' لیکلے شي ۔لکه خوشحاله مذکر خوشحاله مؤنث او دغه 'ه' به د تانیث مخصوص علامت نهٔ شي ګڼلے۔''

ډاکټر یوسف جذاب اووئیل چې 'زور' چې د لفظ په اول سر ، مینځ او اخر کښې راځي نو څهٔ شناخت لري ۔ مګر مونږ سره اخر کښې ئې ګرافیم بدل دے ولې مینځ کښې او سر کښې د دې فونیم ګرافیم بل شان دي۔ سر کښې الف ، مینځ کښې 'زور' او اخر کښې 'ه' لکه خر کښې په خ زور شته نو زوَر اولګوو ، دا د ګرافیم د اصولو خلاف ده چې په اخر کښې 'ه' اولګولے شي ځکه چې دې فونیم د پاره درې ګرافیم په کارول شي۔

(c) ketabton.com: The Digital Library


## څلورمه فیصله :-

"'مد' په پښتو کښې نشته."

پروفېسر فضل نصیر اسیر اووئیل چې دا خو د خپلې فېصلې رد شوے دے چې د عربۍ نه راغلي لفظونه به هغه شان لیکلے شي نو مد (~) هم د عربۍ دے.
ډاکټر زبېر حسرت اووئیل چې مد (~) په عربي او فارسي لفظونو کښې شته لکه آئینه ، آسمان ، قرآن وغېره. خو د پښتو خپلو لفظونو کښې نۀ شته.
ډاکټر اسرار اووئیل چې خوشحال بابا په یو ځاے کښې 'آس' استعمال کړے دے.
ډاکټر محب وزیر اووئیل چې زمونږ خوا ته د 'آ' تکے استعمالېږي.
ډاکټر نصرالله وزیر د محب وزیر په ځواب کښې اووې چې دا لنډیز دے ، د هغه یا د هاغه.
ډاکټر یوسف جذاب اووئیل چې وضاحت په فېصله کښې په کار دے.
ډاکټر نصرالله جان وزیر اووئیل چې د دې تولو خبرو ذکر د باړه ګلۍ د پرېکړو په تفصیلي کتابچه کښې شته. خو دلته مونږ د وخت بچ کولو په خاطر په لنډه توګه راوړي دي.

ډاکټر یوسف جذاب اووئیل چې تر اوسه د پښتو د لهجو څېړنه نۀ ده پوره شوې نو چا دا فېصله اوکړه چې په پښتو کښې مد نۀ شته. تر اوسه درې لهجو باندې کار شوے دے ځکه دا فېصله ټیک نۀ ده. چې پښتو کښې مد نۀ شته دے.

امجد ناصر اووئیل چې د یوې لهجې معیار مخې ته کښېښودل په کار دي. تاسو خان ته یو معیار کښېږدئ چې د غېر ملکي دپاره به مونږ کومه لهجه مخې ته ږدو.

سلیم بنګش اووئیل چې پښتو کښې یو سل اتۀ لهجې ډاکټر مجاور زیار معلومې کړې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پنځمه فیصله :—

''مجهوله ' ے ' چې په قطبي پښتونخوا کښې پرته لیکلے کېږي هغه به هم داسې پرته لیکلے شي لکه سړے ، زمرے وغېره. البته په افغانستان کښې او سوېلي پښتونخوا کښې به د دوي د خپل لیک دود سره سمه د مخکښې په شان لیکلے شي۔''

ډاکټر یوسف جذاب اووئیل چې حرف د صوت نمائندګي کوي د هر ګرافیم خپل شناخت وي دا صحیح نۀ ده چې ''ے'' ، مېنځ کښې راشي او دوه ټکي ورنه لاندې باندې اولیکلے شي۔ ځکه چې د دې ګرافیم په دواړه صورتونو کښې هېڅ مطابقت نۀ شته۔

ډاکټر اسرار اووئیل چې دا د اسانۍ دپاره په باره ګلې کښې شوي دي۔

ډاکټر یوسف جذاب اووئیل چې زۀ هیله کوم چې څوک ئې حل را اوباسي۔

ډاکټر نیاز محمد عاجز اووئیل چې قرآن کښې یو ځلې راغلي ''مجرے ها''۔

## شپږمه فیصله :—

''مخصوصه ' ې ' به د کلمې په مېنځ کښې 'ې' داسې او په اخر کښې داسې ' ې ' لیکلے شي۔ لکه سړې اوبۀ ،خېر وغېره۔ مجهوله یعني پرته ' ے ' به هم د کلمې په مېنځ کښې د 'ې' د مخصوصې 'ې' غوندې لیکلے شي۔''

( شپږمه فیصله په یو غږ (متفقه) او منلې شوه۔ )

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اوومه فیصله :-**

''د معروفې 'ي' دپاره به دوه څنګ په څنګ
ټکي 'ي' لیکلے شي -لکه سړي ، زمري او
داسې نور-''

ډاکټر زبیر حسرت اووئیل چې که د 'ي' نه لاندې ټکي لرې شي نو اسانه به شي-

پروفیسر داور خان اووئیل چې دا 'ي' صحیح ده -دې کښې ماشومانو د پاره هم اسانتیاوې ډېرې دي-

ډاکټر نیاز محمد عاجز اووئیل چې داخبره سمه ده دا به د ماشومانو دپاره ډېره اسانه شي او هم به واضحه شي-

ډاکټریوسف جذاب اووئیل چې داټکي ورنه لاندې نۀ دي پکار ، د ټکیو د نۀ کول یو افادي پهلو شته ، بې ټکیو ''ی'' شته -لکه د ماشومانو دپاره او د غېر ملکیانو دپاره به اسانه وي -خو بیا هم پکارده چې ټکي ورنه لاندې وي ځکه چې د دې ګرافیم په مبتځني حالت کښې ټکي شته-

ډاکټر عمر عثمان اووئیل چې دوېمه فېصله کښې د نورو ژبو د ټکیو خبره شوې ده -خو د مېډیکل او کمپیوټر وغېره سره تعلق لرونکي د نورو ژبو ټکي په بحث کښې نۀ دي راغلي-

سلیم بنګش اووئیل چې دا د املا سره تعلق نۀ لري -مونږ د لغاتو خبره نۀ کوؤ-

(اوومې فېصلې سره مکمل اتفاق اوشو-)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دویمه ورځ ۲۹م دسمبر ۲۰۱٦ء

په دویمه ورځ سحر لس بجې د ورکشاپ د کاروائی شروع د ډاکټر نیازمحمد عاجز له خوا د تلاوت نه اوشوه. ډاکټر نصرالله جان وزیر داروابناد ډاکټر خالق زیار د بخښنې دپاره د دعا اووئیل. ټولو ملګرو په شریکه د ډاکټر خالق زیار دپاره دعا اوغوښتله او بیا د ورکشاپ کاروائي شروع شوه.

**اتمه فیصله :-**

"یائې تانیث 'ې' به په اخر کښې د کش سره لیکلے شي. لکه کرسۍ، جینۍ وغیره."

(ټول ګډون کوونکي د اتمې فیصلې سره متفق شول.)

ډاکټر یوسف جذاب اووئیل چې پرونۍ اولنۍ فیصله کښې یوه نکته پاتې شوې ده هغه د بحث لاندې راوستل په کار دي. پښتو ته ډېر زیات لفظونه د انګرېزۍ او د اردو راغلي دي. د انګرېزۍ لفظونه به څنګه لیکو او داسې د اردو او هندۍ ټکي (لغات) به مونږ څنګه لیکو؟

ډاکټر حنیف خلیل اووئیل دلته چې د عربۍ او فارسۍ خبره شوې ده په اردو یا نورو پاکستاني ژبو کښې داسې ټکي موندلے شي نو هغه هم د فارسۍ او عربۍ نه تلي دي.

ډاکټر نیازمحمد عاجز اووئیل چې د عربۍ او فارسۍ دا خبره دې ځائے پورې صحیح ده خود وخت تېرېدو سره د نورو ژبو اضافه اوکړو. نو صحیح به شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکټر زبیر حسرت اووئیل چې په بریکټ ( ) کښې دې ورسره په انګریزۍ کښې هم لیکلے شي.

ډاکټر یوسف جذاب اووئیل چې په اتمه فیصله کښې د اسمي "ئ" او فعلي "ئ" یو اواز diphthong دے مګر لیکل دوه رنګه شي ، یوه اسمي "ئ" او بله فعلي "ئ" ده.

ډاکټر حنیف خلیل اووئیل چې دې اوازونو کښې ډیر فرق دے په پېښور یا یوسفزۍ لهجه کښې دې کښې په وینا کښې فرق راځي.

ډاکټر نیاز محمدعاجز اووئیل چې دا اسمي "ئ" نهٔ ده بلکې د تانیث "ئ" ده. دا که مونږ په رومن کښې د غیر ملکي دپاره لیکو نو په انګریزۍ کښې هم داسې مسئلې شته دے. لکه Put - But وغیره.

ډاکټر پرویز مهجور اووئیل چې اواز یو دے خو مشکلات ئې حل کړل.

ډاکټر نیاز محمد عاجز د مهجور صاحب تائید اوکړو.

ډاکټر یوسف جذاب اووئیل چې د پېښور د لهجې کومه مطالعه شوې ده چې دا اوازونه یو نهٔ دي.

رحمت شاه سائل اووئیل چې خبره د لهجې نهٔ ده د لیکلو ده. چې مونږ به یو تکے لیکو څنګه لکه دلته سحر او افغانستان کښې سحار ونیلے شي. نو اوس مونږ خو په دې پوهیږو خودا به لیکو څنګه.

( د یوسف خان جذاب خبره نوټ کړل شوه ، چې دا دې مخکښې لویې جرګې ته یوړے شي.)

ډاکټر جاوید خلیل اووئیل چې دلته خبره د پښتو د معیاري املا ده. په لهجو وخت ضائع کول نهٔ دي په کار.

( ټول فورم په یو اواز اتمه پریکړه تائید کړه )

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نهمه فیصله :-**

''د فعل دپاره به د مخکښي غوندې د ' ی ' دپاسه 'ء' ليکو ، لکه اوخورئ ، اوکړئ او داسې نور .''

( د دې ورځې ټولو برخه والو نهمه پرېکړه په هم دې شکل تائيد کړه . )

**لسمه فیصله :-**

په ضمير متصل او ,, ئې ،، کښې به په ,,ی،، باندې همزه ليکلے شي او مخصوصه ,, ې ،، به ليکلے شي . او يا به ,,ی،، ليکلے شي لکه په يئ کښې به يوه ,,ی ،، او دوېمه ,, ی ،، باندې همزه ليکلے شي .

ډاکټر نياز محمد عاجز اوډاکټر زبير حسرت اووئيل چې دې کښې ابهام دے .

ډاکټر نصرالله جان وزير دوي ته د دې پرېکړې ټول تفصيل واضح کړو . په دې وضاحت سره ټول برخه وال متفق شول .

ډاکټر يوسف جذاب اووئيل چې دا ضمير متصل دے؟ زما په خيال دا ضمير منفصل دے .

ډاکټر نياز محمد عاجز اووئيل چې دا اتصال دے . او په خورم کښې ذاتي ضمير دے .

ډاکټر حنيف خليل اووئيل چې دا 'ئې' د سيکنډ پرسن دپاره دے .

ډاکټر خالد خان خټک اووئيل چې دا تهرډ پرسن دے او دا متصل دے .

(c) ketabton.com: The Digital Library



**يوولسمه فيصله :-**

په داسې 'ه' کښې به لکه زړۀ ، ښۀ ، بۀ ، تۀ ، څۀ د مخکښې په شان د 'ه' دپاسه 'ء'[همزه] ليکو."

ډاکټرنياز محمد عاجز اووئيل چې دا به په " به" "Well" باندې نۀ راځي دا د زور دپاره راځي -

سيد محمود ظفر اووئيل چې په "ه" دپاسه همزه راتلل خو بل واؤل جوړوي -خو د 'ه' دپاره چرګې 'هـ' استعمال ښۀ دے -

ډاکټر نصرالله جان وزير اووئيل چې په هغې کښې يو اواز د 'هـ'شو او بل اواز'ها' شو -

ډاکټر زبير حسرت اووئيل د ساکت "ه" دپاره همزه په کار ده -

ډاکټر سهيل د دوي د دې خبرو تائيد اوکړو -

ډاکټر نياز محمد عاجز اووئيل چې ددې فيصلې "Wording" ورډنګ صحيح کول په کار دي -

ډاکټر يوسف جذاب په وائټ بورډ د 'ه 'او د 'هـ' وضاحت اوکړو -

ه او ۀ واول دي لکه وه ، زړۀ

ه - کانسوننټ دے لکه په پوهان کښې -

**دولسمه فيصله :-**

"ګ به په کونډه ليکلے شي -"

پروفيسر قاسم بنوي اووئيل چې که په "ک" دپاسه کش (ګ) وي نو هم ټيک ده -

ډاکټر نصر الله جان وزير اووئيل چې دا فيصله داسې شوې ده او افغانستان کښې هم اوس داسې ليکلے شي - مونږ ته په شويو فيصلو بيا

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلي ببرته تګ نۀ دے په کار . بل دا د پېرروښان د لیک دود مطابق پرېکړه ده. دا په خپل ځاے سمه ده.

ډاکټر سهېل اووئیل چې د کونډې وضاحت په کار دے چې لاندې ده که بره.

پروفېسر قاسم بنوي اووئیل کونډه او کش دواړه وي.

ډاکټر حنیف خلیل اووئیل دا بالکل صحیح فېصله ده کونډه هم واضح ده.

ډاکټر یوسف جذاب اووئیل کش به بهتر وي چې ماشومانو ته ئې پېژندګلو اسان شي.

ډاکټر اسرار اووئیل چې په باره ګلۍ کښې ډاکټر زیار موجود وۀ او دا کش به ډېر ښۀ وي د افغانستان سره به اړیکې هم پېدا شي.

سلیم بنګش اووئیل چې دا فېصله د افغانستان د مشرانو د مخې شوې ده.

ډاکټر زبېر حسرت اووئیل چې افغانستان کښې زمونږ یوه فېصله هم نۀ منلے کېږي او نۀ پرې عمل کېږي. هغوي خپله املا اوس هم هاغه شان لیکي څنګه ئې چې وړاندې لیکله.

ډاکټر نصرالله جان وزیر ئې هم تائید اوکړو او وې وئیل چې هم داسې ده. هلته په افغانستان کښې زمونږ فېصلې نۀ منل کېږي. خو زمونږ به کوښښ جاري وي، چې د یو واحد او منلي لیک دود لور ته لاړ شو.

ډاکټر جاوېد خلیل اووئیل چې د باره ګلۍ د فېصلو ټول ریکارډ موجود دے هغوي منلې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دیارلسمه فیصله :-**

"کښې، کښېناستل،نخښه ، بخښل او داسې نور
ټکي به هم دغه رنګ لیکلے شي-"

ډاکټر حنیف خلیل اووئیل چې فیصله صحیح ده ـ کوېټه یا افغانستان کښې که ترې څوک "ښ" غورزوي نو هغوي قائل کول په کار دي۔

ډاکټر نصرالله جان وزیر اووئیل چې که د دې او یا داسې نورو ټکیو څخه (ښ) اوغورزولے شي او د ټکیو په مېنځ کښې د 'ښ' استعمال په ځاے او نۀ شي ، نو د دې وجې به د ټکیو په معناؤ کښې ډېر تغیر واقع شي۔

ډاکټر یوسف جذاب اووئیل چې دلته څلور لفظونه دي د ټولو لفظونو شکلونه ورکول پکار دي ـ چې په کومه لهجه کښې څنګه وئېل کېږي مګر لیکل ئې هم دغه شان پکار دي۔

ډاکټر اسرار اووئیل چې کښل او کشل هم دلته راوستل په کار دي لکه انګرېزي "Brought" خو په "Brot" دے خو د نورو لهجو خیال ساتلے شوے دے ۔

ډاکټر نیاز محمد عاجز اووئیل چې دا فیصله ټیک ده د دې ورډنګ صحیح کول په کار دي۔

( دیارلسمه فیصله په متفقه توګه اومنلې شوه۔)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## څوارلسمه فیصله :-

"معدوله واو به د تکیو نه نهٔ شي غورزولے لکه
خولهٔ ، خوارهٔ، ګونه ، غونډيِ وغيره ."

ډاکټر نیاز محمد عاجز اووئیل چې دې الفاظو کښې فرق دے.
خوارهٔ او ګونه کښې معدوله واؤ نهٔ دے .خوارهٔ او ګونه دې ترې لرې
کړے شي.

ډاکټر پرويز مهجور خويشکي اووئيل چې واؤ درې دي لکه
تاوان، سود ، خوږ.نو دا صرف د پیژند ګلو د پاره دے.لکه د عربۍ نه
زکوٰة ، تنخوا.

سيد محمود ظفر اووئيل چې معدوله واؤ ځانله دے او ناقص
ځانله.په زکوٰة کښې ناقص دے او په خولهٔ کښې واؤ نشته .

ډاکټر یوسف جذاب اووئیل چې د معدوله واؤ تعریف څهٔ دے ؟

سيدمحمودظفر اووئيل چې ليکلے شي او وئيلے نهٔ شي.

ډاکټر یوسف جذاب اووئیل چې د معدوله واؤ تعریف شوے دے
چې سپوکن نهٔ وي او ليکلے شي .پاتې شوه خبره د زکوة او تنخوا نو هغه په
اوله فيصله کښې راغلي دي .د عربۍ او فارسۍ کلمې بهٔ د دې ژبو د املا
مطابق وي خو دلته تکي د پښتو دي او دا معدوله واؤ نهٔ دے .خوارهٔ او
ګونه د کلستر (cluster)مثالونه دي او باقاعده اداکيږي.

ډاکټر اقبال نسيم خټک اووئيل چې دا واؤ په "خولهٔ" کښې
ساکن دے.

ډاکټر نصرالله جان وزير اووئيل چې مثالونه راکړئ چې هغه په
کښې ور واچوؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکټر حنيف خليل اووئيل چې د جذاب خبره سمه ده ـ معدوله واو هغه وي چې غورزولے شي ـ لکه زکوٰة ، تنخوا ـ نو دا د هغه فېصلې سره تصادم دے ـ

ډاکټر زبېر حسرت اووئيل چې پښتو اکېډيمي په کښې واؤ کوي لکه خولهٔ ، غوندې وغېره او پښتو ادبي بورډ غُندې ، خلهٔ او لُستل وغېره ليکي نو دا سمول پکار دي ـ

ډاکټرنصرالله جان وزير اووئيل چې مثالونه راته سم کړئ ـ

پروفېسر داور خان داؤد اووئيل چې مونږ په پښتو ادبي بورډ کښې دا د قلندر مومند د درياب نه اخيستي دي ـ

رحمت شاه سائل اووئيل چې غوندې په واؤ ليکل پکار دي ـ او د استفادې دپاره په کار دي چې دا کار سم دے که ناسم دے ـ

ډاکټر زبېر حسرت اووئيل چې د قلندر مومند سره دليل وهٔ، ځکه چې قلمي نسخو کښې داسې شوي دي ـ

رحمت شاه سائل اووئيل چې بيا خو ددې ضرورت نهٔ شته بس نسخې به راواخلو او د هغې نه به استفاده اوکړو ـ

**پينځلسمه فېصله :-**

"هغه ټکي يا کلمې چې د عربي او فارسي نه د پېش په حالت کښې راغلي دي ـ په پېش به ليکلے شي ـ يعنې په خپل رنګ کښې لکه ګل ، بلبل ، هغه پښتو کلمې چې پېش لري هغه به مجهوله 'و' ليکلے شي ـ پوښتنه ، مور ، نور وغېره ـ"

ډاکټر نياز محمد عاجز اووئيل چې دلته په پوښتنه کښې واؤ معروف دے ـ دا مجهوله واؤ دے چې پېش پرې نهٔ وي ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکټر حنیف خلیل اووئیل چې ګل او بلبل کښې واؤ نشته ځکه دلته داسې دي۔

ډاکټر پرویز مهجور اووئیل چې دا د معیاري املا خبره ده ۔

رحمت شاه سائل اووئیل چې د نورو ژبو نه څومره ټکي راغلي دي۔

ډاکټر یوسف جذاب اووئیل چې دا خبره سمه ده۔

ډاکټر نیاز محمد عاجز اووئیل چې دا یو مثال دے بس۔

په دې وخت د پېښور یونیورسټۍ وائس چانسلر پروفېسر ډاکټر محمد رسول جان صاحب هم ورکشاپ ته تشریف راوړو ۔د پښتو اکېډیمۍ ډائرېکټر پروفېسر ډاکټر نصرالله جان وزیر ورته هر کلے وړاندې کړو۔ او د محترم وائس چانسلر د پښتو ژبې ، ادب او پښتو اکېډیمۍ دپاره د خدماتو ستائینه ئې اوکړه۔

محترم وائس چانسلر په خپل خطاب کښې د ټولو راغلو مېلمنو مننه اوکړه او د پوهنتون له خوا ئې ورته د هر قسمه مرستې او ملاتړ اووئیل ۔دوي زیاته کړه چې اوس وخت راغلے چې مونږ د پښتو دپاره کار اوکړو خپله ژبه ، قام او قامي اتلان دنیا ته ښکاره کړو۔

د محترم وائس چانسلر د خطاب نه پس هم د هغوي په موجودګۍ کښې د ورکشاپ نوره کاروائي هم هغه شان جاري اوساتلې شوه۔

## شپاړسمه فیصله :-

''معروف واو به د کلمو نه نۀ غورزولے کېږي او دپاسه به پېښ ورکولے شي لکه نُور ،سُور وغېره۔ ''

(دا پرېکړه هم ټولو په یوه خولۀ اومنله۔)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اوولسمه فېصله :-**

"د پښتو مخصوص توري ځ ، څ ، ښ ، ږ به هم دغسې ليکلے شي."

ډاکټر اسرار اووئيل چې دلته دا ليکلې املا دې سمه کړے شي.

ډاکټر يوسف جذاب اووئيل چې دا ځ ، څ، ښ، ږ توري ، نهٔ دي صوتونه فونيم دي .ځکه دلته توري نه د پښتو مخصوص غږونه ليکل په کار دي.

ډاکټر نيازمحمد عاجز اووئيل چې دا د صوت شکل دے غږ نهٔ دے.

ډاکټر حنيف خليل اووئيل د جذاب خبره ښهٔ ده .د س او ش تر مېنځه يو بل غږ هم موجود دے چې وضاحت ئې هم په کار دے.

ډاکټر سلمیٰ شاهين اووئيل چې داد لهجې خبره ده.

ډاکټر نصرالله جان وزير اووئيل چې په دې کښې دواړو لهجو يعني خټک / قندهاري او يوسفزئ لهجو ته اختيار ورکړے شوے ، چې هغوي د خپلو لهجو مطابق د دې ليک او ادائيګي کولے شي.

ډاکټر نيازمحمد عاجزاووئيل چې د پښتو د مخصوصو غږونو دپاره به دا توري څ ،ځ ،ښ،ږ وي نو جمله به سمه شي.

دې سره د دوېمې ورځې دا نشست سرته اورسېدو .او د غرمې د ډوډۍ او ماسپښين د مونځ دپاره وقفه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دویمه ورځ دویم نشست ۲۹م دسمبر ۲۰۱۶ء

په دویم نشست کښې هغه ټولې فېصلې چې په تېرو نشستونو کښې شوې وې ټولې په ملتېي مېډیا اوښودلې شوې چې په دې ډول دي.

## د وړومبي نشست ۲۸م دسمبر ۲۰۱۶ء فېصلې

١. د الفبا موجوده ترتیب هم داسې پکار دے.
٢. د باړه ګلې د فېصلو تائید او د وړاندې بوتلو د پاره هڅې کول.

## د دویم نشست ۲۸م دسمبر ۲۰۱۶ء فېصلې

١. په دې نشست کښې د الفبا د نومونو چارټ به هم په موجوده ترتیب ساتلے شي. په لویه جرګه کښې به په ځینو نورو اختلافي مسئلو لکه نون غنه بیا خبرې کولې شي.
٢. ''معروفه (ي) '' په حقله د باړه ګلې پرېکړه بیا تائید کړے شوه یعني دا چې معروفه ''ي'' ته به لاندې دوه ځنګ په ځنګ نقطې لګولے شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د دویمې ورځې اول نشست ۲۹م دسمبر ۲۰۱۶ء فېصلې

د دویمې ورځې په اول نشست کښې د اتمې فېصلې نه تر دیارلسمې فېصلې پورې د بحث نه وروستو تائید شوې. البته په یوولسمه فېصله کښې په ټینګار سره د "ه" دپاسه د همزه لیکلو سفارښتنه اوشوه. خو همزه به د ځانګړي حرف په توګه په الفبا کښې نۀ شمارل کېږي. چونکې د پښتو الفبا د بایزید روښان د ترتیب په مطابق او هم د عربۍ یا د قران شریف د الفبا په طرز، په حرف دپاسه بل حرف نۀ شي کښېښودل کېدے. ځکه دا ځان له د مستقل حرف په توګه نۀ شي راتلے. البته نون غنه به وړاندې جرګه کښې مشران فېصله کوي. دغسې په دیارلسمه فېصله کښې په دې زور راوړے شو چې په متعلقه کلمو کښې به" ښ " نۀ شي غورځولے.

د فېصلو اورولو او د هغې یو ځل بیا د تائید اخیستو نه پس شریکو غړو ته دا قراردادونه او تجویزونه وړاندې کړے شول چې په یوه خولۀ تائید او منظور شول. د قراردادونو او د تجویزونو متن په دې ډول دے.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- په هائي سکولونو او پرائمري سرکاري سکولونو کښې دې لکه د عربۍ ، اردو او نورو ژبو غوندې د پښتو استاذان مقرر کړے شي-

(قرار داد ډاکټر اسرار)

- معدوله " واو" به د ټکو نه نۀ شي غورزولے - دا صحيح فېصله ده - خود مثال په توګه چې کوم ټکي ورکړي شوي دي صحيح نۀ دي - د "واؤ معدوله" مثالونه لوستل ، خولۀ وغېره- (م-ر- شفق)

- زۀ يو ځل بيا دا غوښتنه کوم چې د معياري املا په رڼا کښې دې د ماشومانو او پښتو ويونکو دپاره يوه قاعده چاپ کړې شي او د پښتو اکېډيمۍ په سپوري کښې شوې متفقه فېصلې دې د قانون په توګه نافذ کړے شي-

(م-ر - شفق)

- ټول شاعران ،اديبان دې خپل کتابونه د پښتو اکېډيمۍ پېښور پوهنتون په منظورکړې شوې معياري املا کښې چاپ کوي او خوروي-

ډاکټر محمد زبير حسرت

- دا دوه ورځنے ليک دود سيمينار غوښتنه کوي چې پښتو دې د دفتر، سرکار ،تعليم او عدالت ژبه اوګرځولے شي-

(ډاکټرمحمدزبيرحسرت)

(c) ketabton.com: The Digital Library



❖ ''اوکړي'' او داسې نورو لفظونو کښې ''الف'' په ځای ساتل په کار دي ځکه چې که مونږ د يو بل لفظ ''اوس'' نه الف لرې کړو او دا ''وس''شي نو ابهام به پيدا کيږي۔ دا به ''وس طاقت'' دپاره پکارولې شي۔ (م۔ر۔شفق)

# وړانديزونه:

❖ بره پښتونخوا او سوئيلي پښتونخوا پښتو سره تړلي ادارو ته دې د ورکشاپ د انعقاد په باره کښې اطلاع وزکړے شي او دا وېنا دې هم ورته اوکړے شي چې تاسو مونږ سره د باره ګلی په فېصلو متفق شوي وئ ۔پکار ده چې دا فېصلې عملي کړے شي۔

(سليم بنګش)

❖ د پاکستان محکمه ''نادرا'' د قوميت په خانه کښې د افغان په ټکي اعتراض کوي ۔دغه اعتراض دې ختم کړے شي ۔د تعليم په خانه کښې دې د ايم اے پښتو، ايم فل او پي ايچ ډي خانه جوړه کړل شي۔

ډاکټر اباسين يوسفزے

ډاکټر بشرى خاتون

''مد'' په حقله دې کميټي ځۀ فېصله اوکړي۔

(محب وزير)

(c) ketabton.com: The Digital Library



❖ د استاذانو د ټريننګ تجويز دې پښتو اکېډيمي "DCTE" ډائرېکټرېټ اف کريکولم اېنډ ټيچر ټريننګ / اېجوکيشن اېبټ اباد ته يوسي - هغوي به ئې Sponsor کړي

(ډاکټر سهېل خان)

❖ په راتلونکې غونډه کښې دې د معياري لهجې په ضرورت او اهميت زور ورکړے شي او هغه کسانو ته ، چې خپله خپله لهجه کښې ليکل کوي او د ژبې پر مختګ ته زيان رسوي ، ته دې په معياري لهجې د اتفاق ياددهاني اوشي -

(نادرخان عليل)

❖ د پښتو املاء مباحث جدا دي چې په هغه نن بحث هم اوشو - مګر ددې سره دا هم ضروري ده چې په لهجوي مباحثو هم خبرې اوشي - بايد چې د املاء او د لهجو مباحث يو بل سره ګډ نۀ شي - د يوې منلې او کره املاء دپاره دې د ټولې پښتونخوا د مختلفو لهجو نمائندګان رااوبللے شي چې دا رنګ دا شخړه په ښۀ توګه هواره کړے شي -

(ډاکټر يوسف جذاب)

Consonantsسره Vowelsهم په اخر کښې ځان له په يو نوي لائن کښې دا شان ورکول په کار دي - (زبر ـَـ) ا (زېر ـِـ) ، ې ، ئ ، ى ، ي ، ے (پېش ـُـ ) ، (مجهول و ) (معروف ۆ)

ډاکټر خالد خان خټک

(c) ketabton.com: The Digital Library



❖ هغه لفظونه چې په اخېر کښې ئې واولي "ه" راشي او د يوې جتېکې سره وئېلے کېږي يا پرې په وېنا کښې زور راشي نو د هغې "ه" دپاسه به "ۂ" راځي ـ لکه زړۂ ،زاړۂ ، واړۂ ـ

هغه لفظونه چې جنوبي علاقو والا او د خټک / قندهار وغېره خلق ئې په "شين" سره وائي او قطبي علاقو خلق ئې د "خ" په اواز په "ښ" سره ادا کوي ـ هغه به په "ښ" ليکلے شي ـ لکه : ماښام ، نخښه ، ښائسته او داسې نور ـ

نون غنه دې د الف بې په لسټ کښې شامل کړے شي ـ

د موجوده يې ګانو سره مونږ اتفاق لرو ـ دې اساني راوستې ده ـ دادې نورې نۂ چېړلے کېږي ـ

"وو" به د واحد مذکر جمع ، ماضي ښودنې دپاره به په دوو واونو ليکلے شي ـ "وۂ" به د واحد مذکر ماضي يا تېرې زمانې دپاره استعمالولې شي ـ (وه) به د واحد مونث ماضي د پاره او (وې) د دې جمع د پاره ـ

(ډاکټر پرويز مهجور،
ډاکټر نياز محمد عاجز)

❖ په هريو Follow up بانډې يو Scheme of writing skills سټډي په کار وي ـ چونکې د باړه ګلې کانفرنس اثراتو بانډې داسې هېڅ قسم څېړنه نۂ ده شوې ـ او د نصاب جوړولو بنيادي عناصر (پښتو نصاب کښې) نۂ دي عملي شوي ـ نو پښتو اکېډيمي دې د پښتونخوا ټولو (انسټيټيوټ اف ريسرچ اينډ ايجوکېشن) سره رابطه اوکړي چې هغوي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتو په موجوده نصاب او پښتو Dialact باندې څېړنه اوکړي. دا به زمونږ د "لیک دود" حوالې سره ډېر اډانیز کار وي. (ډاکټر سهیل خان)

❖ د پښتو لیک دود په دوه ورځنۍ مرکه (۲۰۱۲ء/۱۲/ ۲۹، ۲۸) کښې دا خبره بار بار د پوهانو نه واورېدلې شوه چې په یوسفزۍ لهجه کښې د "خ" اواز یا غږ نشته. او بله دا خبره چې په یوسفزۍ لهجه کښې د "ئ" (فعلیه ئې) او "ۍ" (تانیث ئې) اوازونه جدا دي.

زما د تحقیق مطابق د "خ" اواز په سوات کښې نشته او د "ئ" او "ۍ" په اوازونو کښې هېڅ فرق نهٔ شته. کېدے شي چې د سوات لهجه د نورې یوسفزۍ لهجې نه بېل خصوصیات لري نو ځکه ګریرسن په خپل کتاب لنګوسټک سروے اف انډیا کښې د سوات د لهجې د سرخط لاندې دیوې بېلې لهجې ذکر هم کړے دے. نو عرض دادے چې کله د پښتو په املا بحثونه کېږي نو د سوات نه دې نمائنده راوبللے شي. مننه

(محمدعلي دیناخېل)

❖ ټولو تعلیمي او ادبي ادارو ته دې واضحه وېنا اوشي چې ائنده دې پښتو املا د یو شخص او یوې ادارې په لیک دود کښې جدا جدا نهٔ لیکي. بلکې هغه املاء دې اختیار کړے شي. چې ټول پښتانهٔ دانشور او لیکوال پرې متفق دي.

(ډاکټر اسلم تاثیر افریدي)

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د باړه ګلی د رسم الخط سیمینار چې په جولائي ۱۹۹۰ء کښې شوے وۀ ـ د پښتو ژبې او ادب دپاره یو سودمند کوښښ وۀ ـ په دغه سیمینار کښې چې کومو ادیبانو برخه اخیستې وه او اوس زمونږ نه جدا شوي دي ـ الله تعالىٰ دې د هغوي مغفرت نصیب کړي ـ امین

د خټک / قندهاري لجهې او د وادي پېښور د سیمې د پښتو په لړ کښې چې کوم مشکلات موجود دي ـ د هغو د هوارولو دپاره دې د مختلفو لهجو د ادیبانو او ژبپوهانو یوه کمیټي مقرره کړے شي چې هغوي د لوستونکو د اسانتیاو دپاره یو لغت مرتب کړي کوم چې د وخت اهم ضرورت دے ـ

(پروفېسر ډاکټر اقبال نسیم خټک)

- دویمې فیصلې په حوالې سفارشات

د باړه ګلی په حواله دویمه فیصله کښې دا تفصیل وړاندې شوے دے : هغه کلمې چې پښتو خپلې کړي دي ، معنې یا شکل ئې بدل شوے دے ، هغه به په اوښتي شکل لیکلے کېږي ـ لکه تپوس ، پام او د عربي مخصوص توري به د پښتو په کلماتو کښې نۀ لیکو ـ مثلاً تورخم به په (ت) لیکو په (ط) به ئې نۀ لیکو ـ

**تفصیل** : -

په انګرېزي اصطلاح کښې داسې الفاظو ته Loanwords وئیل کېږي ـ په فیصلې کښې چې کوم مثالونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکړي شوي دي نو هغې کښې د پښتو او عربي نه اخیستل شوي مثالونه ورکړے شوي دي ۔ خو په دې مثالونو کښې د نورو ژبو ، په خاصه توګه انګریزۍ او لاطیني الفاظو په حواله فېصله جوته نۀ ده ۔ یادؤنه ده چې د انګریزي او لاطیني ژبې ډېر الفاظ په طب ، قانون ، سائنس او ټیکنالوجي په اعتبار راوړل شوي دي ۔ په دې حواله دا صورتونه پیدا کېږي ۔ هغه الفاظ چې د هغې متبادل په پښتو کښې شته ، هغه به په پښتو کښې لیکل کېږي ۔ لکه زکام به لیکل شي Flu به نۀ شي لیکل ۔

ډاکټر عمر عثمان مروت

(FAST پوهنتون، پېښور)

ډاکټر نیاز محمد عاجز :- دا ټرمز د پښتو خپل نۀ دي ۔ خپل اوریجنل نوم د پښتو په املا کښې به ئې لیکو ۔

- To,

  The Director Pukhto Academy,

  University of Peshawar.

Subject: **Suggestions about the phonetics and dilectsof Pukhto Language**

Reference: Da Pukhtoleek dooddwawrazanaymaraca, 28 and 29 December, 2016

Respected Sir,

(c) ketabton.com: The Digital Library



With all due regards I want to have the honor to put up the following points in your honor to proceed further with the step to be taken to promote Pukhto language:

١. Since the phonetic symbols of few sounds of Pukhto language are very difficult to identify and learn by all local and foreign speakers of Pukhto language, for this purpose of introducing practicable and clearly pronounceable phonemes of Pukhto language, your good office may formulate a committee consisting of experts in Pukhto and English phonetics to reach to a clear cut conclusion about certain phonemes and their notations as per standards of the IPA.

٢. In order to identify and standardize a specific dialect of Pukhto language, a committee of experts may be formulated to identify the various available dialects of Pukhto language and one dialect which may be called as the 'standard Dialect' of Pukhto language to facilitate the local as well as foreign learners of Pukhto so that all the formal written and spoken communication may be carried out in one single standards dialect.

The above mentioned points no doubt need time and energy as well as finances to put into practice but we can take steps slowly and gradually to promote our mother tongue. These can be put into separate project for the purpose for which sanction of the higher authorities will be required and your office may consider all available options in this matter.

Thanking you in anticipation,

Yours Faithfully,

AmjadHussainNaasir,
Pukhto Poet Researcher

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ( د کمېټۍ غړي )

د بحث په دوران کښې چې کومې خبرې غور طلب وې هغه د لراو بر پوهانو ، عالمانو او ژبپوهانو ته وړلو د پاره دا لاندینی کمېټي په اتفاق سره جوړه شوه .

**کنوئینر** :- پروفېسر ډاکټر نصرالله جان وزیر

(ډائرېکټر پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي)

**ممبران** :-

ډاکټر اسرار صاحب
ډاکټر اقبال نسیم خټک صاحب
ډاکټر پرویز مهجور خویشکي صاحب
ډاکټر خالد خان خټک صاحب
ډاکټر محمد زبېر حسرت صاحب
ډاکټر نیاز محمد عاجز صاحب
ډاکټر یوسف خان جذاب صاحب
ډاکټر حنیف خلیل صاحب
ډاکټر سهیل خان صاحب
ډاکټر عمر عثمان مروت صاحب

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یادګیرنه** : (د معیاري لیک دود په اړه دا هم هغه د پښتو اکېډیمۍ تحت په باړه ګلۍ کښې د شوي سیمینار د فېصلو متن دے. چې د یو معیاري او کره لیک دود د اختیارولو او د پښتو ژبې د زدکونکیو په غوښتنه دریم ځلي چاپ کېږي.)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پښتو
# نوې املا

## (د پښتو اکېډېمۍ ، پېښور پوهنتون د باړه ګلۍ د سيمينار متفقه فېصلې)

پروفېسر سيد تقويم الحق کاکاخېل

پروفېسر ډاکټر راج ولي شاه خټک

(c) ketabton.com: The Digital Library


د جولائي ۱۹۹۰ء کال د لسمې نه تر دولسمې نېټې د پښتو رسم الخط په باب له يو تاريخي سيمپوزيم د صوبائي حکومت په تعاون د پښتو اکېډيمۍ پېښور يونيورسټۍ د اهتمام لاندې په باړه ګلۍ هزاره کښې منعقد کړے شو . په دې مرکه کښې د کوزې او برې پښتونخوا يو سل پينځهٔ د پرش د سر سر پوهانو ، شخصيتونو د لسانياتو ماهرينو ، اديبانو د ابلاغ سر منشيانو ، شاعرانو او کاتبانو ګډون اوکړو.

د مرکې مندوبينو ته د پښتو د روانو رسم الخطونو د مخه د راولاړو شوو کشالو تفصيل په ګوته کړے شو او دا خواست ورته اوکړے شو چې په متفقه ډول د دغې مسائلو د حل کولو او د پښتو د ليک دود دپاره د يو مشترکه رسم الخط وضع کولو تابيا اوکړي.

د مسائلو د تعين نه پس په دې باندې تر درې ورځو پنځهٔ تفصيلي او دوه اړخيز بحثونه اوشول . دغه شان د هرې مسئلې ممکن حل په ګوته کړے شو او په اخر کښې هغه تاريخي فېصلې پوره په اتفاق سره اوکړے شوې کومې چې د پښتو د مشترک رسم الخط د وضع کولو دپاره اومنلے شوې . د دې فېصلو د مخه هغه ګڼ رسم الخطونه چې نهٔ يوائې په صوبه سرحد او بلوچستان کښې ئې رواج موندے وهٔ ، د مېنځه لاړل بلکې د افغانستان د مروج رسم الخط سره هم تر ډېره حده په کښې يو شان والے پيدا کړے شو . د دې حتمي فائده د يو بېن المللي رسم الخط په شکل کښې څرګنده شوه او د پښتو د ليک دود مېدان ئې د اباسين نه تر امو دريابه پورې يو کړو . دا يقيناً چې يوه ډېره اهمه او تاريخي فېصله ده چې نتائج به ئې ډېر دور رس او اهم وي . زهٔ د ټول پښتونو وګړي او بيا خاص کر د لوستي طبقې نه دا طمع لرم چې په يو اتفاق به من و عن د پښتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



اولس د اتحاد او یووالي په خاطر دا فیصلې قبولې کړي او هم ئن نه به په نوي رسم الخط (املا) کښې لیک شروع کړي.

زۀ په دې موقع د صوبه سرحد د وزارت تعلیم باالخصوص د تعلیماتو د وزارت د سکترښاغلي محمود خان، د پېښور یونیورستې د محترم وائس چانسلر ډاکټر محمد انور خان او د پښتو اکېډیمۍ د تحقیقاتو د څانګې مشر ډاکټر راج ولي شاه خټک او د خپلو نورو ټولو ملګرو ډېر ممنون یم چې هغوي په دې مرکه کښې په مالي، انتظامي او تکنیکي جوړ له پوره پوره دلچسپي واخیسته او زمونږ دا دروند او تاریخي کار ئې د کامیابۍ تر غاړې اورسولو.

زۀ د مرکې د ټولو مندوبینو باالخصوص د افغانستان او بلوچستان نه د راغلو پوهانو او عالمانو هم تشکر کوم چې هغوي ډېر په مینه او سپېڅلې جذبه زمونږ په دعوت په دې مرکه کښې شرکت اوکړو. زۀ د ښاغلي پروفېسر سید تقویم الحق کاکاخېل، د درونډ لیکوال او محقق ښاغلي حبیب الله رفیع، د ستر محقق ښاغلي ډاکټر ګل جان ورور وردګ او د ډاکټر شېرزمان طائزي هم مننه کوم چې هغوي د رسم الخط په حقله د فیصلو په مرتب کولو او د مرکې په اخر کښې د قراردادونو په وړاندې کولو کښې زمونږ سره هر قسم عملي کومک اوکړو.

زۀ یو ځلې بیا د خپلو ټولو ملګرو په ډېر اخلاص مننه کوم او دعا کوم چې الله تعالی دې زمونږ دا کاوش د پښتون وګړي او پښتو ژبې د نېک مرغۍ پېش خیمه کړي. آمین

**پروفېسر محمد نواز طائر**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پښتو لیک لار

(۱)

پښتو ډېره زړه ژبه ده ـ ددې د ویونکو او وئیلو تاریخ تر ډېره لرې رسي خو د لیک معلوم تاریخ ئې ډېر اوسنے دے ـ دا په یقین سره نۀ ده معلومه چې د اسلام نه مخکښې پښتو څنګه لیکلے شوه ـ ځینې پوهانو په خروشتي لیک دود کښې د پښتو ټکي موندلي دي او شاید چې څۀ وخته پورې ئې دغه لیک دود پاتې شوے وي ـ البته دا یقیني ده چې دې سیمې ته د اسلام رارسېدو نه پس پښتو عربي رسم الخط خپل کړے دے او تر نن ئې هم دغه رسم الخط ساتلے دے ـ

یو روایت را روان دے چې پښتو رسم الخط سره د پښتو د مخصوصو توریو د سلطان محمود غزنوي په زمانه د هغۀ یو وزیر رائج کړے وۀ ـ کېدے شي چې هغۀ د پښتو لیک عربي رسم الخط ته را اړولے وي خو ددې خبرې څۀ مضبوط ثبوت نشته او تر زرمې صدۍ هجري پورې د یو واضح لیک دود متعلق په یقین سره څۀ معلوم نۀ دي ـ

د بایزید انصاري خیرالبیان تر اوسه پورې د پښتو ژبې وړمبے مکمل کتاب ګڼلے شي ـ په دې کتاب کښې هغۀ د نورو دعوؤ سره یوه دعوه دا هم کړې ده چې د پښتو لیک دود ماته خدائے پاک د الهام په ذریعه ښئیلے دے ـ ددې نه معلومېږي چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library


هغهٔ تر وخته د پښتو څهٔ متفقه او منظم لیک دود نهٔ وهٔ ـ خصوصاً د پښتو د مخصوصو تورو ـ

د عربۍ توري د پښتو په لیک دود کښې د شروع نه په خپل عربي شکل کښې شامل راغلي دي ـ دې سره هېچا څهٔ اختلاف نهٔ دے کړے ـ دا په عربۍ کښې د ېرش توري دي ـ خو د ,,لا،، یا لا تورے اوس ځان ته بېل تورے نهٔ شي ګڼلے ـ باقي نهٔ ویشت توري دا دي ـ

ا ـ ب ـ ت ـ ث ـ ج ـ ح ـ خ ـ د ـ ذ ـ ر ـ ز ـ س ـ ش ـ ص ـ ض ـ ط ـ ظ ـ ع ـ غ ـ ف ـ ق ـ ک ـ ل ـ م ـ ن ـ و ـ ه ـ ء ـ ي

د تورو لیکلے شکل اصل کښې د هغه اواز علامت وي کومه ژبه کښې چې اوازونه وي ـ د هغوي لیکلي توري زیات وي ـ په فارسۍ کښې د عربۍ نه څلور اوازه زیات دي ـ پ ، چ، ژ، ګ ـ په نورو آریائي ژبو کښې ددې نه هم درې اوازه زیات دي ـ ټ، ډ، ړ په پښتو کښې دا اووهٔ زیاتي اوازونه هم شته او ددې نه علاوه څلور د پښتو خاص اوازونه هم دي چې مونږ ئې اوس په څ ـ ځ ـ ږ ـ ښ لیکو ـ دې اوازونو ته شکل ورکول د پښتو د لیک دود خپل ضرورت وُ ـ چې د بل نه په پور اخیستو نهٔ پوره کېدو ـ

( ۲ )

په دې سلسله کښې اول کوشش بایزید انصاري کړے دے او د الله په حکم ئې ( د هغهٔ د وېنا مطابق ) دې تورو ته شکلونه ورکړي دي ـ په عربۍ فارسۍ کښې د تورو فرق په نقطو وهٔ ـ هغهٔ هم دغه طریقه استعمال کړه ـ البته کوم توري چې عربۍ فارسۍ کښې نهٔ وو او په

(c) ketabton.com: The Digital Library


نقطو ئې فرق نۀ شو کېدے ـ هغو ته ئې د علاماتي تورو په ځاے کوندې خوښې کړې او د دې يوولسو تورو دپاره ئې دا شکلونه متعين کړي دي ـ
ا ـ ب ـ پ ـ ت ـ ټ ـ ث ـ ج ـ چ ـ ځ ـ ح ـ خ ـ د ـ ډ ـ ډ (اوسنے ځ) ذ ـ ډ (اوسنی ړ) ر ـ ړ ـ ز ـ ږ (فارسي ژ) س ـ ش ـ ښ ـ ع ـ غ ـ ف ـ ق ـ ک ـ ګ ـ ل ـ م ـ ن ـ ڼ ـ و ـ ه ـ لا ـ ی

بايزيد انصاري د ډاکټر اختر خان مرحوم د تحقيق مطابق خيرالبيان د کال ۹۲۸ هـ خواؤ شا ليکلے دے ـ ګويا تر دې کاله د پښتو د مخصوصو اوازونو دپاره څۀ منلي شوي علامات نۀ وو ـ دا د بايزيد انصاري د غير معمولي ذهانت نخښه ده ـ چې هغه د پښتو د ټولو لهجو اوازونه په نظر کښې ساتلي دي ـ کوم چې وروستو اخوند درويزه بلکې د خوشحال خان غوندې همه جهت عبقري هم په نظر کښې اونۀ ساتل ـ

بايزيد انصاري د فارسي ,, ژ ،، هم په مخصوصو اوازونو کښې شمېرلې ده ـ د مروتو په علاقه اوس هم د ,,ژ،، اواز د فارسي ,, ژ ،، نه مختلف دے ـ ممکنه ده چې هغه وخت په وزيرو کښې هم دا اواز د فارسي ,, ژ ،، نه مختلف وۀ ـ د ,, نړ ،، مرکب لفظ لکه کونړ او رنړا اصل کښې مفرد ښکاري او ډېر عام لفظ دے ـ بايزيد ,, ڼ ،، په حروف تهجي کښې بېل ليکلے دے ـ

د خيرالبيان د تصنيف نه کافي موده پس د کال ۱۰۱۲ هـ او کال ۱۰۲۱ هـ تر مېنځه د اخوند درويزه مخزن الاسلام اوليکلے شو ـ دې کتاب ته الله تعالی دومره مقبوليت ورکړو چې په لږه موده

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښې د پښتونخوا ګوټ ګوټ ته اورسېدو ـ اخوند درویزه د بایزید انصاري په لیک دود کښې څۀ ترمیمات اوکړل ـ

د　د　په ځاے　ږ

د　ږ په ځاے　ژ

ږ او ړ ئې د حروف تهجي نه اوویستل ـ د ځ (ځ) په ځاے ئې هم څ استعمال کړو ـ

د اخوند درویزه دا رسم الخط په لږ فرق زمونږ تر زمانې رااورسېدو ـ البته تر دا مېنځه خوشحال خان خټک یو بل رسم الخط اختیار کړے دے ـ دا نۀ معلومېږي چې ولې ؟ هغه د ارزاني ، واصل ، مرزا خان ذکر کوي او دا دیوانونه یقیناً هغۀ ته ور رسېدلي دي ـ دا دیوانونه به د بایزید په رسم الخط کښې لیک وو او هغه رسم الخط به د خوشحال بابا نۀ وي خوښ شوے ـ د اخوند درویزه مخزن هغۀ ته د سوات په سفر کښې په لاس ورغلے وۀ او دا ډېره روستنۍ خبره ده ـ

دا رسم الخط مونږ ته اول ځل د دستارنامې د یو نسخې نه په لاس راغلے دے ـ چې عبدالحلیم کاتب په ۱۱۱۹ هـ کښې د افضل خان دپاره لیکلې ده ـ د کلیات خوشحال یوه نسخه چې محمد سعید کاتب په ۱۱۷۳ هـ کښې لیکلې ده ـ هم په دغه رسم الخط کښې ده ـ دا کاتب د اکوړي دے ـ ګویا دا لیک دود د خوشحال خان په خاندان کښې تر څۀ مودې چلېدلے دے ـ

خوشحال خان د پښتو مخصوص اوازونه صرف دوه راخیستي دي ـ څ او ځ ـ څ ته د ح په مېنځ کښې دوه ټکي او یو همزه

(c) ketabton.com: The Digital Library


علامه ورکړې ده .او داسې ئې لیکلے دے ج او خ دپاره یې د جیم د ټکي د لاندې همزه لیکلے دے .او داسې شکل ئې جوړ شوے دے. „ج ،، ړ او ښ هغهٔ په ژ او ش لیکلي دي .څنګه چې د خټکو لهجه ده .حروف تهجي د هغهٔ په مخصوصو شکلونو کښې داسې دي.
ا .ب . ت . ط . ث .ج .چ .ڇ . ج .خ .د .ڊ .ذ .ر .ړ .ز .ر .س .ش . الخ

د خوشحال خان لیک دود د اخوند درویزه نه اندازةً شپېته کاله وروستو شروع شوے دے .مخزن د یو درسي کتاب حېثیت لرلو .چې هر ځاے لوستلے او لولولے شو .چې خوشحال خان خپل علمي کتابونه لیکل نو دې لیک دود جرړې پخې کړې وې او دې بل لیک دود ځاے اونهٔ نیوے شو .او د اخوند درویزه بابا ترمیم شوے د بایزید انصاري لیک دود په ځاے پاتې شو.

دا لیک دود بیا کاتبانو په خپله رضا رنګ رنګ لیکلو .په نسخ کښې هم او په نستعلیق کښې هم .چا د پښتو د مخصوصو حروفو خیال ساتلے دے چا نهٔ دے ساتلے .چا د لاندې غړوندي په ځاے بره ط لیکلې ده چا همزه .چا په کښې لاندې ط او همزه هم استعمال کړي دي .خو په مجموعي حېثیت لیک دود یو پاتې شوے دے.

په نولسمه صدۍ هجري کښې چې مستشرقین پښتو ته متوجه کېدل نو د لیک دود ساخت موجود ؤ .البته ځاے په ځاے کنډ کپر شوے وۀ .هغوي په ټوله مسئله غور اوکړو او یو معیاري لیک دود ئې تیار کړو .په هغې کښې ئې کتابونه هم اولیکل.د

(c) ketabton.com: The Digital Library



چاپ دپاره ئي د هغي ټائپ هم تيار کړو ـ او صحيح رنګيز ښائسته کتابونه ئي هم چاپ کړل ـ تر دې وخته د پښتو مخصوص اوازونه ، د اوازونو په حېثيت ورک شوي وو يا چېرته لرې قبيلو کښې پاتې وو ـ البته دې مخصوصو اوازونو په مختلفو قبيلو کښې بېل بېل ارتقائي صورت اختيار کړے ؤ ـ ددې اختلافاتو تحريري شکل يو ساتلو دپاره هم د مخصوصو تورو ضرورت ؤ او دا مخصوص توري د پښتو رسم الخط د اهم جزو په طور باقي اوساتلے شول ـ

( ۳ )

تر هغه وخته ضرورت په دغه هومره رسم الخط پوره کېدو او پوره شو ـ د تلفظ دپاره مستشرقينو رومن خط استعمالولو ـ نو هغوي ته د حروفِ علت د مختلفو اوازونو اشکال پېښ نۀ شو او پښتنو خپل ليک په خولۀ کښې جوړولے شو ـ ورو ورو داسې وخت راغلو چې پښتنو نورو ته پښتو ښئيل شروع کړه او د نورو دپاره ئي په پښتو ليکل شروع اوکړه او دا ورته محسوسه شوه چې موجوده تورې زمونږ ضرورتونه نۀ پوره کوي داسې پښتو ليکونکو ته د نورو علاماتو هم ضرورت دے ـ

په پښتو کښې د عربي ضمې ، فتحې او کسرې (پېش زور او زېر ) نه علاوه ددې اوازونو اختصار هم رائج دے چې مونږ ورته پېشکے ، زورکے ، زېرکے وئيلے شو ـ دا اوازونه د عربي پېش زور او زېر نه مختصر دي ـ او په خالصو پښتو تورو کښې يا پښتو شوي عربي فارسي تورو کښې استعمالېږي ـ لکه سور ، نول ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library


دغسې پښتو کښې د توري آخر ,, ه ،، په دوه قسمه ده سخته او نرمه لکه زړۀ او زړه - ,, نه زړۀ مې زړه کوټې نۀ مني،، دې جمله کښې دوه ځله ,, نه ،، دے او دوه ځله زړه - د دواړو تلفظ یو بل نه بدل دے - د ,, ی ،، مسئله ددې نه هم ګرانه ده - یو پرته ,, ے ،، ده لکه سړے ، یو غونډه (ي) ده لکه سړي - یو د تانیث ی ده لکه جینۍ یو د فعل په آخر کښې ی ده - لکه اوکړئ - او یو د پښتو مخصوصه ی ده - لکه سړې اوبۀ - ددې یې ګانو تلفظ د یو بل نه کافي جدا دے - خو عام رسم الخط کښې صرف دوه یې ګانې لیکلے شي - یا ئې معروف او یا ئې مجهول -

چې پښتنو په پښتو کښې علمي لیکنې شروع کړې نو ددې فرقونو ضرورت محسوس شو - بیا چې غیر ملکیانو ته ئې ښئیل شروع کړل نو دا ضرورت نور هم زیات شو - دې ورځو کښې زمونږ په علاقه پښتو ته حکومتي سرپرستي حاصله نۀ وه - او هر چا په خپل طبیعت ځان ته علامات وضع کول - چې پښتو اکېډیمي جوړه شوه نو مولانا عبدالقادر مرحوم په علمي سطح ددې مسئلو حل ته توجه وکړه -

په یو دیرشم مارچ ۱۹۵۷ ء په پښتو اکېډیمۍ کښې د هغوي د اهتمام لاندې یوه لویه غونډه اوشوه - چې هغې کښې د افغانستان لوے لیکونکي خادم صاحب ، رښتین صاحب او د هغوي ملګري د خیبر پښتونخوا د لویو لیکوالو دوست محمد خان کامل مرحوم ، قاضي احمد سعید مرحوم ، مولانا عبدالقادر مرحوم ، عبدالخالق خلیق مرحوم ، پروفیسر نوراحمدخان مرحوم ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکټر منورخان ، اجمل ختټک ،حکیم محمداسلم سنجري مرحوم ، نصرالله خان نصر ، ماسټر عبدالکریم مرحوم ، ارباب سکندر خان مرحوم ، مولانا عبدالقدوس مرحوم ، ډاکټر انوارالحق مرحوم ، خیال بخاري مرحوم او د هغوي نورو ملګرو سره یو ځای کښیناستل او ددې مسئلو تحلیل ئې اوکړو ـ دا تحلیل په خپل ځای ډېر جامع دی ـ او تقریباً ټولې مسئلې په کښې راخیستی شوي دي ـ په دې کښې څۀ فېصلې متفقه اوشوې او د څۀ مسئلو ئې دوه ځله تجویز کړل ـ او فېصله ئې قام ته پرېښوده ـ

دا یو ډېر صحیح قدم وۀ ـ او پکار وه دا فېصلې د یو معیاري لیک دود په شکل کښې هر چا لوستې او هرچا منلې وې ـ ددې نه زیاته نمائنده اجتماع نۀ بیا کېدے شوه او نۀ اوشوه خو متأسفانه خپله د پښتو اکېډیمۍ ددې فېصلو نافذ کولو او خلقو ته د رسولو اهتمام اونۀ کړو او لیک دود هم هغسې د کاتبانو په خوښه پاتې شو ـ

په کال ۱۹۸۴ء کښې د خیبر پښتونخوا د تعلیم محکمې دوه اهمې اداري جوړې کړې ـ یو د پښتو لغت اداره او بله په پرائمري سطح د پښتو ذریعه تعلیم کولو اداره ـ دا دواړه اداري د پښتو لیک دود د مسئلې سره مخامخ شوې او ضرورت ئې محسوس کړو چې په حکومتي سطح ددې مسئلې یو حل راپېدا کړے شي ـ چې د ماشومانو دپاره درسي کتابونه او قام دپاره پښتو لغت په یو معیاري لیک دود کښې اولیکلے شي او ټول التباسات ترمېنځه اوخي ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې سلسله کښې په ديارلسم اګست ۱۹۸۴ء د محکمه تعليم د سکرټري محمد اعظم خان د صدارت لاندې يوه غونډه اوشوه - په دې غونډه کښې د پښتو اکېډيمۍ او پښتو ډيپارټمنټ پېښور يونيورسټۍ محکمه تعليم پښتونخوا او د صوبې د ټيکسټ بُک بورډ نمائندګانو او لويو اديبانو ، عالمانو شرکت اوکړو - دا متفقه فېصله اوشوه چې د ۱۵ اپرېل کال ۱۹۵۷ء فېصلو مطابق دې درسي کتابونه په يو معياري ليک دود کښې اوليکلے شي - البته د پښتو لغت مخصوص ضروريات دې تر لغته محدود اوساتلے شي چې لغت بازار ته راشي او عام شي نو بيا د هغې په رڼا کښې د املا بدلولو لازې چا بندې کړې نۀ دي - په دې فېصله کښې بيا هم دا نيمګړتيا پاتې شوه - چې د کال ۱۹۵۷ء غونډې د کومو مسئلو دوه ځله تجويز کړي وو هغو کښې يو حل خوښ نۀ کړے شو - دا مسئله د لغت ادارې او د درسي کتابونو ادارې خپلو کښې په مشوره حل کړه -

دا معياري رسم الخط تر هغه ادارو محدود پاتې شو، کومو چې دا فېصله کړې وه - شپږ کاله کښې ابتدائي درسي کتابونه خو دې ليک دود ته را واوړېدل - د نور پښتونخوا اديبانو شاعرانو او عالمانو دې طرف ته توجه اونۀ کړه - او هغه عام ليک دود جاري پاتې شو - د دې خبرې ضرورت وۀ چې په جمع ټول پښتانۀ ، ټول پښتو ليکونکي او ټول اخبارونه رسالې يو ليک دود خپل کړي - دې ضرورت ته د پښتو اکېډيمۍ ډائرېکټر پروفېسر محمد نواز طائر صاحب توجه اوکړه - او د صوبائي محکمه تعليم په مالي

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرسته او ډاډ ګیرنه ئې په باره کلی. کښې یو بین المللي سیمپوزیم راغونډ کړو. دا یو لویه نمائنده جرګه وه ـ عالمان. ادیبان ، شاعران. استاذان ، طالب علمان ، خطاطان او صحافیان د هرې طبقې نه ئې منلي شوي کسان راغوښتي وو او اکثر راغلي وو ـ د جولائي ۱۹۹۰ء د لسم تاریخ نه تر دولسم تاریخه دې نمائنده ملي جرګې د لیک دود په وړو لویو مسئلو په یخ ماحول کښې په سړه سینه غور اوکړو او متفقه فیصلې ئې اوکړې ـ دې جرګه کښې د افغانستان منلي شوي فاضلان او د بلوچستان لوے عالمان هم وو او داسې دا فیصلې د ټولو پښتنو فیصلې شوې ـ

( ۴ )

دې کښې څۀ فیصلې خو مختصرې او پوهې ته اسانې دي او ځینې فیصلې به لږ بحث غواړي ـ دا فیصلې د ضمیمې په طور آخر کښې شاملې کړے شوي دي ـ دلته مونږ هغه ترتیب لږ غوندې بدلوؤ ـ مختصرې فیصلې رامخکښې کوؤ او په اوږدو فیصلو لږ غوندې بحث کوؤ ـ

۱. کوم الفاظ چې پښتو د عربی یا فارسی نه راخیستي دي او معنی یا شکل ئې نۀ دے بدل شوے ـ هغه به په اصلي شکل کښې لیکلے شي ـ لکه ظالم ، قهر او عدل به زالم ، کهر او ادل نۀ شي لیکلے ـ

۲. هغه عربي یا فارسي الفاظ چې پښتو خپل کړي دي او شکل یا معنی ئې بدله شوې ده ـ هغه به هغسې لیکلے شي څنګه چې پښتو کښې وئیلے شي ـ لکه تپوس چې شائد

(c) ketabton.com: The Digital Library



,,تفحص ،، وۀ ـ خو پښتو کښې ئې معنٰی بدله شوې ده ـ یا وخت چې شکل ئې بدل شوے دے ـ

۳. د عربی مخصوص توري لکه ث ، ح ، ذ ، ص ، ض ، ع ، ف ، ق به یواځې په عربی کلمو کښې راځي ـ او پښتو کلمو کښې به ئې نۀ لیکو ـ لکه تورخم به طورخم یا تور خان به طور خان نۀ شي لیکلے ـ

۴. ,,ڼ ،، به ځانته توري ګڼلے شي ـ د ,,ن ،، نه پس به الفبا ترتیب کښې ځاے نیسي او نوم به ئې ,,نوڼ،، وي ـ دا تورے چې بایزید انصاري راوړے دے په افغانستان او بلوچستان کښې دغسې استعمالیږي ـ ,,کوڼړ [په غوربږ دروند] او رنړا ،، به کوڼ او رڼا لیکلے شي ـ

۵. د کومو کلمو په اخر کښې چې زوَر وي هغه به په پسته ,,ه،، لیکو ـ لکه ,, ورور ه ! خوشحاله اوسې ،، دا ,,ه،، به د زوَر علامت ګڼلے شي د تانیث علامت به نۀ شي ګڼلے ـ

۶. مد ( آ ) په پښتو کښې نشته، البته د نورو ژبو نه اخیستې شوي ټکیو کښې به هم هغسې لیکلے شي لکه آخر ، آمد ـ

۷. سخته ,, ه ،، لکه زړۀ ( دل ) کښې به د ,, ه ،، دپاسه همزه لیکلے شي ـ او پسته ,, ه ،، لکه زَړه (د نوي ضد ) به بې همزه لیکلے شي ـ مثلاً : زړۀ مې زړه کوتټې نۀ مني دا علامه په پښتونخوا کښې پخوا راسې هم دغسې استعمالیده ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸. ګ په پښتونخوا کښې د کاف د شوشې په کونډه لیکلې کېږي. خو په افغانستان کښې ئې ځینې خلق ګ لیکي. اوس به متفقه ,, ګ ،، لیکلې کېږي.

۹. ,, کښې ،، د پښتونخوا په یو لویه علاقه کښې د شین په اظهار وئیلې شي. په داسې کلمو کښې لکه کښیناستل، بخښنه، نخښه کښې به ,, ښ ،، ضرور لیکلې شي.

۱۰. یو ,, واو ،، داسې هم وي. چې بل توري سره شریک وئیلې شي. لکه فارسي کښې ,, خوان ،، پښتو کښې خولهٔ. په دې کلمو کښې واو د خ سره شریک ادا کېږي دې ته واو معدوله وائي . په فارسي کښې دا واو صرف د خ سره شریک راځي. خو په پښتو کښې د خ، غ، ل او ګ څلورو واړو نه وروستو شریک راتلې شي . لکه خوله، غونډه، ګوته، کونډه.

۱۱. واو مجهول ( مختصر واو ) د پښتو په خپلو کلمو کښې د پېش د علامت غوندې راځي. لکه پوښتنه، لومړے، اوبهٔ. دا به هم دغسې لیکلې شي. البته د نورو ژبو نه اخیستې کلمو کښې به واو نهٔ شي لیکلې . کلمه به اصلي شکل کښې لیکلې شي. لکه ګُل، بُلبل.

۱۲. معروف واو ( اوږد واو ) نه مخکښې توري باندې پېش لیکل ضروري دي. خصوصاً هغه وخت کښې چې د بلې کلمې سره مشابهت لري. مثلاً لُور به په لام پېش ضرور لیکلې شي چې د ,, لور ،، سره مشابه نهٔ شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



( ۵ )

فیصله دا اوشوه چې د پښتو مخصوص حروف ځ ، څ ، ږ ، ښ به هم د غسې لیکلے شي۔

د پښتو دا مخصوص توري اصل کښې مخصوص اوازونه وو۔ چې لیک دود کښې ورته مخصوص علامات ورکړے شو۔ رو رو هغه اوازونه بدل شو او په دوؤ لویو قبیلو کښې ئې ځان ځان ته ارتقا اوشوه۔ اوس دا داسې توري دي چې یو قبیله کښې یو شان اواز لري او بله کښې بل شان۔ مثلاً ښین په ختیکو کښې د شین په شان وئیلے شي۔ او یوسفزو کښې د خ په شان۔ لیک دود ئې یو دے او اواز بېل بېل۔

دې توریو کښې ټولونه وړومبے ,,ځ،، دے۔ د دې توري اصل تلفظ داسې دے چې د ژبې سر پکښې د برنو غاښونو سره اولګي۔ او د چ یو نیمګړے شان اواز پیدا کړي۔ د غه وجه ده چې دا تورے ځینې پښتانهٔ د سین په اواز او ځینې د ,, چ ،، په اواز وائي او لولي۔ لکه څادر چې ځینې پښتانهٔ ئې ,, چادر ،، او ځینې ,,سادر[څادر] ،، وائي او لولي۔

دا تورے اکثر په هغه کلمو کښې راځي چې زمونږ په مشرقي ګاونډي ژبو هندي ، پنجابي ، سرائیکي او سندي یا په مغربي ګاونډي ژبو فارسي ، دري ، پهلوي کښې په ,,چ،، لیکلے شي۔ لکه څادر ، چادر ، څلور ، چار ، چهار ، څرمن چې په سنسکرت کښې چرمن او فارسي کښې چرم ده۔ د پښتو اکېډیمي د لغت مطابق د څ اواز د ساکنې ,,څ،، او ساکن سین نه جوړ دے۔

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ,,څ،، نه پس بل مخصوص توری ,,ځ،، دی ـ دا اواز د ژبې د سر او د برنو غاښونو د سر په اتصال پیدا کېږي ـ انګرېزي کښې د D او Z مشترک اواز دې ته نزدې دی ـ د پښتو اکېډیمي په لغت کښې دا د اوز په اشتراک لیکلی شوی دی کومې کلمې چې د مشرق او مغرب په ګاونډي ژبو کښې په جیم ادا کېږي هغه اکثر او بېشتر پښتو کښې په دې شکل لیکلی شي ـ لکه ځوان، جوان ـ ځای، جای ـ دا توري د پښتنو ځینې قبیلې په جیم او ځینې په ز ادا کوي ـ لکه ځولۍ چې ځوک ورته جولۍ وایي او ځوک زولۍ ـ

د پښتو دریم مخصوص توری ,,ږ،، دی ـ ددې یو قسم خو د فارسۍ د ,,ژ،، په شان لیکلی شي ـ خو خالصو پښتو کلمو کښې ځینې قبیلې ژ ادا کوي او ځینې جیم کلمې لکه ژبه، جبه ـ ژوند، جوند ـ دا عموماً هغه کلمې دي چې د فارسۍ نه راخستې شوي دي ـ هلته ئې تلفظ ,,ز،، وو لکه ژبه، زبان ـ ژوند، زندګی ـ د پښتو ځینې قبیلې مطلقاً د ژ تلفظ ز ته نزدې نزدې کوي ـ

د ,,ژ،، دویم قسم د پښتو مخصوص علامت ,,ږ،، دی ـ دې اصلي تلفظ د غین او ګاف تر مینځه دی ـ او هغه ټول الفاظ په دې شکل لیکلی شي کوم چې ځینې قبیلې په ژ او ځینې په ګاف وائي ـ دا توری ډېر زیات استعمالېږي ـ ځکه چې د فعل حال ,,ږي،، په دې شکل لیکلی شي ـ ماتېږي، خوږېږي وغیره ـ

,,ښ،، په اصل کښې خو هغه ځای استعمالېدو ـ کوم ځای چې اواز د حلق په ځای د تالو له مینځه راووځي ـ په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شکل دا تورے د انګریزۍ د X سره نژدې دے ۔اوس په هغه ټولو کلمو کښې استعمالیږي کومې چې د پښتو ځینې قبیلې په ش او ځینې په خ ادا کوي ۔لکه پښتون ، پشتون ، پختون۔

دا کوم فرقونه یا استعمال چې اولیکلے شو دا د عامو او سرسري قاعدو د لاندې راځي ۔او ددې تورو د ټول استعمال احاطه نۀ کوي ۔په مخصوصو تورو کښې صرف هغه کلمې لیکلے شي چې پښتنې قبیلې ئې په استعمال کښې اختلاف لري او هر لیکونکے د داسې ټولو کلمو علم نۀ شي لرلے ۔بلکې شاید یو لیکونکے هم پوره پوره علم نۀ لري ۔پکار ده چې د ټولو قبیلو د مستندو عالمانو په اشتراک یو داسې فرهنګ مرتب شي چې د دا قسمه ټولو الفاظو احاطه اوکړي۔

په دې سلسله کښې د مذاکرې ټولو ممبرانو په اتفاق دا سفارش اوکړو چې پښتو اکیډیمي دې د مرکزي او صوبائي حکومت په مدد د استاذانو او طالب علمانو دپاره یو رهنما کتاب تیار کړي چې ددې ټکو په استعمال اشتباه ختمه شي۔

( ٦ )

یوه بله اهمه مسئله د ,,ی ،، د مختلفو شکلونو ده ۔په زوړ لیک دود کښې د عربۍ فارسۍ په شان د پښتو دپاره د ,,ی،، دوه شکله وضع کړے شوي دي ۔یَرته یا مجهوله ,,ے،، او غونډه یا معروفه ,,ی ،، د تلفظ په اعتبار سره دا دوه شکله د پښتو ضرورت نۀ پوره کوي ۔په پښتو کښې کم نه کم پینځۀ تلفظه د یو بل نه واضح جدا دي۔

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. د زور کي نه پس ے لکه سړے
۲. د زېر نه پس ي لکه سړي
۳. چې په ,,ی،، زور اچولے شي لکه جینۍ
۴. د فعل ,,ئ،، لکه اوکړئ
۵. او د زېر کي نه پس ,,ې،، لکه سړې اوبهٔ.

ددې ټولو تلفظونو دپاره جدا جدا علامات متعین کول ضروري دي چې په یو بل کښې اشتباه ختمه شي. ګني دا به ګرانه شي چې لغت کښې ,,سړے،، ته څهٔ معنٰی اولیکلے شي. مراد یخ ماتې اوبهٔ ؟

دې مذاکرې فیصله اوکړه چې:-

(۱) مجهوله ,,ے،، چې په خیبر پښتونخوا کښې پرته لیکلے کېږي. دا به دغلته هم دغسې لیکلے کېږي او افغانستان کښې په خپل طور.

مجهوله ,,ے،، هغه ,,ے،، ده چې مخکښې ترې د پښتو مخصوص حرکت ,,زورکے،، وي. لکه خدا ے، سړے، زمرے، څا ے. په اسمونو کښې دا ,,ے،،اکثر د واحد مذکر دپاره استعمالېږي. بهر صورت پېژند ګلو ئې په مخکښې حرف زورکے دے.

دا مجهوله ,,ے،، به د کلمې په مېنځ کښې په لاندې باندې ټکیو لیکلے شي. لکه خېر، ډېر

(۲) د پښتو مخصوصه ,,ې،، به د کلمې په مېنځ او آخر دواړو کښې په لاندې باندې ټکیو لیکلے شي. لکه سړې اوبهٔ. ماتې ډیوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښتو مخصوصه ,, ې ،، هغه ده چې مخکښې ترینه د پښتو مخصوص حرکت زبرکې وي ـ د ,, ې ،، دا تلفظ په بله ژبه کښې نشته او په پښتو کښې ډېر زیات دے ـ

دا ,, ې ،، په کوم کوم ځاے کښې استعمالېږي ـ اصل معیار خوئې اواز دے ـ د کومې ,, ې ،، نه چې وړاندې زبرکې وي. زبر نۀ وي ـ او لنډه وئیلې شي ـ هغه به ,, ې ،، لیکلې شي ـ یعنی کومه ,, ي ،، چې ,, د سړے ،، په شان پرته نۀ شي وئیلے او د ,, سړي ،، په شان مخکښې ترې واضح زبر نۀ وي ـ هغه مخصوصه ,, ې ،، ده ـ لکه :

أ- چې ، کښې ،ترې او متصل ضمیرونه ې، دې ، مې ـ

ب- د کوم مفرد اخر کښې چې ,, ه ،، وي ـ جمع ئې په دغه ئې راځي ـ لکه ښځه ، ښځې ـ شمه ، شمې ـ ډېر ، ډېرې ـ

ج- هم دغه مفرد د حروف مغیره نه وروستو لکه سروه ، د سروې ونه ـ

د- اسم مفعول ، واحد مؤنث لکه وهلې شوې ، خوړلې شوې.

ه- واحد مؤنث چې اخر کښې ئې سخته ی نۀ وي ـ لکه ادې ، بې بې وغېره ـ

مذکر خوړلے شوے مؤنث خوړلې شوې

و- فعل امر چې د مصدر لام په کښې حذف نۀ وي ـ دا اولیکلے شي ـ دا وو خوړلے شي ـ

ز- فعل نهي چې د مصدر لام په کښې حذف نۀ وي ـ دادې اونۀ لیکلې شي ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ح- فعل حال ، واحد مذكر، تۀ ځې-

ط- فعل مستقبل ، واحد حاضر، تۀ به ځې-

ي- فعل ماضي مطلق-واحد حاضر، تۀ لاړې-دغسي

په ماضي قريب او بعيد كښې په فعل استمراري كښې واحد حاضر، تۀ تللې او جمع مؤنث غائب، ښځې تللې-په ماضي تمنائي كښې واحد مؤنث حاضر، كاش تۀ تللې وے-او واحد مؤنث غائب كاش هغه تللې وے (واحد مذكر حاضر او غائب به په مجهوله ئے ليكلے شي) په شرطيه كښې هم دغسي-

دا يو څو مثالونه دي-اصل قانون ئې هم دغه دے-چې د كومې يې نه مخكښې زېركے وي-هغه به په غونډه ,,ې،، او لاندې باندې ټكي ليكلې شي-,,ې،،

(۳) يائې تانيث به په اخر كښې د كش سره ليكلے شي -لكه كرسۍ، جينۍ-

په دې ۍ كښې به د ۍ د مخكښې حرف فشار پرېوځي او دا صرف په مؤنثو اسمونو كښې استعمالېږي-

(۴) د فعل دپاره به د غونډې ,,ئ،، د پاسه همزه ليكلے شي-لكه اوكړئ، اومنئ-

(۵) د معروفې ئې دپاره به د ,,ي،، د لاندې دوه ځنګ په ځنګ ټكي ليكلے شي-چې د افغانستان د مجهولې ی سره اشتباه نۀ شي-معروفه ي هغه ده چې مخكښې ترې واضح زېر وي-لكه سړي، زمري، په خالصو پښتو الفاظو كښې دا عموماً د سنه مفرد جمع راځي-چې اخر كښې ئې معروفه (ي) وي-لكه سړے نه سړي-په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغسې لفظ چې حروف مغیره داخل شي هم پرته (ے) په یائې معروفه کښې بدلیږي ـ لکه د زمري نوکه، په عربي فارسي الفاظو به د اصل مطابق لیکلے شي ـ

(۲) په ضمیر متصل اویئ کښې به په ئې باندې همزه لیکلے شي او مخصوصه ئې به لیکلے شي ـ په یې کښې به یوه ,, ې ،، لیکلے شي ـ او په بله ی به همزه لیکلے شي ـ لکه یئ ـ

د ,, ی ،، دا مختلف استعمالونه په افغانستان او بلوچستان کښې رائج دي ـ او لیکونکي ورسره عادت شوي دي ـ انشاء الله دلته به ورسره خلق ډېر زر عادت شي ـ او بیا به پکښې څۀ تکلیف نۀ وي ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پښتو په ليک لار

## د باره ګلی د مذاکرې فيصلې

د پښتو ليک لار د پاره کومه کمېټي چې په متفقه ډول منتخب کړې شوه هغې د پښتو د ليک لار په باره کښې متفقه فيصلې داسې اوکړې :-

۱. هغه کلمې چې د عربۍ او فارسۍ نه پښتو ته راغلي دي - او معنٰی ئې هم هغه ساتلې ده هغه به په خپل اصل شکل کښې ليکلے شي لکه قميص ، قصه ، ضعيف -
او هغه کلمې چې پښتو خپلې کړي دي - معنٰی يا شکل ئې بدل شوے ، هغه به په پښتو کښې په اوښتي شکل ليکلے کيږي لکه تپوس ، پام او د عربۍ مخصوص ټکي به د پښتو په کلماتو کښې نۀ ليکو - مثلاً تورخم به په ,,ت ،، ليکو په ,, ط ،، به ئې نۀ ليکو -

۲. ,,ڼ ،، به د يو توري په شکل کښې د پښتو په اب ت يعني حروف تهجي کښې د ,,ن ،، نه وروستو ليکلے شي او نوم به ئې ,,نوڼ ،، وي -

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳. هغه کلمې چې په اخر کښې زور لري هغه به په ,, ه ،، لیکلې شي لکه خوشحاله ( مذکر ) خوشحاله (مؤنث) او دغه ,, ه ،، به د تانیث مخصوص علامت نهٔ شي ګڼلې.

۴. ,, مد ،، په پښتو کښې نشته.

۵. مجهوله ,, ے ،، چې په قطبي پښتونخوا کښې پرته لیکلې کېږي هغه به هم داسې پرته لیکلې شي. لکه سړے وغېره. البته په افغانستان او سویلي پښتونخوا کښې به د دوي د خپل لیک دود سره سمه د مخکښې په شان لیکلې کېږي.

۶. مخصوصه ,, ې ،، به د کلمې په مېنځ کښې ,, ې ،، داسې او اخر کښې ,, ې ،، لیکلې شي لکه سړې اوبهٔ، خبر وغېره. مجهوله یعني پرته ,, ے ،، به هم د کلمې د مخصوصې ,, ې ،، غوندې لیکلې شي.

۷. د معروفې ,,ي ،، له پاره به دوه ځنګ په ځنګ ټکي ,,ي ،، لیکلې شي لکه سړي ، زمري وغېره.

۸. یائې تانیث ,, ی ،، به په اخر کښې د کش سره لیکلې شي لکه کرسی ، چینی وغېره.

۹. د فعل امر دپاره به د مخکښې غوندې ,, ی ،، دپاسه ,, ء ،، لیکو لکه اوخورئ ، اوکړئ وغېره.

۱۰. په ضمیر متصل او ,, ئې ،، کښې به په ,, ی ،، باندې همزه لیکلې شي او مخصوصه ,, ې ،، به لیکلې شي او یا به

(c) ketabton.com: The Digital Library



,,ی،، او مخصوصه ,,ې ،، لیکلے شي لکه په يئ کښې به يوه ,,ی ،، او دوېمه ی ،، باندې همزه لیکلے شي۔

۱۱. په داسې ,,ه ،، کښې لکه زړۀ ، ښۀ ، بۀ ، تۀ د مخکښې په شان د ,,ه ،، دپاسه ,,ء ،، لیکو یعني زړۀ ، ښۀ ، څۀ کښې به د ,,ه ،، دپاسه ,,ء ،، وي په افغانستان او سوېلي پښتونخوا کښې به هم دغه رنګ لیکلے شي۔

۱۲. ,,ګ ،، به په کونډه لیکلے شي۔

۱۳. کښې کښېناستل ، نخښه او داسې نور ټکي به هم دغه رنګ لیکلے شي۔

۱۴. معدوله ,,واو ،، به د ټکیو نه نۀ شي غورزولے لکه خولۀ ، خواږۀ ، ګوند ، غوندې وغیره۔

۱۵. هغه ټکي یا کلمې چې د عربۍ او فارسۍ نه د پېښ په حالت کښې راغلي دي ، په پېښ به لیکلے شي - یعنې په خپل رنګ کښې لکه ګل ، بلبل - هغه پښتو کلمې چې پېښ لري هغه به په مجهول ,,واو ،، لیکلے شي لکه پوښتنه مور او نور۔

۱۶. معروف واو به د کلمو نه نۀ غورزولے کېږي - او دپاسه به پېښ ورکولے شي لکه نُور ، سُور وغیره۔

۱۷. د پښتو مخصوص توري څ ، ځ ، ښ ، ږ به همدغسې لیکلے شي۔

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کمیټې سفارش دے چې پښتو اکېډمي دې د مرکزي او صوبائي حکومت په مرسته د استاذانو او طالبعلمانو دپاره یو رهنما کتاب تیار کړي چې د دې تکیو په استعمال کښې اشتباه ختمه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زيرِ دستخطي

۱. جناب پروفیسر سید تقویم الحق کاکاخیل
۲. جناب پروفیسر جهانزیب نیاز
۳. جناب پروفیسر نصیرالدین
۴. جناب حبیب الله رفیع
۵. جناب منتظر بیټني
۶. جناب عبدالکریم بریالے
۷. جناب همیش خلیل
۸. جناب ډاکټر محمد اعظم اعظم
۹. جناب ډاکټر خالد خان خټک
۱۰. جناب محمد پرویش شاهین
۱۱. جناب پروفیسر محمد افضل رضا (اعزازي ممبر)
۱۲. جناب پروفیسر خواجه محمد سائل
۱۳. جناب نور شاه جهان انور
۱۴. جناب سیال کاکړ
۱۵. جناب ډاکټر ګل جان ورور وردګ (اعزازي ممبر)
۱۶. جناب سید احمد مومند
۱۷. جناب ډاکټر محمد اسرار (اعزازي ممبر)
۱۸. جناب ډاکټر محمد اقبال نسیم خټک
۱۹. جناب خیبر افریدے
۲۰. جناب [illegible] مغموم

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا فیصلې اګرچې تر ډېره حده واضحه دي خو بیا هم ځینې په کښې تشریح طلب ښکارېدې ، ځکه نو دلته ئې په دې غرض په تفصیل سره بیانوؤ چې یو خو عام لوستونکي په دې نوې املا پوهـ شي او یا که په نوې املا کښې لیکلي کتابونه رسالې خوک لولي نو چې لوستونکې په کښې څۀ تکلیف محسوس نۀ کړي -

په عام فهمه ژبه کښې د دغه ټولو فیصلو وضاحت کړے شوے دے او د زیاتو ګرائمري اصطلاحاتو نه مو ځان ژغورلے دے - بیا هم چېرته چې داسې اصطلاحات راغلي دي د هغوي وضاحت تر خپله وسه کړے شوے دے - که چا ته په دې کښې څۀ ابهام ښکاره شي یا څۀ تېروتنه په کښې شوې وي که هغه په ګوته کړے شي او یا څۀ نور تجویزونه په دې لړ کښې راواستولے شي نو مننه به وي-

(c) ketabton.com: The Digital Library



## وروستۍ فیصله :

هغه کلمې چې د عربۍ او فارسۍ نه پښتو ته راغلي دي او معنی ئې هم هغه ساتلې ده . هغه به په خپل اصل شکل کښې لیکلے شي . لکه قمیص، قیصه ، ضعیف وغیره .

پښتو ژبه کښې ډېر داسې ټکي دي چې د عربۍ او فارسۍ نه پښتو ته راغلي دي او پښتو کښې هم په هغه معنی استعمالېږي . کومه چې ئې په دغه ژبو کښې ده . د داسې قسمه ټولو ټکيو ، کلمو په حقله دا فیصله شوې ده چې د دیو په املا کښې به بدلون نهٔ شي راوستے ، که هر څو د داسې ټکيو تلفظ کله کله ګران هم شي . ولې یو خو دا ټکي د خپلې اصلي املا له لحاظه اوس پښتو کښې مانوس شوي دي او د خالصې معنې راز هم په کښې دے .

پښتو ا ، ب ، ت یعنې حروف تهجي کښې ځینې توري هغه دي چې د عربۍ د اوازونو دپاره مخصوص دي د داسې توریو صحیح تلفظ یعنې د اواز ویستو طریقه یواځې د عربۍ ژبې وئیونکي کولے شي د نورو قامونو دپاره ئې ادا کول ګران دي . تر څو چې د بلې ژبې خاوند د تجوید او قرأت په فن پوهه نهٔ وي . دغه مخصوص توري دا دي .

ح ، ص ، ض ، ط ، ظ ، ع ، غ ، ث ، ذ او ق

دا اکثر په وئیلو کښې مشکل پېدا کوي خو دومره ګران نهٔ دي . په پښتو کښې چې مونږ ګورو په دغه مخصوصو د عربۍ تورو کښې ړومبۍ پسته ,, حې ،، ح ده . دې ته طنزاً د حلوا حې هم وائي . ددې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اواز پښتو کښې اکثر د الف د اواز په شان کېږي او نږدې نږدې د هر هغه تکي اواز په الف کولے شي چې د غه حې لري حلوا ته الوا ، حرام ته ارام ، حُسن ته اُسن وغېره .خوشحال کښې دا ,, ح ،، په مېنځ کښې راغلې ده .ولې اکثر خوشال تلفظ کېږي .او داسې نور.

د ,, ص ،، اواز په ,, س ،، کولے شي .د ص چې کوم مخصوص اواز دے .د هغې ادا کول د عربو نه سېوا نور خوک په اسانه نهٔ شي کولے .پښتانهٔ هر چېرته دا اواز د خپل فطرت په مطابق په س کوي .داسې حال د ,, ض ،، هم دے .ضاد ، ضواد یا دواد وئیلے شي.

په روزمره ژوند کښې د ض اواز په ,, ز ،، کولے شي لکه زمانت ، زامن وغېره .چې په اصل کښې ضمانت او ضامن دي کله کله په ,, د ،، هم ادا کولے شي .لکه رضوان ته ردوان .خو د ,, ض،، په خپل اواز کښې لاتر اوسه په نمانځهٔ کښې هم د والزالین او والدوالین جګړه ده .داسې د ,,ط،، اواز په ,, ت ،، او د ,, ظ ،، دپاره د ,, ذ ،، په شان اواز وباسلے شي او هم دا قاعده جوړه شوې ده .ددې تورو اوازونه د خپل فطرتي مخرج په بنیاد ادا کولے شي.

اوس سوال دا پېدا کېږي چې هر کله یو تکے مونږ څنګه وایو هغه شان ئې لیکو ولې نا .نو په دې خبره د کافي غور و فکر نه پس دا فېصله شوې ده چې کوم تکي د عربي ، فارسي یا د نورو ژبو نه پښتو ته راغلي دي او هم په هغه معنو کښې استعمالېږي. کومې معنې چې ئې په خپلو اصلي ژبو کښې دي هغه به په املا کښې هم هغه شان لیکلے کېږي او شاید ددې ضرورت له مخه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتو د حروف تهجي نه د عربۍ یا فارسۍ هغه مخصوص توري نه شي ویستلی ـ که هر څو ئې مونږ سره اواز یا مخرج نشته ـ لکه قمیص به کمیس نهٔ لیکو ـ ځکه چې قمیص د عربۍ ټکی دی او معنٰی ئې هم بدله نهٔ ده ـ ضعیف د عربۍ ټکی دی او خپله معنٰی لري ځکه نو ضعیف به مونږ هم په هغه رنګ لیکو ـ ظرف که زرف اولیکلی شي غلط به وي ـ علاج ، علامت ، صبا ، صحیح ، قمیص ، قیصه ، حلوا ، حرام ، ضبط ، ضابطه ، طریقه ، طور ، ظالم ، صراف او داسې نور ډېر ټکي چې د دیو ژبو نه راغلي دي ـ پښتو کښې ئې عام رواج موندلی دی او معنٰی ئې هم دغه ساتلې ده ـ نو دا به په خپله اصلي املا : کښې لیکلی شي ـ

## دویمه فیصله :ــ

,, هغه کلمې چې پښتو خپلې کړې دي معنٰی یا شکل ئې بدل شوی دی هغه به په اوښتې شکل لیکلې کېږي ـ لکه تپوس ، پام او د عربۍ مخصوص توري به د پښتو په کلماتو کښې نهٔ لیکو ـ مثلاً تورخم به په ,, ت ،، لیکو په ,, ط ،، به ئې نهٔ لیکو ،،ـ

دا د غور وړ خبره ده ـ کله کله په املا کښې داسې بې احتیاطي راشي چې د ټکي تول املا ګډه وډه کړې شي ـ ددې نفسیاتي یا فطري جواز هم وي او د Confusion یو صورت راپیدا کړي ـ هغه داسې چې هر کله مونږ د عربۍ مخصوص توري پکاروؤ او تلفظ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ئـې د خپـل فطـري مخـرج پـه مطـابق کـوؤ نـو لاشـعوري تـاثر دا راولاړېږي چې کنـي هسـې هـم د ,, ت او ط اواز يـو شـان د ے يـا د ,,ع،، او ,, الــــف ،، او ,,ح ،، د ,,ص ،، او ,,س ،، د ,,ض،، او د ,,ذ ،، د ,,ز ،، او

,, ظ ،، د ,,ک،، او د ,, ق،، وغيـره دغــه سـبب د ے چې په بې احتياطۍ داسې املا غلطه کړ ے شي.

مونږ به هغه ټکي چې خالص د پښتو دي يا د بلې ژبې نه پښتو ته پخوا راغلي دي خو شکل ئې لـه پخـوا راسـې بـدل شـو ے د ے يا ئې معنى بدلـه شوې ده نـو داسـې ټکـي بـه مـونږ د پښتـو پـه خپلو توريو ليکو. وړومبۍ خبره دا ده چې پر دي ټکـي چې مفغن يا پښتو شوي دي لکه تپوس چې د پوښتنې په معنو کښې راځي. اصلاً د عربۍ تفحص نه په پښتو کښې تپوس شو ے د ے. پام د فهم نه پام شو ے د ے. داسې ځينې نورې ډېرې کلمې چې پښتو کښې ئې خپل شـکل يـا پښـتني رنـګ قـايم کـړ ے د ے. هغـه بـه مـونږ د عربـۍ پـه مخصوصو توريـو نـۀ ليکـو بلکې پـه اوښـتي شـکل کښـې چې څنګه پښتو کښې رائج دي هم هغسې به ئې ليکو. که معنى ئې بدلـه شوې نۀ هم وي د داسې ټکيو شمېر به يقيناً چې د ګوتو پـه شمېر وي. يعنې کم به وي خو دا لحاظ ساتل پکار دي او دغـه ټکـي اوس پښتو شوي دي.

دې سره دا فيصله هم ده چې د پښتو پخپلو ټکيـو کښې بـه د عربۍ مخصوص توري نۀ ليکو لکه تورخم، تـوره او ځينې نور د پښتو داسې کلمې، ټکي چې د پښتـو وي دا بـه پـه ,,ت،، ليکو. که

(c) ketabton.com: The Digital Library



چېرې دا په ,, ط ،، اوليکلې شي يعنې طورخم ، طوره نو دا به غلط وي ـ هلې ، هلېوکې ، هوډ که چېرې حلې ، حلېوکې يا خوډ څوک اوليکي نو دا غلط دي ـ سحر ، ساګ او سر به صحر ، صاګ يا صر نهٔ ليکو ـ زيات ، زمرے ، زانګو به ضيات يا ضياط يا ځيات او ضمرے ، ظمرے ، ضانګو نهٔ شي ليکلې ـ

دې سره دا خبره هم ياد ساتل پکار دي چې په پښتو کښې د عربۍ د مخصوصو توريو سره سم د ځينې مخصوصو پښتو توريو اوازونو کښې هم اکثر غلطي را وړاندې کېږي ـ د ,,ذ ،، او ,,ز ،، اواز نهٔ يواځې د عربۍ په مخصوصو توريو سره غلط کړے کېږي بلکې د پښتو مخصوص توري ,,ځ ،، سره هم اکثر غلط شي ـ ,,ځ ،، چې د ,,ج ،، او ,,د ،، ترمينځه د پښتو يو مخصوص اواز دے ځينې لهجې ئې تلفظ کښې د ,,ز ،، په ځاے استعمالوي ـ دا هم غلطي ده ځکه چې پښتو کښې د ,,ځ ،، خپل مخصوص اواز دے او د ,,ز ،، خپل عام اواز دے ـ نو په هغه توريو کښې خصوصي احتياط پکار دے چې په ,,ځ ،، ليکلې شي ـ

وړاندې ذکر شوي ټکي او داسې نور چې د ,,ز ،، يا ,,ذ ،، ټکي دي هغه که په ,,ځ ،، اوليکلې شي نو غلط به وي ـ لکه زيات ، زمرے او زور که ځيات ، ځمرے او ځور څوک ليکي نو غلط دي ـ

دا شان ,, اواز ، اباسين ، ارام ،، که څوک ,, عواز ، عواظ ، عواض ليکي يا اباسين ، عباسين ، عباصين ليکي نو ناروا ده ـ ارام که عرام ليکي يا هرام ليکي غلط دے ـ کار به قار نهٔ ليکو ـ کور به قور نهٔ وي ـ البته قار د عربۍ د قهر نه بدل شوے دے ـ او

(c) ketabton.com: The Digital Library


پښتو کښې داسې ټکي چې چرګي ,,هـ،، لري د ,, الف ،، اواز ورکوي که د ټکي په مېنځ کښې راشي او په بدل شکل يا پښتني شکل هغه ټکي وليکلے شي چې دا ,,هـ،، لري نو باک ئې دومره نشته خو چې اواز ئې پښتو کښې بدل شوے وي هله.

په داسې قسمه توريو کښې يو اواز د ,, ف ،، هم دے.

,,ف،، پښتو کښې اکثر نشته خو اواز ئې اسان دے. او پښتانه ئې په اسانه ادا کولے شي. دغه وجه ده چې د ,,ف ،، اواز اوس پښتو کښې عام دے. کوم ټکي چې د پښتو په ,,پ،، کښې دي. د ,,ف،، کله کله غلط استعمال په کښې راځي يعنې د استعمالولو غلطي ئې په نورو داسې ټکيو کښې راشي چې ,, ف ،، او ,, پ ،، دواړه توري لري. په دې ټکيو او ددې په تلفظ کښې احتياط پکار دے.

داسې ډېر ټکي دي چې د ,, ه ،، ,, هـ ،، او ,, الف ،، د اواز اشتراک لري. خو په املا کښې د ټکي خپل اصل شکل د هغې املا او د صحيح املا دپاره پکارول پکار دي.

داسې ټکي پېژندل پکار دي چې په کومو کښې دا توري راځي د مثال په ډول هېڅ ، هغه ، هم وغېره داسې ټکي دي چې دا ,, هـ ،، به په کښې وي نو دا د پښتو خپل ټکي به په ,,ه،، يا ,,هـ،، ليکلے شي. په الف به نۀ شي ليکلے. دې پسې فيصله د ,, ڼ ،، د توري په باره کښې ده چې :-

,, ڼ ،، ديو توري په شکل کښې د پښتو په ا ،
ب ، ت يعنې حروف تهجي کښې به د ,,ن،، نه
وروستو ليکلے شي او نوم به ئې ,,نوڼ ،، وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


,, ڼ ،، د نون او ړ د مخصوص غبرګ اواز دپاره مشرانو ډېر پخوا رائج کړے وۀ. خو استعمال ئې چېرته کېدو او چېرته نه. په پښتو کښې د ،، ن ،، او ,, ړ ،، اکثر غبرګ اوازونه راځي. او داسې هم وي چې په يو ټکي کښې د ن او ړ جدا جدا اواز هم وي. هر کله چې داسې ټکي به ددې فېصلو نه وړاندې يو رنګ ليکلے شول يعنې د نړ په شکل کښې نو اکثر به د غلط تلفظ ويره وه. د مثال په توګه کُونړ او کونړ په دغه لحاظ د املا د مخه يو شان ټکي دي. يو خو د هغه کوڼ دپاره وو چې غوږونه ئې خراب وي او څۀ اوري نه او بل د افغانستان يوه مشهوره سيمه کونړ دے. داسې قسم نور ټکي هم کېدے شي.

ولې ددې نه زياته ضروري خبره په پښتو کښې د يو مخصوص اواز وه چې څۀ تورے ئې نۀ لرلو يا څۀ داسې علامت ورته نۀ وو وضع کړے شوے چې دغه اواز پرې ادا کړے شي. يعنې په ظاهره خو دا اواز د ,, ن ،، او ,, ړ ،، مرکب شانې اواز دے. خو مرکب نۀ دے. بلکې د ,, ن ،، او ,, ړ ،، د مخرجونو په يو ځاے استعمال لري. لکه پڼه، رڼا، څڼه، ګڼ وغيره. هم ددې ضرورت له مخه په پښتو کښې دا تورے شامل کړے شوے دے او د يو مستقل توري په حېث په پښتو کښې د ډېر پخوا راسې رائج وۀ. ولې فېصله پرې نۀ وه شوې يا که شوې وه نو چېرته منلے شوه او چېرته نه.

اوس په متفقه ډول دا فېصله اوکړے شوه چې دا ,,ڼ،، به د پښتو د ا. ب. ت يا حروف تهجي يو مستقل تورے وي او په ترتيب کښې به د نون نه پس ليکلے شي. په دې حساب دا د پښتو شپږ د ډېرشم ,, ۳۲ ،، تورے اوګرځولے شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ا ب پ ت ټ ث ج ځ چ څ ح خ د ډ ذ ر ړ ز ژ ږ س ش ښ ص ض ط ظ ع غ ف ق ک ګ ل م ن ڼ و ه (هـ) ي ې ی ۍ ئ ے او د خپل مخصوص اواز کوم چې په رښا ، څښه ، ښه ، ګڼ ، تښا ، شښا وغیره کښې ښکاري هلته به لیکلے شي - چېرته چې د ن او ړ جدا اوازونه وي هغه به جدا لیکلے شي -

## دریمه فیصله :-

هغه کلمې چې په اخر کښې زوَر لري هغه به په ,, ه ،، لیکلے شي -لکه خوشحاله مذکر خوشحاله مؤنث او دغه ,, ه ،، به د تانیث مخصوص علامت نهٔ شي ګڼلے -

دا یوه اهمه فیصله ده - په دې چې دا ,, ه ،، په پښتو کښې اکثر د تانیث علامت دے او په هر هغه اسم کښې چې دا ,, ه ،، په اخر کښې راځي اکثر مونث وي او دا د تانیث د اسم جوړولو قاعده هم ده - ډېر داسې مذکر اسمونه دي چې ,, ه ،، ورسره اولګولے شي نو مؤنث شي - د چرګ نه چرګه - سپین نه سپینه - روغ نه روغه وغېره - ددې نه سېوا هم په پښتو کښې ځائې مونث اسمونه هم هغه دي چې په اخر کښې ئې دا ,,ه ،، وي - لکه کوټه ، بوساړه ، لاره ، شنه ، تره وغېره - خو هر کله چې په پښتو کښې یوه قاعده دا هم ده چې د ګرامري اصولو له مخه صفتي اسمونه په جملو کښې په بل Case کښې داسې استعمالولے شي چې د اسم په اخري توري زور لګي او اواز ئې هم داسې شي لکه چې ددې ,, ه ،، اواز ورکوي - د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مثال په ډول به مذکر او مؤنث اسمونه وړاندې کړو ـ خوشحال او خوشحاله ـ خوشحال مذکر او خوشحاله مؤنث دے ـ اوس د جملې په یو مخصوص Case کښې مونږ وایو چې فلانے سړے خوشحاله دے یا هغه ناروغه دے یا اتاله دے وغیره ـ نو دا فیصله اوکړے شوه چې داسې مذکر اسمونه به په اخري توري د زور سره نهٔ ځرګندوؤ بلکې دا ,, ه ،، به ورسره لګوؤ او هر کله چې د مذکر اسم سره د جملې په ساخت کښې ,, ه ،، لګولے شي نو بیا پکار نهٔ ده چې دا ,, ه ،، د مونث اسم دپاره مخصوصه ګڼلے شي ـ چونکه دا په وېنا کښې دواړو اسمونو سره راځي نو مؤنث اسمونه چې په دغه ,,ه،، لیکلے شي هغه خو دي ،ولې ضروري نهٔ ده چې د تانیث علامت دې اوګڼلے شي ـ که هر څو مونږه دا قاعده او ترکیب لرو ـ خو د مذکر دپاره به هم په خپل مخصوص ځاے کښې استعمالېدے شي ـ هغه اوازونو کښې چې د مذکر اسم ئې په یو خاص حالت کښې لري ـ زوَر به نهٔ لګي بلکې دا ,, ه ،، به لګولے شي ـ په دې لحاظ به دا ,, ه ،، ددې نه پس د تانیث مخصوص علامت نهٔ وي ـ

## څلورمه فیصله

,, مد ،، په پښتو کښې نشته ـ

مد د عربي د اعرابو یو علامت دے او په ډېرو هغه اوازونو کښې چې یو ولاړ او اوږد تال په کښې ورکولے شي استعمالېږي ـ دا اکثر د الف د توري په سر راځي ـ په پښتو کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي استعمال نشته ـ البته د عربي ، فارسي يا اردو له اثره چې کوم ټکي پښتو ته راغلي دي ـ د هغو سره مد هم راغلے دے ـ حالانکې د پښتو خپل داسې اواز نشته ـ اردو ژبې د ځينو خالصو هندي ټکيو دپاره هم مد لازمي ګڼلے دے ـ چې دا اواز دغه رنګه تال لري ـ نو هر کله چې د اردو نه هغه ټکي پښتو ته راتلل ، نوم خو ئې بدل نهٔ کړو ولې د پښتو د مزاج له مخه ترې په وېنا کښې مد اوغورزولے شو او په عامه ژبه کښې چې هر چېرته د بلې ژبې کوم مخصوص ټکے وي د هغې نه علاوه هم مد غورزولے شي ـ دا قسمه نومونه يا کلمې په پښتو کښې د پښتو په قاعده عام استعمالېږي او د مد په ځاے په کښې د زور اواز ورکولے شي ـ

نو هر کله چې په پښتو کښې د مد استعمال نشته او بيا هم په ځينو کلمو کښې د اردو د اختلاط له وجې ليکلے شي بې ځايه ښکاري او هلته خو بېخي بې ضرورته ليدے شي چې کلمه د پښتو وي او مد پرې اولګولے شي ـ ځکه دا فېصله اوکړے شوه چې مد پښتو کښې نشته او د پښتو په کلمو به نشي لګولے ـ آم ، آواز ، آزاد کښې چې په الف کوم مد دے دا پښتو کښې د زور اواز دے ـ اَم ـ اَواز ، اَزاد وغېره ـ

## پينځمه فيصله

مجهوله ,, ے ,, چې په قطبي پښتونخوا کښې پرته ليکلے کېږي هغه به هم داسې پرته ليکلے شي لکه سړے ، زمرے وغېره ـ البته په

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان کښې او سوېلي پښتونخوا کښې به
د دوي د خپل ليک دود سره سمه د مخکښې
په شان ليکلې شي-

دا فېصله هم ډېر اهميت لري - ددې نه وړاندې د مجهولې
,, ے ،، په استعمال کښې ډېره زياته بې احتياطي کېده - او ددې بې
درېغه غلط استعمال د پښتو په املا کښې ډېر خرابې راوستې وۀ - د
باره ګلي په مذاکره کښې په دې ډېرې خبرې اوشوې چې پکښې د
سوېلي پښتونخوا کوئټې او د افغانستان پوهان شامل وو - په
سوېلي پښتونخوا کښې او هم په افغانستان کښې د مجهولې
,, ے ،، پروت شکل نشته او هغوي په هغه اسمونو کښې چې
مجهوله ,, ے ،، لري - پرته نۀ ليکي - او د پښتو د پخوانۍ املا د
يائې معروف په شان ئې ليکي - هغوي سره د مجهولې ,, ے ،، د
داسې استعمال ښۀ جواز هم شته - ولې هر کله چې په قطبي
پښتونخوا کښې دې پرتې ,, ے ،، ډېر عام رواج موندلې دے - که د
کلمې په مېنځ کښې نۀ وي نو په اخر کښې خو د تذکير يو علامت
شان هم ګرځېدلې دے - د قطبي پښتونخوا پوهانو د موقف مطابق
په دې وخت کښې ددې ,, ے ،، استعمال ترک کول مناسب نۀ
ښکارېدۀ او نۀ داسې صورت حال وۀ چې د سوېلي پښتونخوا يا د
افغانستان عالمانو سره پرې اتفاق راغلې وے - نو په دا سبب دا
فېصله اوشوه چې د قطبي پښتونخوا په املا کښې به ددې
استعمال د خپل صحيح استعمال په رنګ کښې کېږي - البته په
دغه ذکر شوو سيمو کښې به ددې ,, ے ،، په املا کښې استعمال

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمونږ په رنګ ضروري نۀ دے هغوي به ئې په خپل رنګ کښې لیکي او مونږ به نې هم داسې په پروت شکل کښې لیکو ـ اوس سوال دا پېدا کېږي چې دا اختلاف دې برقرار ولې وساتلے شي ـ نو اختلاف د لهجې فرق دے او د لهجې د فرق د څرګندولو د پاره ددې په استعمال کښې څۀ عیب نۀ ښکاري ـ

دلته چې د پښتو په ا ب ت یعنې حروف تهجي کښې د ,,ی،، ګانو کوم رنګ دے ـ هغه په داسې,, ي ې ی ئ ے ،، په دې کښې وړومبی ,, ي ،، یا ئې معروف دوېمه یا ئې مخصوص درېمه یائې تانیث څلورمه فعلي ی ( چې د فعل په مناسبت به پرې د پاسه همزه لګولے شي ) او هم دا ,,ی،، به د افغانستان یا د سوېلي پښتونخوا په املا کښې د یائې مجهول په طور استعمالېږي ـ د فعل په حال کښې به پرې البته هر چېرته ,,ء ،، لګولے شي ـ

اخري ,, ے ،، مجهوله ,, ے ،، ده ـ او په قطبي پښتونخوا کښې د کلمې په اخر کښې ددې ,, ے ،، استعمال هلته کېږي چېرته چې اسم یا اسم صفت یا په فعل کښې د تذکیر د علامت په توګه راځي ـ په دا لحاظ دا ,, ے ،، د کلمې فعل یا د اسم د مذکر کېدو نخښه هم ده ـ او قاعده هم ـ په اسم کښې لکه سړے ، زمرے ، نرے ، تندے ، پتے وغېره ـ د تذکیر په فعل کښې لیکلے ، تللے ، کتلے ،راغلے ـ د صفت په اسم کښې ښاغلے ، ساتلے ، ښکلے وغېره ـ

لکه مذکر :- سړے راغلے دے ـ

مؤنث :- ښځه راغلې ده ـ

تندے داغلے دے ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library


پوزه داغلې ده.
پتې ئې ګټلې دې.
باړې ئې ګټلې ده.
هلک ښاغلې دې. جينۍ ښاغلې ده.

مذکر :- ته ښکلې ئې ـ مؤنث :- ته ښکلې ئې وغيره.

نو د مذکر او مؤنث امتياز په اسانه ددې يې ګانو د صحيح استعمال په سبب کېدے شي. دا او داسې نور جوازونه هم وو چې ددې ,, ے ،، استعمال په قطبي پښتونخوا کښې په ځاے اوساتلے شو او د سوېلي پښتونخوا او افغانستان ورسره هم اتفاق راغے. بل حالت هم د ليک دود لوست له رويه څۀ داسې وۀ چې مونږ په کښې ددې ,, ے ،، استعمال په خپله املا کښې ترک کولے نۀ شو.

البته دا خبره بايد چې صلائې عام شي. په املا کښې که څوک ددې ,, ے ،، د استعمال پيروي هغسې کوي څنګه چې ئې مونږ په قطبي پښتونخوا کښې کوؤ. نو څۀ پابندي دې نۀ وي. مطلب دا دے چې که د سوېلي پښتونخوا خلق ئې په اسانه په خپله املا کښې رائج کولے شي نو بايد چې رائج شي.

## شپږمه فيصله :-

مخصوصه ,, ې ،، به د کلمې په مېنځ کښې ,, ېـ ،، داسې او په اخر کښې داسې ,, ې ،، ليکلے شي.
لکه سړې اوبۀ ، خېر وغيره. مجهوله يعنې پرته

(c) ketabton.com: The Digital Library



,,ے ،، به هم د کلمې په مېنځ کښې د ,,ې،، د
مخصوصې ,,ې،، غونډې ليکلے شي۔

د مخصوصې ,,ې،، شکل چونکې په پښتو کښې مخصوص دے بل چېرته نشته نو په دا سبب دا فېصله هم پخوا شوې ده او اوس هم ددې د ليکلو په مناسبت دا فېصله اوشوه۔

د يائې مخصوص اواز په پښتو کښې داسې دے چې د عربي د زبر سره نزدې دے۔خو ددې نه لږ شان ي ته راجخت دے۔په اردو کښې د ,,ی،، دوه اوازونه دي ۔يعنې د مجهولې ,,ے،، اواز او د معروفې ,,ی،، اواز د پښتو د يائې مخصوص ,,ې،، اواز ددې دواړو تر مېنځه يو قسم اواز لري۔

د مثال په طور ددې اواز فرق که مونږ کورو يو تکے سړے (نر) به واخلو ۔ددې جمع ,,سړي،، ده ۔په سړے کښې مجهوله ,,ے،، ده او په جمع کښې ئې معروفه ,,ي،، راځي او دا قاعده هم ده چې هر چېرته مونږ د مذکر د داسې اسم جمع کوؤ نو معروفه ,,ي،، به راځي ۔لکه ,,سړے روغ دے،، ددې جمع شوه ,,سړي روغ دي،، په سړے کښې چې څنګه اواز دے هغه په سړې اوبه کښې بدلېږي ۔يعنې سړے او سړې (يخې) کښې د ,,ی،، د اواز فرق دے ۔دا يائې مخصوص د کلمې په مېنځ کښې هم هر چېرته راځي او اواز به ئې هم دغه مخصوص وي ۔که د تکي په مېنځ کښې راځي ۔نو هغه لکه: خېر ، تېر ، ګېر ، شمېر ، څېر وغېره ۔ولې که په اخر کښې راځي نو اکثر صفاتي نوم هم سازوي ۔دا هم يوه اهمه

(c) ketabton.com: The Digital Library


خبره ده چې هر کله په اخر کښې د فعل یا اسم سره راشي نو خامخا په د تانیث علامت وي - که په صفاتي اسم کښې راشي نو د مؤنث صفاتي اسم سره به وي لکه سړې ، ښې ، اوږدې وغیره - دا جمع مؤنث اسمونه دي - قاعده دا شان ده چې واحد مؤنث اسم چې په اخر کښې ئې ،، ه ،، راځي - د هغې د جمع په اخر کښې به یائې مخصوص راځي لکه اوږده ، اوږدې - اوږه ، اوږې - ښه ، ښې - سړه ، سړې - تبره ، تبرې - پټه ، پټې - څرګنده ، څرګندې وغیره -

ددې نه سېوا په نورو ډېرو ټکیو کښې هم دا مخصوصه ،،ې،، راتلې شي او راځي - که اسم نه هم وي - حرف وي یا حرف جار وي - دا هر چېرته د مخصوص اواز دپاره راتلې شي - لکه داسې ، ولې ، چې ، چېرې - ددې ،، ې ،، یو خصوصي اهمیت دا هم دے چې د نوې املا نه وړاندې به چونکې اکثر دا نه شوه لیکلې نو د کلمې په مفهوم کښې به اکثر مشکل پېښېدو یعنې مخصوصه ،، ې ،، به هم اکثر په مجهوله ،، ے ،، لیکلې شوه - په کلمه کښې به اکثر د تذکیر و تانیث د فرق مشکل پیدا کېدو - ددې ،، ې ،، په راتلو دا ګراني ختمه شوه او د ګرائمر په قاعدو جوړولو کښې هم اساني راغله - په لنډو ټکیو کښې که مونږ د ،، ی ،، ګانو فرق ښکاره کوؤ نو هغه به داسې وي -

مثال - سړے سړې اوبه ښني - په سړے کښې مجهوله ،، ے ،، ده چې د مذکر اسم علامت دے - سړې اوبه کښې مخصوصه ،، ې ،، چې مؤنث ده - او ښني کښې معروفه ،،ي ،، چې لاندې دوه ځنګ په ځنګ ټکي لري -

(c) ketabton.com: The Digital Library



که په غور اوکتے شي نو د درې واړو يې ګانو فرق په کښې واضح دے ۔ځنګه چې ذکر اوشو چې هر هغه اسم چې مؤنث وي د هغې جمع کښې به د تانيث د علامت به طور دا ,,ې،، راځي ۔لکه مېخانه ، مېکده ، کتبه ، حجره وغيره چې جمع شي نو مېخانې، مېکدې ، کتبې ، حجرې به شي۔

دلته دا خبره هم زياتول پکار دي چې په پښتو کښې اګرچې اوس ,,ه ،، د تانيث مخصوص علامت نۀ دے ولې بيا هم په خپل ترکيب کښې هر واحد مؤنث اسم به په اخر کښې دا ,,ه ،، لري او چې په کوم اسم کښې دا ,,ه ،، وي ۔د هغې د جمع په وخت کښې به يائې مخصوص لګي او دا رنګه يا يې مخصوص تر ډېره حده د تانيث هم علامت دے۔

هم په دغه فېصله کښې يوه خبره بله د مجهولې ,,ے،، په حقله هم ده او هغه صرف دومره ده چې مجهوله ,,ے،، چې هر کله د کلمې په مېنځ کښې راځي هغه بــه هم د مخصوصې ,,ۍ '' په شان په لاندې باندې تکيو ليکلے کېږي ۔يعنې يواځې د کلمې په مېنځ کښې به مونږه د شکل په لحاظ چې د Voval واول ( اعرابو ) کار کوي او تکي يا توري سره ځپلو کښې جوړوي به يواځې په ,,ۍ ،، دغه رنګ ليکو ۔اوازونه به ئې جدا جدا هم کېدے شي ۔چرته چې د کلمې په مېنځ کښې معروفه ,,ي ،، راځي ۔هلته به لاندې دوه ځنګ په ځنګ تکي لګولے شي ۔يعنې داسې ۍ مجهوله او مخصوصه ې به د کلمې په مېنځ کښې په لاندې باندې تکيو ليکلے شي۔

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اوومه فیصله :-

د معروفې ,, ي ،، دپاره به دوه ثنګ په ثنګ ټکي ,,ي،، لیکلې شي . لکه سړي ، زمري وغیره .

دا فیصله د معروفې ,, ي ،، د نوي شکل په باب له ده . ددې فیصلې نه وړاندې به معروفه ,, ي ،، هم داسې غوندې ,,ی،، لیکلې شوه . د نوې فیصلې مطابق به معروفه ,, ي ،، هر کله چې د کلمې په اخر کښې راځي . لاندې به پراته دوه ثنګ په ثنګ ټکي لګولې شي . یعنې داسې ,,ي،، دا معروفه ,, ي ،، هسې هم ډېره زیاته استعمالېږي . واحد ، جمع ، فعل هر څۀ کښې راتلې شي خو اکثر د اسمونو د جمع په وخت کښې په اخر کښې راځي او یو مخصوص علامت یا قاعده هم په دغه لړ کښې داسې ده چې هر چېرته د مذکر واحد اسم چې اخر کښې ئې مجهوله ,,ے،، راځي . د هغې د جمع په حالت کښې به دامعروفه ي اکثرراځي لکه نرے = نري ، سړے = سړي ، زمرے = زمري غاښے = غاښي ، لوښے = لوښي وغېره .

ددې نه سېوا په نورو کلمو کښې هم راځي . اوس دا فیصله اوشوه چې څۀ ته معروفه ,, ي ،، وائي د هغې شکل به داسې وي -,,ي ،،

## اتمه فیصله :-

یائې تانیث ,, ۍ ،، به په اخر کښې د کش سره لیکلې شي . لکه کرسۍ ، جینۍ وغېره .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ,,ی،، چې د عامې غونډې ,,ی،، شکل دے ـ خو په اخر کښې ورته يو لکی، شانې يعنې کش لګولے شي ـ ,,ی،، او په دغه کش سره دا د يائې تانيث شکل دے دا خالص د تانيث علامت دے ـ ددې په اخر کښې دا کش ډيره اسانې پيدا کوي او په اسانه پيژندلے او ليکلے شي ـ

په پښتو کښې هر هغه اسم چې مؤنث وي او په اخر کښې دا ,,ی،، راځي نو د کش په سبب به پيژندے شي ـ ددې رواج هم د پخوا راسې ؤ خو په انتشار کښې وؤ ـ چا به ليکله او چا نه ـ ډير خيال به ئې نۀ شۀ ساتلے ـ د مؤنث دداسې قسمه اواز کوم چې په جينی، کرسی کښې دے هلته به د ی دپاسه همزه لګولے کيدۀ او مشکل به ترې پيدا کيدۀ ـ اوس د کش ,,ی،، د مؤنث اسم يو مخصوص علامت اوښاکلے شو ـ

د مثال په ډول ، کرسی ، جينی ، نواکی ، سلګی ، چپلی ، څپلی ، کراچی ، پنډی ، لولی ، پولی ، جولی وغيره ـ

په دې کښې دا خبره هم د غور وړ ده چې داسې قسمه ځينې مؤنث اسمونه د جمع په حالت کښې هم راځي ـ لکه خانی تربورولی، ښادی وغيره ـ خو دا د جمع او واحد کله کله يو رنګ هم لري ـ لکه سپی ، سيلی ، کرسی ،والی ، تتکی ، تنکی ، نالی ، کولی ، جالی ، ښالی وغيره ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نهمه فیصله :-

د فعل دپاره به د مخکښې غوندې د ,, ی ،، دپاسه ,,ء ،، لیکو لکه اوخورئ ، اوکړئ وغیره -

ددې مطلب دا دے چې موږ سره په یو لحاظ دا ,,ی،، زیاته شوه - یعني د ,,ی ،، دپاسه به همزه یواځې په هغه صورت کښې لګوؤ چې د فعل دپاره استعمالیږي - لکه ډوډۍ اوخورئ - د خوړلو نه اوخورئ ، وړئ ، لرئ ، کوئ ، ساتئ ، راځئ -

د فعل امر یا فعل د نورو حالتونو نه سېوا هم ددې ,,ئ،، استعمال په پښتو کښې شته - ,, ته تلے وې ،، جمع ,,تاسو تلي وئ،، چې دا هم د کېدلو نه د فعل یو حالت دے -

د ,,ی ،، دپاسه همزه د خپل اوازپه مناسبت لګي - ځئ، کوئ ، خورئ وغیره کښې چې کوم اواز د ,, ی ،، دے هم ددې دپاره دا تخصیص شوے دے - دې نه علاوه ,, تاسو څوک یئ،، په دې کښې هم د دویمې ی دپاسه ,, ء ،، دے - واحد ,,ئې،، داسې دے - چې تهٔ څوک ئې - او بیا د یائې مخصوص دا قسمه اوازونه چې د جمعې حالت ته راځي نو د ,, ی ،، دپاسه به همزه لګي -

## لسمه فیصله

په ضمیر متصل او ,, ئې ،، کښې به په ,,ی،، باندې همزه لیکلے شي او مخصوصه ,, ې ،، به لیکلے شي - او یا به ,,ی،، لیکلے شي لکه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



یئ کنبې به یوه ,,ی ،، او دوېمه ,,ی ،، باندې
همزه لیکلے شي.

ددې مطلب دا دے چې ضمیر متصل دپاره چې د ,,ی،، کوم اواز دے. هغه به د همزه په ئ او یائې مخصوص یو ځاے لیکلے شي. لکه ,, فلانے ئې راوستو ،، ,, هغه ئې بنکل کړو ،، میاں صاحب ئې مشر کړو ،، وغېره.

په دې فېصله کنبې دې خبرې سره هم اتفاق اوشو چې که ځوک هم دغه ئې داسې لیکي ,, یې ،، نو هم خبر دے. او لکه چې وړاندې ذکر اوشو د جمع په حالت کنبې چې کوم د دوه یې ګانو استعمال دے. هغې کنبې به وړومبې ,, ي ،، یائې معروف او په دوېمه همزه لګي ,, یئ ،،

## یوولسمه فېصله :-

په داسې ,, ه ،، کنبې به لکه زړهٔ ، بنهٔ ، بهٔ ، تهٔ د
مخکنبې په شان د ,, ه ،، دپاسه ,, ء ،، لیکو.

یعنې زړهٔ ، بنهٔ ، څهٔ کنبې به د ,, ه ،، دپاسه ,,ء ،، وي -په افغانستان او سوبلي پبنتونخوا کنبې به هم دغه رنګ لیکلے شي.

دا یوه اهمه فېصله ده ځکه چې د افغانستان او سوبلي
پبنتونخوا پرې هم اتفاق راغے.

دا هسې خو د ,, ه ،، یو سخت یا لنډ شان اواز دے. خو تر ډېره حده د مذکر علامت هم دے . اګرچې د ,,ه،، دپاسه ,,ء ،، خالص د تذکیر د علامت توګه نهٔ دے خو نور تول هغه اسمونه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



صفاتي اسمونه او کلمې به خامخا مذکر وي چې د ,,ه،، دپاسه همزه لري ـ د ,,ه ،، په باره کښې وړاندې فېصله کښې دا خبره شوې وه چې دا به اوس د مؤنث مخصوص علامت نهٔ وي خو بيا هم تر ډېره حده دا د مؤنث اسم جوړولو يوه قاعده ده ـ په عام يا ساده رنګ کښې ,,ه ،، که راځي نو د مؤنث دپاره ډېره يا اکثر راځي او چې دپاسه پرې ,,ء ،، وي نو داسې اسم يا کلمه اکثر مذکر وي ـ لکه

| | | | |
|---|---|---|---|
| ښه | (مؤنث) | ښهٔ | (مذکر) |
| د وړه | (مؤنث) | جمع وړې د ے | |
| د وړکي | (مذکر) | جمع واړهٔ | |
| پښتنه | (مؤنث) | جمع پښتنې | |
| پښتون | (مذکر) | جمع پښتانهٔ | |

خو دا باقاعده قاعده نهٔ ده ـ تر څهٔ حده ده ځکه چې د ,,ه،، دپاسه ,, همزه ،، د خپل مخصوص لنډ اواز دپاره لګي ـ د تذکير و تانيث د مسئلې نه سېوا هم ډېرې زياتې کلمې هغه دي چې مذکر مؤنث نهٔ دي ـ خو د ,,ه ،، دپاسه پرې همزه لګي لکه تهٔ ، څهٔ ، ښهٔ ، پهٔ ، وغېره ـ

دې کښې تهٔ د تخاطب داسې کلمه ده چې د مؤنث او مذکر دواړو دپاره راځي ـ

اوبهٔ ځان ته اواز د ے او مؤنث جمع ده خو د اواز له رويه پرې ,,ء ،، لګي څهٔ کښې د خپل اواز له مخه راځي ـ زړهٔ ، ترهٔ کښې هم د ے ـ خو بيا هم د اکثر مذکر اسمونه چې جمع شي نو دا اواز ورکوي لکه د سُور نه سرهٔ ، پروت نه پراتهٔ ، د زوړ نه زاړهٔ ، پښتون نه پښتانهٔ ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې نه سېوا ځینې مخصوص د پښتو هغه اسمونه دي چې دا اواز لري لکه راغۀ . وابۀ.

د مصدر ځینې شکلونه هم داسې بدلولے شي . د تلل نه تلۀ. وتل نه واتۀ . وهل نه واهۀ . کتل نه کاتۀ . چې مصدري اسم ته راجع دي نو پښتو کښې ددې ,, ه ،، چې ,, ء ،، وربانديې وي خپل مخصوص اواز دے او په اسمونو کښې فعلونو کښې هر چېرته چې دغه اواز وي که مذکر وي او که مؤنث په دغه رنګ به لیکلے شي.

په سوېلي پښتونخوا کښې او افغانستان کښې ددې فیصلو نه وړاندې د ,, ء ،، د لیکلو دا رواج عام نۀ وۀ . اوس هغوي هم ددې پابند دي چې هم داسې به ئې لیکي.

## دولسمه فیصله :-

,, ګ ،، به په کونډه لیکلے شي

په قطبي پښتونخوا کښې خو د پخوا راسې ,,ګ،، په کونډه لیکلے شو . ولې په افغانستان کښې به د فارسۍ ,,ګ،، په شان لیکلے کېدۀ . نو هر کله چې د فارسۍ او هندۍ ټول داسې توري مونږ په کونډه لیکو لکه : ټ ټ ـ ډ ډ ـ ړ ړ وغېره . نو یو په کښې ,,ګ ،، هم دے . اوس به دا په پښتو هر چېرته په کونډه لیکلے شي، هم افغانستان او هم سوېلي پښتونخوا کښې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دیارلسمه فیصله

کښېږي، کښېښناستل، نخښنه . بخښنل او داسې
نور ټکي به هم دغه رنګ لیکلي شي -

دا هم متفقه فیصله ده - ,, کښېږي ،، چې خټک او ځینې نور قبائل ورته کشې وائي -داسې د خټکو او نورو ځینو قبیلو هغه کلمې چې په ,, ش ،، لیکلي او وئیلې شي -او په ځینې نورو لهجو کښې د دغه ,,ش ،، اواز په ,,خ ،، ویستلي شي -نو دا یوه زړه پخوانۍ فیصله ده چې د ,,ش ،، او ,,خ ،، فرق دپاره به د پښتو مخصوص توری ,,ښ ،، لیکو - ,,ښ ،، د پښتو د ځینو قبیلو یو مخصوص اواز هم دی -چې اکثر ئې د غرۀ مومند وائي -خو د خټک او یوسفزی لهجې یا د Soft او Hard لهجې تر مېنځه چې د ش او خ کوم اختلاف دی ، د هغې د اتفاق راوستو دپاره به دا ,,ښ،، هلته لیکلي شي -چې یو خوا ,,ش،، وي او بل خوا ,,خ،، وي .کوم کلمات چې د نرمې لهجې خلق په ,,ش ،، ادا کوي او هم دغه کلمې د نورو قبیلو په لهجو کښې په ,,خ ،، ادا کېږي نو داسې به نۀ وي چې د چا خنګه خوښه وي یا څنګه ئې وائي هغسې دې لیکي -داسې کلمې به نۀ په ش لیکلي شي او نۀ په ,,خ ،، بلکې دا به په ,,ښ،، لیکلي کېږي -

د مثال په طور کښېږي کښېښناستل . نخښنه ، غوښنه ، غوښتل ، وغېره د نرمې لهجې خلق کشي ، کشېناستل ، نخشه ، غوشه او غوشتل وائي -او د نورو قبیلو خلق ئې کې کېناستل ، نخه . غوخه او غوختل وائي -داسې نو بلا کلمې دي چې دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



اختلاف لري خو ددې دپاره به د ,, ښ،، دا دريمګړے حرف استعماليږي او دواړه لهجې به ئې وئيلے شي -

ددې نه وړاندې په کابل افغانستان کښې اوس اوس دا رواج شروع شوے وۀ - چې ,, کښې ،، به ئې کې ليکله - او داسې نورې د ښ کلمې به ئې نظر انداز کولې - هغوي هم اوس ددې پابند شول او هغه رنګه به ئې ليکي څنګه چې دلته ليکلے کېږي -

## څوارلسمه فېصله

''معدوله واو به د ټکيو نه نۀ شي غورزولے لکه

خولۀ ، خواړۀ، ګونه ، غوندې وغېره ''

ددې فېصلې نه وړاندې د داسې ټکيو پحقله پښتو املا کښې انتشار وۀ - چې د چا به څنګه خوښه وه هغسې به ئې ليکله - معدوله واو هغې ,, واو ،، ته وائي چې په ليکلو کښې راځي خو په وينا کښې نۀ راځي -لکه تنخوا ، خوا مخوا ، زکوٰة ، خولۀ ، خواړۀ، غوندې او د ځينې پښتو لهجو کښې لوستل وغېره - په اواز کښې يا وينا کښې عام طور دا ټکي داسې راځي - تنخا ،خامخا ، زکات ، خلۀ ، خاړۀ ، غندې ، لُستل وغېره - نو هر کله چې د وينا سره سره د ټکي د ليکلو هم خپل يو معنوي شناخت وي -ددې نه سېوا ادائيګي ئې هم په بېلو بېلو لهجو کښې جدا جدا وي نو دا فېصله اوشوه چې معدوله واو به په ليکلو کښې خوا مخوا ليکلے شي او د کلمې نه به غورزولے نۀ شي -

(c) ketabton.com: The Digital Library


په دې کښې يوه اهمه خبره دا ده چې معدوله يوائې د ,,و،، دپاره اکثر راغلې اصطلاح ده - په عربۍ کښې اکثر دا ,,و،، په مخصوصو صورتونو کښې راځي - خو ددې اطلاق د نورو ژبو په ډېرو داسې کلمو کېدے شي چې د تلفظ دغه صورت لري - په وړاندې ذکر شوؤ مثالونو کښې يو مثال مونږ د يوې مخصوصې لهجې ورکړے دے - لُستل - دا په اصل کښې لوستل دے - يعنې په ډېرو لهجو کښې په دې کښې د معدوله ''و'' حېثيت نۀ لري - خو ځينو لهجو کښې شته - او هغوي ئې په پېش تلفظ کوي - دلته ,,و،، په وېنا کښې نۀ راځي او معدوله دے - خو ليکل ئې پکار دي - داسې مثالونه د ځينو نورو توروهم شته چې په وېنا کښې نۀ راځي خو په ليکلو کښې راځي او معنٰى ئې هم هله مکمله شي چې په ليکلو کښې صحيح اوليکلے شي -

## پينځلسمه فيصله

هغه تکي يا کلمې چې د عربۍ او فارسۍ نه د پېش په حالت کښې راغلي دي - په پېش به ليکلے شي - يعنې په خپل رنګ کښې لکه ګل ، بلبل ، هغه پښتو کلمې چې پېش لري هغه به مجهوله ,,و،، ليکلے شي - پوښتنه ، مور ، نور وغيره -

ددې فيصلې په رڼا کښې به يوائې داسې تکي چې د عربۍ او فارسۍ نه د پېش په حالت کښې پښتو ته راغلي دي - هغه به په

(c) ketabton.com: The Digital Library


پېښ لیکلے شي ـ لکه ګُل ، بُلبل د فارسۍ ټکي دي ـ بالکل یا کُل وغیره چې د دغه ژبو ټکي دي هم داسې به لیکلے شي د پښتو چې کوم خپل اصل کلمې دي هغوي کښې به مجهول واو لګولے شي ـ د پښتو مجهول واو په یو لحاظ د پښتو مخصوص واو هم دے ـ یعنې ددې واو چې په پښتو کښې کوم اواز دے هغه یواځې پښتو کښې دے ـ چې د اردو او فارسۍ ,,و،، ددې قسمه واو لړ جدا اواز لري ـ اګرچې ددې واو اواز د پېښ سره نزدې اواز لري خو د پېښ اواز نۀ دے ـ د پښتو د مجهول واو مخصوص اواز دے ـ لکه تور ، نور ، مور ، سور ، خور وغیره کښې دا اواز دے ـ دا که یواځې په پېښ اولیکلے شي هغه به غلط وي ـ لکه د تور په ځاے تُر ، د نور په ځاے نُر ، د مور په ځاے مُر ، د خور په ځاے خُر وغیره ـ دا د مخصوص یا مجهول واو اواز په پوښتنه ، غوښتنه ، ګوته وغیره کښې هم دے او داسې ډېر نور ټکي دي چې دا اواز په کښې راځي ـ دلته دا خبره هم د یاد ساتلو ده چې خالص د پښتو هغه ټکي چې د پېښ سره نزدې اواز لري ـ اکثر بدلولے شي ـ لکه هُم ، دا هم چېرته ام دے ـ یوم هم راځي ـ چې فطري پښتو ده ـ لکه ,,یوه خبره دا هم ده ،، په ځاے وئیلے شي چې ,,یوه خبره دام ده ،، نو په اصل کښې هم په پېښ وئیل پښتو کښې عام نۀ دي ـ بلکې هم زیات وئیلے کېږي ـ یواځې د پېښوري پښتو په لهجه کښې د هندکو په اختلاط په پېښ وئیلے کېږي او دغه مثال د ځینو نورو ټکیو هم دے ـ دې سره دا وضاحت هم ضروري دے چې اکثر ټکي یا کلمې چې د اردو ژبې د اختلاط د وجې ئې د پېښ رواج موندلے دے او کلمې خالصې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتو دي هغه به په خپل اصلي رنګ کښې ليکلے شي -لکه پښتو ، پښتون ، پښتنه وغېره چې ,, پ ،، زور لري - "Pakhto" په پېښوري لهجه کښې په پېش وئيلے شي او په نورو قبيلو کښې چې دغه پېش غلط رواج موندلے دے نو هغوي ئې د خپل فطرت مطابق په مخصوص د پښتو مجهول واو تلفظ کوي -که په غور واورېدے شي نو داسې خلق ورته پوښتون او پوښتو وائي ځکه نو دا خيال ساتل ضروري دي چې دا دې په زور وئيلے او ليکلے شي ، چې ژبه صفا پاتې شي -

## شپاړسمه فېصله :-

معروف واو به د کلمو نه نۀ غورزولے کېږي او دپاسه به پېش ورکولے شي لکه نُور ، سُور وغېره -

دا فېصله واضحه ده ، خو دا ضرورت به وي چې دداسې کلمو لکه نُور ، سُور ، ضرُور کښې به معروف واو وي او واو دپاسه به پېش لګولے شي -چې د مجهول واو نه پرې مختلف ښکاري يعنې په کومه کلمه چې د واو دپاسه پېش رانۀ شي نو غلط فهمي ترې پېدا کېدے شي چې دا جوړ مجهول واو دے او پېش چې پرې دپاسه اولګي نو لازماً به معروف واو وي او اواز به ئې هم د معروف واو وي کوم چې وغېره کښې يا نُور کښې دے -

(c) ketabton.com: The Digital Library


## اوولسمه فیصله :-

د پښتو مخصوص توري ځ ، څ ، ښ ، ږ به هم دغسې لیکلے شي۔

دا اخري فیصله ده او اهمه ده۔ ددې نه وړاندې به اکثر داسې کېده چې ځ ( ځیم ) چې اواز ئې د انګریزي TS سره نزدې دے او پښتو کښې ,, ز ،، ته هم نزدې شانې اواز لري۔ یا د ځینو لهجو خلق ئې نه شي ادا کولے او اکثر هغه کلمې چې د ,,ځ ،، توری لري اکثر ئې لیکي هم په ,, ز ،، او د ,,ځ ،، تلفظ هم د ,, ز ،، په شان کوي۔ یا به په لیکلو کښې تېروتل۔

په اصل کښې ,, ځ ،، د پښتو د یو مخصوص اواز علامت دے۔ د ا ، ب ، ت په ترتیب کښې د ,, ج ،، نه پس راځي۔ د ,, ج ،، او ,, ز ،، تر مېنځه داسې اواز لري۔ چې ژبه پرې د غاښونو سره لګي۔ په پښتو کښې ددې خپل مخصوص اواز دے او اکثر داسې هم شوي دي۔ چې کوم ټکي د فارسي او هندي نه پښتو ته راغلي دي او اصل ئې ,, ج ،، دے د هغې اواز په پښتو کښې د پښتو د مزاج له مخه اکثر په ,,ځ ،، بدل شوے دے یا بدلېږي۔ لکه جنګل نه ځنګل ، جوان نه ځوان ، جائے نه ځاے وغېره۔ خو ددې نه سېوا د پښتو خپل ډېر ټکي هم په دې اواز شته۔ پښتو کښې د ,,ج ،، توری هم د پښتو خپل اواز دے۔ د فارسي هندي یا عربي ډېر ټکي هم خالص په ج وئیلے کېږي او د پښتو خپل کلمات هم په ج شته او داسې ټکي به په ,, ج ،، لیکلے هم شي او وئیلے هم۔ لکه جولا ، جامې ، ( ژامې نا ) ( کېږې ) جمرود ، جمامه وغېره۔

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو د ,,ځ،، خپل مخصوص اواز دے ـ هغه ټکي چې د ,,ځ،، دي هغه به په ,,ځ،، ليکلے شي ـ په ,,ز،، يا ,,ذ،، ليکل به غلط وي ـ چونکې دا ,,ځ،، د ج سره نزدې دے او د پرديو ژبو هغه ټکي چې د ,,ج،، نه پښتو کښې ,,ځ،، شوي دي نو ځکه ئې د حروف تهجي په ترتيب کښې به د ج نه پس ليکلے شي ـ

بله خبره دا ده چې د پښتنو ځينې قبيلې هم په دې کلمو کښې د تلفظ اختلاف لري ـ او د ,,ځ،، تورے د دغه اختلاف تر مېنځه يو اتفاق هم راولي ـ هغه داسې چې د مروتو او ګنډه پور قبيلې چې کوم کلمات په ج ادا کوي هم هغه کلمې د يوسفزيو يا نورو قبيلو خلق په ,,ز،، تلفظ کوي ـ د دې دواړو د اختلاف تر مېنځه د ,,ځ،، تورے دے چې هم ,,ج،، ته نزدې دے او هم ,,ز،، ته خو زيات اهم په دې دے چې داسې کلمې نۀ په ج دي او نۀ په ,,ز،، بلکې په ,,ځ،، دي ـ لکه مروت او ګنډه پور چې جنې، جوان، جنګل وغېره وائي ـ نو د يوسفزيو په اواز کښې زنې، زوان او زنګل وئيلے کېږي ـ حالانکه دا ځنې، ځوان، ځنګل دے او شناخت ئې هم د دواړو دپاره اسان دے او ليکل لوستل ئې هم دواړو ته اسان دي ـ دا د ژبې فرق دے ـ ځلا، ځلان، ځلنده وغېره ـ د پښتو ټکي که د مروتو په ژبه جلا، جلان، جلده راځي يا د نورو قبيلو په ژبه زلا، زلان يا زلنده راځي نو د عيب خبره نۀ ده خو اصل کښې دا ټکي د پښتو د مخصوص اواز په ځ دي ـ او بايد چې په مشق او زدکړه هم دواړه لهجې خپلې هم کړے شي او د ادا کولو طريقه هم خپله کړي ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ,, ځ ،، نه پس بل مخصوص توری ,, څ ،، ځي، دی . دا هم د ځ په شان د پښتو خپل مخصوص اواز دی . چې نه خو ,, چ ،، ده او نه ,, ث ،، یا ,, س ،، . د پښتو خپل ډېر کلمات په دې ,, څ ،، وئیلی شي . خو د ,, ځ ،، په شان د مروتو قبیلې یې نهٔ شي ادا کولی نو د ,, چ ،، په اواز هغه ټکي وائي کوم چې په ,, څ ،، لکه هغوي څهٔ ته چهٔ وائي . څوک ته چوک وغیره او هم دا کلمې د یوسفزیو په لهجه کښې اکثر په س ادا کولی شي چې غالباً ورو ورو ئې د ژبې نه د ,, څ ،، مخصوص اواز هېر کړے دے . لکه څوک ته سوک څهٔ ته سهٔ . څهٔ رنګه ته سهٔ رنګه وغیره وائي . حالانکه دا ,, څ ،، اواز لري . او د پښتنو په اکثریتي قبیلو کښې هم داسې ادا کولے شي .

بله اهمه خبره دا هم ده چې کوم ټکي د فارسی هندی ژبو کښې په ,, چ ،، دي . او هغه پښتو ته راغلي دي . نو اکثر ئې اواز په ,, څ ،، بدل شوے دے لکه چادر ، څادر ، چارپاے ، څاروے ، چپر ، څپر وغیره . نو دا هم د مروتو او د یوسفزیو تر مېنځه د چ او ,, س ،، په اختلاف کښې اتفاق راولي ، چې څادر ، څوک ، څپر وغیره به چادر ، چوک ، چپر هم نهٔ شي وئیلے او لیکلے . داسې به سادر ، سوک ، سپر وغیره هم نهٔ شي لیکلے . دا به د پښتو د خپل شناخت دپاره په ,, څ ،، لیکلے شي چې د پښتو مخصوص توری دے . ولې ورو ورو د ځینو قبیلو د لهجې نه او ړ بدلے دے . باید چې د خپل مخصوص اواز مشق ئې اوکړے شي یا کم نه کم د لیکلو تر حده ئې خیال اوساتلے شي . که تلفظ ئې د خپلې لهجې مطابق هم کوي نو خبر دے .

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل مخصوص توری د ,, ښ ،، دی ـ ددي ذکر وړاندي هم راغلی دی ـ دا هم د پښتو مخصوص اواز دی ـ خو د نرمي او سختي لهجي ترمنځه اختلاف کښي د اتفاق علامت هم دی ـ هغه داسي چي ختېک یا قندهاري لهجه کښي کومي کلمي په ,,ش،، ادا کولی شي هغه کلمي اکثر په یوسفزی لهجه کښي په ,,خ،، وئیلی کېږي ـ نو هر کله چي د یوسفزیو په لهجه کښي ,,ش،، هم شته او ,,خ،، هم او داسي قندهاري یا ختېک لهجه کښي هم ,,ش،، شته او هم ,,خ،، خو اکثر کلمي داسي هم دي چي د یوي لهجي خلق ئي په ش تلفظ کوي او د بلي لهجي اوسېدونکي ئي په ,,خ،، کوي ـ نو داسي کلمي به په ,,ښ،، لیکلی شي ـ چي دواړه لهجي ئي د خپلي لهجي مطابق وئیلی شي ـ لکه پښتو ، پښتون چي پشتو او پختو به نهٔ شي لیکلی بلکي پښتو او پښتون به وي ـ یعني په ,, ښ ،، به وي ـ داسي خهٔ او شهٔ ـ اوخ اُوش ، پشه او پخه ، روشان او روخان وغېره به ښهٔ، اوښ ، پښه ، روښان وي ـ چي دواړه لهجي ئي هم شناخت په اسانه کولی شي او هم لیکلی او وئیلی شي او په لیک کښي به ئي اتفاق او وحدت هم وي ـ

بله د پښتو مخصوص توری ,, ږ ،، دی ـ دا یو ضروري توری دی دا هم د دوؤ لهجو تر مېنځه د اتحاد علامت دی ـ ځکه چي ختېک یا قندهاري لهجه کښي چي کوم کلمات په ,, ژ ،، تلفظ کېږي هغه په یوسفزی لهجه کښي په گ تلفظ کولی شي ـ لکه ژیره ، گیره ، ژمنځ ، گمنز ، ژلی ، گلی ، تیژه ، تیگه وغېره ـ نو ددي لهجو تر مېنځه به داسي ټکي په ,,ږ،، لیکلی شي ـ لکه ږیره ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ږمنځ ، ږلۍ ، تیږه ، وغیره ځکه چې داسې به دواړه لهجې په اسانه د اصل کلمې شناخت کولے شي.

ددې سره دا خبره هم ضروري ده چې ځینې لهجې د ,,ژ،، په ځاے د ,,ج،، اواز هم اوباسي . ,,ج،، پښتو کښې خپل تورے او خپل کلمات ئې دي . داسې د ,,ګ،، هم خپل کلمات دي چې په هره لهجه کښې شته نو یواځې د ژ او ګ تر مېنځه ,,ږ،، ده او د ,,ژ،، خپل اواز هم په هره لهجه کښې شته . هغه کلمې چې په اصل کښې په ,,ژ،، دي او ځینې لهجې ئې په ,,ج،، تلفظ کوي . هغوي به ئې په ج، نهٔ لیکي . ځکه چې داسې به د ټکي او د پښتو خپل شناخت او وحدت ته نقصان رسي . لکه ژبه به ژبه وي جبه لیکل نهٔ دي پکار . ژوند په ,,ژ،، دے . جوند یا جُند لیکل نهٔ دي پکار . وریژې - وریجې لیکل نهٔ دي پکار . ځینې داسې نورې کلمې دي او خالص د پښتو په ,,ژ،، لیکل پکار دي چې ,ژ ، د پښتو خپل مخصوص اواز دے او په یوسفزیو او په خټک قندهارۍ دواړو لهجو کښې شته . که د چا په لهجه کښې ددې ځاے ,ج، هم وي . نو د هغوي شمېر ډېر کم دے . باید چې د پښتو په وحدت پسې لاړ شي . او د لیکلو تر حده کم نه کم دغه کلمې په ,,ژ،، لیکي . او ,,ږ،، به یواځې د دوؤ غټو لهجو د ,,ژ،، او ګ د اختلاف تر مېنځه د اتحاد د علامت په طور لیکلے شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۹۵۵

پښتو اکیډمي پېښور یونیورسټي

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**